www.libtool.com.cn

# لنډیزي

که دې وازې کړې کلې دواره
دروازې زما د کور شوي
ای زما لیمه کړې پټه
کاشکې ستا ځیګرکې اورشوي

---

دا ساقي مولیونی شو
په جامونو تیږې ولي
دخمار یې سره پیغلې
د کوڅو په ګرد خملي

---

د مادیت تمدن خښې کړې په ستورونوکې
لویو ښارونوکې ورکې انسان وربې کړجې
د ښوندله هرقدمه پرېوتل تناک پوتکې
انسانیت دافریقې د ښتوکې تربې کړجې

---

۱۹۷۸ - مې

# لنډیزه

www.libtool.com.cn

چېرته هغسې دلمبوخبرې
اوس چېرته دغه دتیروخبرې
بومې ځئ مروله که ښوند راکړې
وژنې مې دغه دښوندوخبرې

## لنډیزې

ږمونږ ذهنونه تیاره، زړونه وا ړه
دچم کوږونه موله کوږساره
په مونږ دوخت تړول وحشتونه ماره
کله دسرو، کله دتورو خواره
دوی، له ښوندونه، سترې شوی خلک
دسترې فکر په زنځیر تړې
شمله دسرد زاړه، پیر پرېوته
اوس به شمله دنوی پیر تړې
پیرې پښې يې دلرکودی، دتخزپه وارماتېږي
دازنګ شوی زولنې دی، اوس په یوګوزارماتېږي
طوفانونو ساړه راښکلی، دې سیلاب ته لارماتېږي
چې زمانځمونه سرشو، سره سره بادارماتېږي

اګست - ۱۹۷۸

www.libtool.com.cn

# غزل

مونږ څولیږونې د چم سره ونه په کفن تړو
لیږه نه ګوګل ته مونږ کونه د وطـــن تړو

ځځ په شبنمي څاڅکو کې سحرله دې کړو
ستوري په دنده رو، د ګلونو د چـــمن تړو

وغښته سولې مو، ستا د څنو د تارونو نه
اوس په دې سـولې، د استبداد تیرو له تن تړو

داغ په هـره تیږه د وطن د شهید وینې دي
ځکه د کفن په لمن تیږې د وطن تـــــړو

اخلو د پریشانو څپو تار د قام له کوندو نه
خیژو، د سبا سترګه، په هسک د خپل چمن تـــړو

۱۹۷۸ - اګست

www.libtool.com.cn

# غزل

زما هره سا، لمبه ده، زما هر قدم ترهسکه
لمدو سترګو کې هسک ښکاري دلیمه دا نم ترهسکه

په قلم کوتو مې جوړ کړو، ستا هلال د تورو وروځو
دا هلال ترهسکه رسي، رسی دا قلم ترهسکه

د سالو پیڅکې خواره شو د آسمان تر پیڅکو رسي
لیونۍ! سالو دې خوړکه، لکه خور حرم ترهسکه

چې په اور مو د لمنو کړېوانونه سره لمبه کــــړه
ای سرتورو ښنکه رسی، نن زمونږه غم ترهسکه

ګلرخان پکې مېشته دی، خیرکه دیدې آسماني شـو
چې ترهسکه مې نظر ځي، ځي، صنم، صنم ترهسکه

پېښور- ۱۹۷۸/ ۱۲/ ۱۸

## لنډیزه

داغ د زړګـي ځراغـونه لـــــــرم
زړه کې مې ستا دغم داغونه لــــرم
ما د حرم له تیـرووخُـــم جوړکـړي
په کنډولو کې جنتونه لــــــــــرم

www.libtool.com.cn

# د سهار ګرد

په شړونډو سترګو مې پرېوتو دار ګرد
تخیل اخلي د زلفو د هر تار ګرد

د بنګړو شرنګ له دې سا، د جنون ورکړه
درښندم، د زنځیرونو، د انبار ګرد

ستا سر تورو ښنو ګرد، د کوڅو واخیست
کهکشان ته لارې ورکې کړې د لار ګرد

د کندول خاورې، خرې په میکده کې
د خمار په ځمکه پرېوت د خمار ګرد

داوړې ځل یې تر، تور پېکي رسېږي
خدایزده کومې شپې اخستې د سهار ګرد

پېښور- ۲۲/۱۲/۱۹۷۸

www.libtool.com.cn

# زه سوزم

زه سوزم
د پښنو په څوکو    په ځو ځمکو ولاړ
لاس راوباسم
د ګېنو، ونو، له ږیبنو څانګونه
په تورو، شپو، زه د پرېوتی لمر څوکرې ګورمه
زما تنه تر آسمانونو رسي
سپینه سپوږمۍ، زما د زنې لاندې
لکه ککوړی غونډه، د سپینو زرو
دویلو، او سپېنو، د ستنې لاندې
لکه خور، څاڅکی شبنم، یوګوټ، د ګلو د خولې
پروت د غوټې ډنډرته
د سره زلمي ګلاب دوني لاندې
زما ګوتې سوځي
ګوتې ترستورو وروړم

دغه خوري سپرغۍ په لاس ټولوم

زه سوزم
www.libtool.com.cn

دغه ټوکرې، په پلوشو ګنډمه

زه ورنه لمر جوړوم

دالمر په پرخو، لمبوم

او دالمر

داچې د تورو شپو له ستورو جوړ دی

خورشي ... دو رڅو پلوشو ته اورشي

د سبار کو څوکې، شورشي

د ژوند بازو ته زورشي

سپین قسمتونه سپین شي

تور قسمتونه، تور شي

او - دالمر چې خورشي، د پلوشو په تارکې

پرېوځي، ټس ټس شي، ټوکرې، ټوکرې شي

په ستورو ډکې کړي بلې د آسمان

خورشي، د تورو شپو، په ورکو لارو

د دې لکونو، یو ګو کاروان

زما تنها کې کوټې

چې د نو جنو او بوخرلي داري وکړي

د اداري لاري شي، د سپینو ستورو

ستوری ترلمره راشي

www.libtool.com.cn

لمرته دستورو، تهوتې لار ږې وکړي

نو، چې زه وسوزمه لمر جوړ کړم

او-چې شپه ورسي، تر تاندو څوکو

زه بې لدې څوکو سحر جوړ کړم

دپنجشنبې ماښام - پېښور

۷۹/ ۱/ ۱۸

www.libtool.com.cn

# ټاټه

زما د ژوند خوشحالي — ستا د غمونو جوړې
دا زغوټاندې څوکې — له سرو ګلونو جوړې
دغه خال، خال اوښکې مې — ستا د خیالونو جوړې
زما د خیال خزانې — ستا د خالونو جوړې

+—+

ستا د منګولو دېیوې — زما په داغ رڼې شه
دا بې څراغه کوڅې — پدې څراغ رڼې شه
دوه سترګې دوه پوکه شه — د سپیلنو اشنا ته
دوه لبونې حلال شه — د لېونو اشنا ته

+—+

څانګه د ګل ټیټه کړه — ځواني کې خم راوله
د زړه چینې وسپړه — لیمه له نم راوله
ما ته کړه ملا د زلفو — ساه له مې دم راوله

+—+

کنډولي مات پر بېږ دوه　　مخ دې په خُم کې ګوره
داتکې تکې مینه　　د خپښتن نوم کې ګوره

www.libtool.com.cn

---

لږ د سکني زلمیتوب　　د یوې ته او رپورې کړه
توردې شم، دې توروته　　په مادې تورپورې کړه

---

داچم سکوت وژلی　　سکوت له ګورجوروم
دزولنو له شوره　　بنګړو له شورجوروم

---

ستا داوږې په خیرو　　درنا تار ترمه
دستم سرې لمبکې　　لمر ته په دار ترمه
دګل رکونه اخلم　　سپرلوله بار ترمه

---

دحق دې تاند زلمي له　　د سالوسیورې ورکړه
لمرېږې له سترګو واخله　　خال کې دې ستورې ورکړه

---

ستورې ککوکې راورم　　خال آئینه کړه ورته
شمشاد له زره ورکوم　　خیبر سینه کړه ورته
خېژم دعرش څوکوته　　پامیر زینه کړه ورته

---

او ما بنا مې و ېښېته . . .
او دا خبرې . . .

www.libtool.com.cn

ګرمې پر له پسې نرې .
دا خوت د پسرلي له دمه
آخر حيراني بوره ی و پوښتلو :
«ځوانه ! ته څوک يې ؟؟
چې دې خبرې . . .
د زړه تکور شي
د لاهوتي سندرو . . .
دا غبرګ تالونه . . .
تا پوره کړي . . .
ته دا تال غبرګ کړه !
د فکر اوجه !
د نمر په څېر و
دې راپرېوتي خيال له تال غبرګ که
نو - څوک يې ؟ ځوانه ته څوک يې ؟»
د ځوان په شونډو کې نښتې موسکا . . .
لکه تنکۍ د ګل نښتې کونګې
غږې يې پورته بانه يې ځوړند . . .
لکه تارونه . . .

د غرونو سرته خیژم په سره مې غرماتوم
ستړکې کلوکې راکه پردې نظرماتوم
څم د نیلم د ګربت له څالو بیا الوځم
د مادیت د تیوس زرین وزرماتوم

پېښور – ۱۹۷۹/۲/۵

## لنډیزه

وارکوه هر اندام لړکې اخلي
داپاکې تنده ې ستاغرګې اخلي
د افغاني پېغلې حیا د پاره
افغان پخپل تتر مړکې اخلي
ستا د پردوفکرونو زیلې غوټې
د خوار لرګبه نه تبرګې اخلي

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# غزل

لحظو، خولګی د سرو سپرغو ډکه کړه
نغمو جوره، د سلګو ډکه کړه
زړیې د هیلو دلیتکو نه ډک که
بیا یې کعبه د لېونو ډکه کړه
سپینه لمن یې لېونۍ لالي له
د تورو بنګو د پیالو ډکه کړه
د بار خوشبوړل یې په لیمو چاپېره
لاره یې ټوله داغزو ډکه کړه
زړه او ځیګر یې د سرو وینو ډنډ کړو
ګوټ پیمانه یې د ګلو ډکه کړه

پېښور- ۱۹۷۹/۲/۹

www.libtool.com.cn

# ژوند

دژړا څاڅکي د موسکا روڼ خط
د خاورو زړه کې د ژوندانه پت
ژوند یوه دنګنه د اضطراب ده
رڼا د ورځو د شپو له تاب ده
سپېږې پرېوځي د زړه له درزه
د زړه له درزه، وختونه خوځه

یخ اسویلي یې لوګي د جنګ دي
د لوېشت ګوګلو زګوېتي تنګ دي
داتوردریاب چې د نور حباب دی
د تندې ځل یې د لمر له تاب دی

دا ژوند چې ټول دی ذرې ذرې دی
ځنې یې تار دی، زړه یې پرې دی
هره شېبه یې ماته کړې ده
ځولۍ د ورځو، د شپو شړې ده

دا ړنده لاره ده، چــالیــدلې؟
له کومه راغلـه، په کومه تللې؟
www.libtool.com.cn

له هسکه کوز شو، په لار پرېوتی
څوک پکې پاتې، څوک ورننه وتی

دالاروی دی خدایزده له کومه
سَرَه له شرابو، سارې له خُمه

څو قافلې شوې، له سپرلو پاتې
غونچې یې پاڼې، غوټۍ میراتې

کندولې مات شو، میکده ورانه
لیلا بې پته بل له روانــــه

قضا، بارونیو، رضا یې راوړه
رضا چې راغله، قضا یې راوړه

دا لار، رسېږي له هره ســـره
هم ترجنته، هم تر ســـقره

هر پل په لاره، روان منزل دی
د منزل نخښه څرک د اجــل دی

ښاپې د پل دی، د تنګ تقدیـر دی
په کومه خواځې؟ دادې، تدبیر دی
* * *
څو ند چې وږمه شی سالواوچت کړي
د ګل دوږم، تالو اوچت کــړي

په سا، دمشکو، طوفـان راغـلی
له کوم ختنه کاروان راغلی

www.libtool.com.cn

یوه ساه سره چې ترشمع تللـی
څوک پرې لمبه شي څوک پرې وژلی

وزم داور چې تر دیوې ورشـي
دیوه پرې مره شي محفل پرې زړشي

جنون بې لارې، منصور په دار دی
اشنا داپل هم دژوند په لار دی

ځوند چېرته څاڅکی له سترګو وتی
داله زرګونو، چینو پرېوتی

ګوټ شي دملو دپیالو خوله کې
پرخه شي، توی شي دګل لیمه کې

دسپوږمۍ خېرې دنور ویاله شي
دهسک خالونه خوله خوله شي

سوز دزړه اخلی ځیګر پرې سوزي
لمبې داوښکو، څاڅکو کې خوځي

باران شي څاڅکی په وربـدو شي
دفضا خېرې په خوربـدو شي

جام دشرابو سپوږمۍ رانیسي
سترګې او به شي ګلی رانیسي

ځړوند چې خوله شي تن د مز دو ر کې
په يخو ځاځکو سپرغۍ را نيسي
www.libtool.com.cn
ځاځکي خواره شي، طوفان پيدا شي
جنون چې راشي، جانان پيدا شي
ويلي زړکوټي د وينو دا ره
دا هم يو پل دی د ژوند په لاره

پېښور ـ ۱۹۷۹/۳/۱۶

# څلوريځه

دا آزادي نو ناوې مينه
د شاز لميو په اداګانو
د تندی خال يې له ورايه بريښي
د سينو تورو په رڼاګانو
خو!
څيني يې غواړي په وېناګانو
څيني يې غواړي په دعاګانو
ځو ک آزادي هم په چړکې غواړي
له دې يې خدايه سره بلاګانو

سيد جمال الدين نمبر ۵ هاسټل، پېښور پوهنتون
۱۹۸۰/۱۲/۱۰

www.libtool.com.cn

# غزل

نوري راته دا لارې مشکلې شوې
لمر ته نده د ژوند د قدم تللې شوې

ټپي دې سترګې د زړه ژوب ته مې
ښه شوه، چې مې خپلې ځړېکې خپلې شوې

ودې سومه اور دې کړم لمبه دې کړم
تلکه د تورو تیرو غلې شوې

لاس د غوښتو پرې شول لمن خیرې شوه
چا ویل دعاګانې مې منلې شوې

پرېوته مې اوښکه د لمر سترګې ته
سترګې اوس په یخو اوښکو بلې شوې

نیسه د خیر لاس د وربل سیورو ته
د پېرې نذرانې د ښکلو ښکلې شوې

زړه یې په بار خود خنجر خیرې کړو
لپه لپه وینې پکې بلې شوې

۱۹۷۹

# اراده

نه سپوږمۍ وخته نه موږ په پلي
www.libtool.com.cn
نه مو ډیوې له ستورو اور ورکه
توري جونګړې پاتې توری شولې
تشو پیالو تنده وله زور، ورکه

---

زه د تهمت په تروږمو کې ښکیل یم
نه حیا پرېښودې په کور د ننه
نه مو نه زه پاتې شوې دا پرخې او ښکې
د نرګسی سترګو په کور د ننه

---

یو ځل له هسکه خان پرې نه وتل
چا خیرې نکړل د خمار پړونی
ریښې ریښې شو ترې ترمې لاړل
په شنو ازغو د ګل د تار پړونی

---

نو - مراندې مې لنډې د سلګو راکاږه
اوس راته سترګې څه بې نمه ښکاري
مړې کړه ډیوې، په اور او به پوه نه کړه
ماته دا اور د بل له دمه ښکاري

پېښور پوهنتون - ۱/٤/۱۹۷۹

www.libtool.com.cn

# سپین غر

داد دې خاورې پاسبان دی، چې د هسک تر سره پلن دی
ته وی زوی د ځمکې ایښی دا یې په سینه لاس دی

د نښترو څرې د ننګې، د زمرد و لمبګی دی
تورو سمځوته یې تېرې، د فولادو تمبګی دی

چې شمله د شاه زلمو یې د آسمان په سالو سروړې
لمبګی یې د لمنو، سپینو ستوروکې وزرووړې

هره تېږه یې برېښناورې، هره تېږه یې خیبر دی
دا سپین غر زمونږ لېمه دی، په دې غر د خدای نظر دی

د هسک ټول ستوري یې مات کړه، د سوما خمان یې لوټ کړه
ګوټ د ملو یې لیمه کړه، شرابې لیمه یې ګوټ کړه

پوک ورېمه یې د پلووه په سر تورو ستورو بار شوه
د درځې دوت لمبې ته د لمر ګومه ستر ګه لار شوه

www.libtool.com.cn

چې تخرګ د سحر ډک کړي، دا کاروان د آښیو دی
اننګې یې د ګلونو، سور پرهر مو د سینو دی

چې سکښي ماښام سالو وړي غوړېدلو لمبګوله
پټنګان له ستورو، راشي د کوډلو ډیوګوله

که کوم ښاخکې مُل دې ومونډ، دوچ خُم کوګې یې پرو میځه
سمندر د بارانونو، وړې د کورو، وریځو، وینځه

چې د تور، تارو آوازیې، شور د ستورو د کاروان دی
چې په څوکویې راخېژي، دا الم رد کوم آسمان دی

توري تیږي به راېځه کړم، د سحر لیمه به تور شي
که دا تورمو دلمنو د آسمان په ستورو پور شي

چې له ترږه دې راتوی شو، له دې چړه داره نیسم
پر پرېږده لاردی، داوبو شم، خو ستا خوږ ته لاو نیسم

لب، سپین غره شراب راکړه چې تقدیر مې جنتي شي
چې ککې مې پري لمدې شي، چې ځیګر مې پرې ستي شي

نو دا آرزوا و دا زخمونه، دا تېغونه او دا څوکې
ستا لمن کې پېغلې راغلې مړه مو نغاړي په سالوکې

ستا د خونو څراغونه که د خدای په لاسو بل شي
دا ځوانې مو دې په دار شي دا تېږې د پې په تینګ دل شي

پېښور - ۶/۶/۱۹۷۹

www.libtool.com.cn

د تور، ریښم .
چې د نړوغشو...
د کاږه تنه تاوکړي...
او آوازیې، د کوثري کوزو
دستوني کوټ شو...
«مورې! خدای یو دئ
زه د خدای بنده -
خدای له دې ټولو ښکلی...
هغه له دې ټولونه بروکنه...!
او چې ته ترې تښتې مورې!
ما درب هغه پیغمبر وکڼه!»
څاڅکی د تږه واوښکو..
له زړوکسو
په توروخاورو نوتوی شو...
لکه له نیموشپوسحر پرېوتو.
او د بوډۍ په ښوکې
د سلو کالو د ګناه له تنه.
د سل کلنې ګناه سرپرېوتو.

*        *



۱۹۸۱

www.libtool.com.cn

# غزل

ککی مړاوې دخمارکډې پرې باندې
حیاګانې دمستۍ دپښو نه لاندې

تورلوګی شو بلاګانې دخال آخلي
حوصلې دسپیلنو شوې ځومره ټاندې

ګروه چاک کړم ته مخ پټ کړې په خنداشې
ګل پخپله- ته ځما په ګروه خاندې

دګلځو پلو یې اخلمه له مخ نه
قافلې داسوېلو دې ورشې وړاندې

په تناوډ تورو شپو ستورو ته ځېژم
خال یې کورم، زلفې نیسم ، مرا ندې مراندې

پیغلتوب یې په زلموټی شهید خورکه
لو پیټې په کفنونو، اوېزا ندې

پېښور- اشرف روڼ- ۱۹۷۹/ ۱۲/ ۵

www.libtool.com.cn

# په ګلونو کې سا نه راځي

اوس دې په راتلو هم پر هرو نوکې سا نه راځي
راغئ پسرلی خو په ګلونو کې سا نه راځي

ځئ، بڅېلو لېوکي ترې خپلې وینې غوندې کړو
نور، له دغه خم نه په جامونو کې سا نه راځي

دا د جنون مړی بند په بند په سالو وتـــــړه
ده له اوس په ول د کفنونو کې سا نه راځي

ځئ چې د بېلتون د بور جلونو تیږې ونـــړوو
موږ له په نیمګړو دیدنونو کې سا نه راځي

دا چې پرې ژ موږ د زړه دوینو پوره پرېوته
اوس به دې لا څنګه په خالونو کې سا نه راځي

تک وهه د تور پړوني وږم په موږ تک وهه
موږ له د عیسی د ساه د مونو کې سا نه راځي

لمره د دې خونې د چړګې له ایرو پورته شه

دې له په در څو د د یوالونو کې ساه نه راځي

www.libtool.com.cn

ځنګه یې سکنې ځواني په شنو خاورو اړېوته

چاویل چې د خاورو په قبرونو کې ساه نه راځي

ورغره پامیره د آموتل ته راورغــــــره

بې څه خود ځنده و په موجونو کې ساه نه راځي

دازمونږ د یخواسو پلو په سپر غوبله ده

دی د تاخ ډیوې له پاورونو کې ساه نه راځي

سبه شوه چې د مرګ د زندانونو بلې د ننګي شوې

هسې خود ژوند تهیتو بامونو کې ساه نه راځي

ځه! دانیمه مره پښتو پخپل لاس کوزته کوزه کړو

دې له، د غزل په محفلونو کې ساه نه راځي

۲۸/۱/۱۹۸۰

کوزتهکال-پښنور

# د شهید په پرهرونو

www.libtool.com.cn

سپینې توږې دې پرکیږي، د ماښام هلال روښان دی
تسلسل مې د کاروان دی چې د ستورو کهکشان دئ

لدې څوکو چې راخېژي - په لمنو چې خورېږي
مالدګرېکه دخیبرده، بل له تندر د آسمان دئ

شاه زلمو شملې کږې کړې د تقدیر ځمکه به څوځي
د همت په سردروکې تم د شنو سپرلو کاروان دئ

چې د سرو په نیشو مست وو، په شنو کانوکې یې مرګ رو
دغه خاوره د پښتوده، د دې هرکاڼي افغان دئ

د همت بلایې واخلم دا په وینو کې ډیوې دي
د شهید په پرهرونو، چې د سرو ګلو باران دئ

پام چې ګرېکه ماته نکړې ځما ساه سینې له ورکړه
دا د شنه سمندر ساه ده د څپو تانده طوفان دئ

په شرابو ګلې وینځه، د دې بنګو د تور بوتې
چې بنګي جانان ساقي شو، چې بنګي ساقي جانان دئ

اوس تقدیر لیکه د ستورو، د دې تورو برګو لاندې
چې د سرو دبا دارانو، کوږ مونږ. له زوره وران دئ

۲۸ / ۱ / ۱۹۸۰ - کوزتهکال - پېښور

www.libtool.com.cn

# کرېکه

هله د ملګرو له هره سره رګه او روڼه راوړه
د دې کوڅو خړې دیوې د اور په وینه پالي

هغه بې بامه ورکې د هسک له بلې بیالاندې شو
چې تور وشپو کې دیو څو ستورو په مینه پالي

نو دې لیونولو د رڼو دیوو بازار جوړ وو
ور څو تیرو کې د رڼا قدم له لار جوړ وو

هره ذره دافغاني کوڅو سپرغۍ د غیرت
داهره تیږه د رڼا له کوه طور جوړه ده

تندرته تېښت مه شې قسم، د خودۍ خون به وشي
نبتره پام تانده ځواني دې له غرور جوړه ده

داسوې کرېکې، په دې تورو غرونو لاړې کوي
د شهیدو وینه په کفن د زرو دارې کوي

زما نظر د تورو زهرو خنجرونه لري

خونخور خماره، لړ پرېوتي له نظره راځه

د ملیت مینه مې توره د غزا را خسته

اغیاره دلته که راځې نو بې ځیګره راځه

په مخ د تورو، مو د ځوانو وینو رنګ تازه دئ

د زنځیرونو په کړو، ژامو کې زنګ تازه دئ

دا ستا د سرو ستورو، له سرو اشکو وینه اخلو

د قام د پېغلو د وربل غوټو له نم ورکړو

د ما دیت د لوی فرعون د تېښک شپېلی ماتوو

د خوارمز دورګوتو له څوکې د قلم ورکړو

د سرېتوب شهید له پاک د مینې کورجوړوو

د وینو څاڅکي پې د مرو د پیوګو اوړجوړوو

پېښور پوهنتون - ۱۹۸۰/ ۲/ ۲۲

www.libtool.com.cn

# لنډۍ

داچې دلاس په تپا وېزي مري
ورله په تشو چيغو کورجوړوي
دوی اندامونه په کفن پټوي
کورد اولس کې ځانله کورجوړوي

مزدوره ستاد کارد ګرموخولو
په سپين تندي کې روڼ سبا ښکاري
سوی تيرې يې تورولې نشي
رڼا تيروته هم رڼا ښکاري

سکڼې لوګي له سروليو پورته شو
چترشو، اورشونه وته ځنګ دځمکو
زلفې په توروزړولنوخورې کړه
زنګ زنځيرونه اخلي رنګ دځمکو

پېښور کوزتهکال ۱۹۸۰/۳/۲۲

# یوراز

www.libtool.com.cn

ډیوې د سپینو ستورو دی که ستړکه د سبا ده
همت ته خوله شوی د تنکی شباب حیا ده
آئینه د سهر سپینه شوه د تورې شپې له توره
په پرخه د سبا سترګه راپرېوته نسکوره
ډیوې د نور جوړ په راوړه له شپې نه تر سهاره
رازونه شو ننه وکړیکه کړه د سترګو له اظهاره
دغږ مراندې اوږدې شولې د څمکې سینه لنده
تیاره، په ستنه راغله درانه سهار له څنده
آواز په خاموشیو کې تر ډېرو لرو خور شو
د شنو خازو په ترو کې له یوه آوازه شور شو
ډیوه د خازی تته شوه، د برېښ د څل له زوره
آواز به راختلو د زلمی شهید له کوره
ویل یې چې غیرت څوانو ګرونو کې په جوش شي
همدغه د مړ شوو اندو ملتونو ښوند کې هوش شي
ښیښتن چې د نور لیکې، په رڼو څیرو لیکي
تقدیر د ملتونو په تیرو تورو لیکي

پېښور، کوز تهکال-۱۹۸۰/ ٤ / ۱۲

www.libtool.com.cn

# وطن

وطن - وطن - وطن
ځمونږ د حیا تـــن

ځمونږ، د مینې کــور دی
ځمونږ د شهید کور دی

ځمونږ د ژوند وږن نښنه
د مرګ ځیګرکې خښنه

* * *

ستاغیږ ځمونږ ټولنه
د ژوند د پټ پالنـــــــه

ستارګ په مونږ ځروب دی
دااوج د لېونتوب دی ځ

مونږ غوارولہ تا مینــه
ته غواړې زمونږ و ینــه

ځمونږ و ینه ستا مینـه
ستا مینه زمونږ و یـنـه

* * *

ږګونه ډک د وینې    سینې ډکې د مینې
په یو بل، کې خورې شوې    دا مینې او دا وینې
نور ږګونه خدای پرې مه کړه    د دا سې پاکې وینې
چې سترګې تیتې نه شي    د دې پښتنې مینې

* * *

زمونږ د څپښتن کوره
زمونږ د شهید کوره
د لمر سترګې برېښېږي
د دې کاله د او ره

دا غونه آئینې شوې
چې خیرې مو سینې شوې
د وینو داغ ته ناست یو
دې خپل څراغ ته ناست یو

* * *

په خاوروکې دې پایو
هم دا خاورې دې ستایو

د وینو داغ ځلیږي، د تیږ وله تور تنده
داوینې مو د تن دي زمونږ د تن وطنه
غاټول دې شرابي شو، رضا ده او که زور دی
خیبر دې د هسک بام دی شمشاد په ستورو سور دی

پښور یونیورسټی- ۱۹۸۰/ ٤/ ۲۸



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# تلې او ـ راتلې

موسکا چې د حیا پردو کې غلې پټېدله
لیمو کې د ښراو سنکو قافلې تلې اوراتلې

مړښ واندی غوندې ساه به دړوند و غبرکې میشته شوه
ورېې چې به دې زلفوکې خورې تلې اوراتلې

کږوغوندې کتودې امیدونه راڅوندې کړه
ستم کې هم دمینې ولولې تلې او راتلې

په هره اشاره کې د بانړو دې غلې غلې
ځما د لیوني خیال سلسلې تلې اوراتلې

شرنګا ستا دوالو کې انګازې به شولې جوړې
دا ځکه خو جنت کې زلزلې تلې او راتلې

د زلفو په تیرو کې به دې غلې ورکېدلې
سپوږمۍ به نه چې تروږې پلوشې تلې او راتلې

ستا شونډو کې نغمه وه زما آه تروږتروږ و
دنیا دا سویلو کې هم نغمې تلې اوراتلې

ښتو به دې ماشوم حسن کې غلې ځلېدله
د ستورو په جرګه کې مالیدې تلې اوراتلې

ام ټولګی حبیبیه کابل

www.libtool.com.cn

# دا لاړې مشکلې شوې

نورې راته دا لاړې مشکلې شوې
لړزنده ږووند د قدم تلې شوې

نه رپي، دې سترګې، د زړه خوب ته مې
ښه شوه چې مې خپلې څرکې خپلې شوې

ودې سومه، او ور دې کړم لمبه دې کړم
ته لکه د تورو تیرو غلې شوې

لاس د سوال جدا شو لمن څیرې شوه
چاویل دعاګانې مې منلې شوې!

پرېوتې مې او ښکه د لمر سترګې ته
سترګې اوس پرېږو او ښکو بلې شوې

نیسه د خیر لاس دوربل سیوری ته
ډېرې نذرانې د ښکلو ښکلې شوې

زړه یې په بار خود خنجر څیرې کړو
لیپې، لیپې وینې پکې بلې شوې

پېښور پوهنتون- ۱۹۸۰/ ۵ / ۱۹

# دلبونو او ښکو بهیر

www.libtool.com.cn

دې ستاککو ته یې ککۍ نیسم
ستوروته نیسمه سینې د ستورو
ځیګر پرې باسمه د او ښکو تل ته
ګوګل ته نیسم آئینې د ستورو

---

زړه مې راډک شي تر لیمه راشي
دا ډک لیمه مې ښخېدل غواړي
او ښکو له راوړه د پرهونی پیښکې
ستورې تر هسکه درختل غواړي

---

د سره سالوله تاره بند جوړ کړه
دلبونو، او ښکو بهیر تړه
د زلفو خیال دې زنځیرونه پرې کړل
او س مې د زلفو په زنځیر تړه

---

**یوبیستوی:-**

دا خړ غرونه راتوې کړه، په دې سپین ښاځکې شبنم کې
دا ستورې راتربل کړه، په دې توره شپه د غم کې

پېښور پوهنتون-۱۹۸۰/ ۵/ ۲۲

www.libtool.com.cn

# غزل

قبا د ژوند د شیبو تنکه شوله
ځئ چې د ور ځو کرېوانونه شلوو
تنکي شوې لېچې ځولۍ څیرې نه شي
اوس به د خپل ځیګر زخمونه شلوو
د ګل موسکا کې زمونږ وینه نښته
په شنواز غوږې سره رګونه شلوو
چې د ژوند و خوبند و سره ټپ کړو
ورله د ورونو کفنونه شلوو
دوی د افغان د بچو کور ورانوي
ځئ چې د دوی د پلار قبرونه شلوو

مردان - ۱۹۸۰/۵/۲۲

# غزل

www.libtool.com.cn

وینه مې درکړه د زړه له تله　　لاره دې نیسه زما له پله
دخم د ځړو خاورو يې وشنه　　هغه چې غواړې دخُم له مُلَه
ايرې مې پوکړې له سرو سکروټو　　که اور ترې اخلې دستورو ځله
د شهیدانو وینې ځلیږي　　دقام په لارو، له هره پلَه
مونږ به اوس تلو، ډیوو کې سيزو　　ته به يې څنګ ورې؟ د ډیوو غله
لدې ازغنو څړیکو يې واخله　　موسکا د زخم د ښانګي ګله
ځئ چې بې کورو خلکو له جوړ کړو　　سل زره کوره، له یو محله
د آزادیو، مرې را پرېووت　　د سرو چیلونو له تور بوږ جله
کفن ترې پرې د حق شهید له　　تارونه ورکړه، له تور وړ بله
چېرته يو کوټ کې لمبه شوه بله
څو مره شوه کوره، د تيرو د لـه

پېښور پوهنتون کېمپ - ۱۹۸۰/ ۵/ ۲٤

## لنډيزه

ځوانی مرګ د جنون یا ده　　دژوندو خونه په تا ښاده
ستاله خاورو يې زره جوړ دی　　ستاله ګرده پکې سا ده

## لنډيزه

چې راځي په خپله غاړه اوږې راوړه　　دې شهيدله په ماښام ډيوکې راوړه!
چې دعرش نظر يې لار کې په تيندک شي　　دکربت وزر له هغه بلې راوړه!

کوز تهکال - ۱۹۷۸

# شهید ته

www.libtool.com.cn

دادطوردراپریوتولمبوځل دی
دزردشت دنغرواوریکې بل دی
داولس تقدیر، ددې ورغوو تل دی
دآسمان ستوري، دده دلارو پل دی

دا شهید، دوبوو، تږو لیښستنو دی
دادخدای شهید، شهید مې دپښتو دی

له هدوونو یې وطن له مې تن ورکړه
داولس تن له، له ده نه وطن ورکړه
دهېواد، دلوښو پټ سرتوري مه شه
ځوان شهیده، یو ځیګ دکفن ورکړه

دمیوند دملالی مېرنې ورورو
خدای درکوري، سترګې پورته کړه ورکوره

تورسکوت دفولادي توروشرنګ غواړي
دوی دتورو، دبچورونه جنګ غواړي
زورهېوادله موځوانانوویني ورکړې
اوس به پورترې سره کلونه درنګ غواړي

مېرنې دی چې ښکاریږي په لښکر کې
اوس به بلې دیوې راوري په پرهرکې

نوی کلی- شاهپور- سوات دواړه اختر ورځ ۱۹۸۰

www.libtool.com.cn

# پرېشاني

دافکر پرېشانه ، دالفاظ غوټې بندې
پلو دسحر نسیم د ما ښام له تورې کندې
په یوه موټي دستر رود رڼا کاروان بې ځانه
لمبه پورته کې پرېوت د تودو غرمو له شانه
وختونه ډ لې ډ لې ، تښتي شونډو لنو ته
د شپو تورې څوکې یې لوګي کړه سپیلنو ته
آسمان په شمکه پرېوتو ، د سره وشرابو تاکه
دوی واک د خندا واخیست د پرهر سینو لمبو چاکه

پېښور ، یونیورسټي هاسټل نمبر ۵
۱۹۸۰

www.libtool.com.cn

# سره لار

يوه ساه وه چې د درد، دا ندامونو
د رګونو په تارونو کې سره شوه

سره لمبه چې د درځې وتکې ښکاره وه
د کوڅې په کږ لېچونو کې سره شوه

ور رسېږه لېونتوبه چې موسکا يې
د سينې په پرهارونو کې سره شوه

جوړه زما د مينتوب اثر ښکاره شو
ثريا مې په داغونو کې سره شوه

ورشه اوردې د موسکا پيوله ګوره
اوښکه خپلو ګرېوانونو کې سره شوه

څو، چې وينې د ساقي له شونډو زبېښو
د تاک وينه په جامونو کې سره شوه

ستا د سرو غرمو د لمر غرمنې وينه
د ماښام په څراغونو کې سره شوه

www.libtool.com.cn

پرده پوښه محبته راوسپړه
رسوایي په بازارونو کې سره شوه
ګوټ شراب مې د پرهر چاک کې راتوی کړه
توده ساه مې په رګونو کې سړه شوه
د ګناه اور دې له شونډو په ما پورې که
چې ځواني مې ثوابونو کې سړه شوه
جوړ د ریاد شوم په لیمو دي اوښکې ړندې شوي
چې مې لار په قدمونو کې سره شوه

## لنډیزه

دارمان د ډیوګو رڼا تتېږي
ورله ځل د کهکشان له برېښنه راوړه
زیږبخن شوانګی د ګل د مینې
لپه وینه د ځیګر له ویخه راوړه

پېښور پوهنتون
۲۸ / ۹ / ۱۹۸۰

www.libtool.com.cn

# غزل

ای زما کسوکې پټه، ای له اوره نا خبره
زه مې کسوته اور نیسم، ته لمن کړه له اوره ډکه

له بامونو شراب توی شو، کنډولو کې چم ځائیږي
دا کوڅه په جنون مسته، هره تیږه له شور ډکه

ما ساقي له ګروی ونیو، خم مې سترګو کې راتش که
او ښکو رنګ شرابي راوړ، پیمانه شوه په زور ډکه

مړتی غوښه د زړه اور شوه، د سینې اور کې درزیږي
اور ته پاڅي، اور ته کښیني، اور ته ناڅي له اوره ډکه

د خمار بې پټو پیغلو، لیونی دار ته ورخیژي
په ځولو کې کنډولي وړي، لمن ستاسې په تور ډکه

خیر دی وخانده موسکی شه، ماله پور د ګناه راکه
د ځوانۍ پانه مې توره، د تورونو په پور ډکه

ته دې کور د تورو، سترګو، لږ د خیال کوڅې له راوړه
چې دا کور شي په کوڅه کې، دا کوڅه شي په کور ډکه

پېښور - ۱۹۸۰/۱۱/۱۶

www.libtool.com.cn

# افغان شهيدته!

داشعر د کابل د هغو ميړنو شهيدانو په نوم دی، چې د ۱۳۵۸ کال

د حوت په مياشت کې، د روسي ليوانو په خلاف په مظاهرو کې شهيدان

شويدي

* * *

کفنونه مو زلمو له سره تاو کړل
اوس به سره د زورور له تن پرېوځي
د ظلمت د تورو شپو په شهيد ستوري
د سهار د پلو شو کفن پرېوځي

* * *

په تور بخن وات مې شهيد را پرېووت
سلګۍ يې خاورو د وطن ټولې کړې
زلمی بچوري يې ټوټې، ټوټې شو
مور يې ټوکرې ټوکرې د تن ټولې کړې

* * *

# غزل

www.libtool.com.cn

پتنګ هله په راز د سوزوونکي مين پوه شو
چې اوښکي يې د شمع په ليمو کې وليدې

زخمونه پر هر ورونه مې نګاره بيا تازه شو
چې سرې غوټۍ مې ستا تورو کمڅو کې وليدې

زاهده دلته راشه چې دې پوه په فلسفه کړم
ما حوری دا شنا د خير کو څو کې وليدې

د نازه نه په شونډو کې موسکی شو مخ يې وا راو
دالی چې يې داوښکو په څولو کې وليدې

د ښکلي مخ شوګير کې د سپوږمۍ دنيا تر لاړم
رڼاوې مې د هجر په تيرو کې وليدې

د ښکلو د حسنو نو غرور هله به نسکور شي
خودی که يې زخمي زړګو کې وليدې

ښته «۱۲» د جنوری ۱۹۷۲

ایمان یې سرو سترګو ته بند و تاړه
آمو د اوښکو کښتۍ ډکې کړې

www.libtool.com.cn

د خپل شهید له یاقوتي خاورو نه
لېږي د مينې لېږونې ډکې کړې

* * *

د ګل په رنګ یې پرهارونه ډک شو
د پرهارونو یې غوټۍ غوټۍ شوه
خوړې یې د ورور کفن د سر سالو کړو
ساې یې په ستونې کې سلګۍ سلګۍ شوه

* * *

د آسمانو نو تنې وخوځېدې
څو بل زلمی په وړاندې ګام کېښود
تیت شو، او خاورې د وطن یې ښکل کړې
حورو په مخکې ورته جام کېښود

* * *

ځمکه د لمر له سره وګسر ځېده
شپېږ د وینو څراغونه بل کړه
د ځوانیمرګي سحر خلاص و سترګو
ایله د تورماښام داغونه بل کړه

* * *

جوړ د زندان د دیوالونو ویـــــخ ته

www.libtool.com.cn

د خپلواکیو کهکشان را پرېووت

د تورې شپې په تور سپیره بوګن کې

درنا اووه پوره آسمـــان را پرېووت

* * *

په تور تتوبک پرهــار پرهــار سینه یې

د آزادۍ د لښکر نخښنه شـــــوله

د خدای جنډه یې په منګول کې کلکه

د مرګ په ســـره څیګرکې ښخه شوله

* * *

د ننګیالو د وطن وچې د ښتې

د انقلاب د خُـــــتن ورېم لـــــــري

شهید یې ښخ کړلو په شــنه سالوکې

اوس هر سالو د کفــن ورېم لــــــري

* * *

په سرو ږمونو وران کورونه کـــوره

د آزادۍ زړوکې نېزې ښـــــخې دی

په راکټونو غلبـل شوی ســــینې

دا ددې ســـــرو د عدالت نخښې دی

* * *

زما وطن دشهیدانو وطن

دوېږد تېرو پښتنو خونه ده
www.libtool.com.cn

دغه دلمر د راختلو چم دی

داد توحید د مېړنو خونه ده

* * *

د جماتونو محرابي تندي يې

بل څراغونه دايمان لري

زمونږ په تورو قسمتونو مه شه

تورمانښاموته کهکشان لري

* * *

دا پيمانه زمونږ د وينو آمو

د آزاديو يو بهير ګڼه

چې د تاشقند په شپو کې لمر راخېژي

مونږ د هغو ورڅو تقدير ګڼه

سيد جمال الدين افغان
پنځم نمبر هاستل
پېښور پوهنتون
۱۹۸۰

## لنډيزه

ژوند يو سکوت وو، مرګوني تېر شو — چې څنګه تېر شو، هغسې هېر شو

هېره مې مه شه پښتنه مينه — زور د بېلتون يې رابانديې ډېر شو

# غزل

www.libtool.com.cn

ډک شو زما د پرهار ونو کسې
اوس خوبې وکنده په تار د ښېنو

د ښېنو ښوکې دې په خال خوږې کړه
ستورو ته لار، وکړه، په لار د ښېنو

د ژوابونو تلې سپکې شولې
لوبې درنې شه، په امبار د ښېنو

خړو چینوکې لمبې وزغلیدې
جوړ پیرې پربوتې، په ښار د ښېنو

ته دې داشین سالو کفن کړه ماله
زه هم دا اوس ځانګم په دار د ښېنو

نظرې ستا ترڅه لاره وکړه
د لارې ښنګ ته شو ربیار د ښېنو

په هر قدم یې لیونې پراته دي
بېلتونه تیرنشې په لار د ښېنو

ښه ده، دامینه ځواني مرګه ښه ده
خو:- تو ردې امبار مه شه په بار د ښېنو

په داردې وترلم، دار د ښېنو
ګورته مې کوزکړه، په هر تار د ښېنو

پېښور پوهنتون - ۱۹۸۱/۲/۲۲

www.libtool.com.cn

# سرې جنډې مو ورله دوه پوکه ایرې کړې

دفولادو د تیـنکونو خولې کـږې شوې
دما شوم واره افغان له یوه سـوکه
اسرافیله مرتا شقندته په شپیلی کې
دپامیر دسر درو سیلی ورپوکـه
اوس څه خیږد زوروړو دسـرنشته
مونږ ترعرشه رسوو، دشملو څوکه
دوارسا د زندانونو سکوت مات شـو
دسرې شوکې په کور پرېوتله شوکه
مونږ دخپل شهید ترکوره نذر، یوو ره
په دروکې دځلمو دتکبیر کوکه
نو- دهلال په تیغ مو خونې ورسپیرې کړې
سرې جنډې مو ورله دوه پوکه ایرې کړې

قافلې دآزادی خوځې له مـونږ نه
دقدم له انګازونه مــو دم اخلي

www.libtool.com.cn

په مرګی موکوړ د زړ، د زور تالا کړو
دا تقدیر دی زور، زموږ به نه غم اخلي

ګرمې وینې مو د خدای هیواد کې ډنډ کړې
دوارسا مځکې له دې ډنډه نم اخلي

په یو دم موږ کلن جنون تازه شو
چاویل چې تم سیلاب به قدم اخلي

د هیواد پېغلې دې ځمنې نیم کښو کړی
سپین هلال به راختلو له چم اخلي

نو- بر یښې د تورو څرک زموږ د منزلونو
پسرلی موکوږی ښکول کړې د ګلونو

د توحید د مېړنیو په رکاب دی
ابا سیند دی که فرات دی که چناب دی

آسمانونه مو درب جنډو ته ټیټ کړه
دا درب جنډې زموږ د تاریخ باب دی

ټول آمو د حرم خاورو ته ورمات کړې
نن خودغه د حرم د ختو آب دی

له دې اوره د سرو ځمکو تنې سیزو
موږ د لمر په تن کړلی انقلاب دی

کږ لاسونه د شهید په کفن کېږدئ
کږ تارونه یې زموږ د خدای تناب دی

نو۔ دغه ستوري شهیدان دتوروشپو دی
جنازې به په اوږو دکوم سبا وړی
پرهرونه دځوانانو څـــــراغـــونه
دحرم له مینارونه به رڼا وړي

❖ ❖ ❖ ❖

دځلمو تور ورځو ړ کي، رګ به خـولـه شي
لمر به خوله په رخسارونو دسحر بړ دي
دحرم بنیاد په هغوتیږو جوړ شـه
چې شهید پرې په وروستوسلګوکې سر بړ دي

۱۹۸۱ - سپتمبر
❖ ❖ ❖

## ځيلې خوږې مورته

ځان به مې موري ستا دعاته پرېږدم
خو- ماسره څه دی چې یې تا ته پرېږدم ؟
چې ستا درشل مې قدمونه نیســـي
دژوند دا ستړې لارې چا ته پرېږدم؟

# دااختر دا ګل زمونږ د قربانیو

www.libtool.com.cn

د توحید د میږنو د خوانو ژړوند دی
څه به تیر شي چې د دار په څوکو نه وي؟
دااختر دا ګل زمونږ د قربانیو
رارژېږي که د خار په څوکو نه وي؟

---

ورزندۍ شه د ګناه د زور احساس ته
د هیواد د حیا ناکو پیغلو پته
د وطن بچې د خدای په رضا ومره
د ایمان دابراهیم له روایته

---

اوږې کیږدی د ځلمو وینو په دندکې
د شفق د غه هلال به اختر راوړي
په زمونږ د زخمي ماشوم له تنه
د توحید تنکي تیغونه به سر راوړي

---

پر سبتي به په قلم کوټو په خپله
له دي ستورونه نیمز الوله خال کیږدی
دا بلې چې آسمانونو ته ور رسي
خدای بر دلته دا خترو هلال کیږدی

چې آسمان مړو شهيدو ته يو كيږو

جنازې په شنفتي كفن كې راوړي

يخ وهلي توري پرښې هندوكش به

ترهغه اختره، لمر په تن كې راوړي

---

خو- دا خوړې وړې توكړې، توكړې وريځې

د توحيد يوه خم په تل كې توى شه

لمر ته څپر د لمنو له پيوند ده

په دې سيورو د وطن بچوړي لوى شه

---

كني دا خواره خوبونه گناهونه

ځئ دا نرگسې ړانده كړو يو خوب واخلو

مونږ شړوندى د آزادۍ د ليونتوبه

په خپل سر به د خپل سرليونتوب واخلو

---

بيا د رب جنډې به يو سو تر آسمانه

قرآنونه به د زړه وطن كې كيږدو

لمر به سيځو- د خپلواك اختر ما ښام ته

آسمانونه به د ځمكې تن كې كيږدو

--- د ۱۹۸۱ كال د لوى اختر په مشه

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# همدا تا سو آزادي یې همدا تا سو انقلاب یې

شنه جو په د آزادیو ګرد د لارو کې ختن وري
چې د خدای ځلمي مې خدای له په کولو شپیللي تن وري

—— .... ——

د افغان هیواد بچوړی د ملالې په پل پل بدي
لوېښتې له ملانه تاوکړي په سرو نوتاوکفن وري

—— .... ——

د سولو پړی و راسته شو د ځلمو عزم پړې کلک شو
زرغړي په دار سورې شوې یو پامیر تر هسکه هسک شو

—— .... ——

ګرمې کرمې وینې تری شوې په آموکې سیلاب راغی
د افغان له انقلابه د انسان انقلاب راغی

—— .... ——

نري تار د لوکو وخوت د سرو، سور آسمان نسکور شو
لوېښتې ورته لوکی شوې د ځلمو پر هر تکور شو

—— .... ——

www.libtool.com.cn

# دوالو شرنگ

مراوي شړونډون به طوفاني غونډې شي
که طوفاني شرلو غور ځنگ لېوني
تش د بنا ښت د سرو شرابو ساقي
لرې کنه رباب و چنګ لېوني
ستا د محل نخښې به پاتې نشي
که لېونو واخيسته رنګ لېوني
د لېونتوب دي نزار کړيوان مې واخله
راشه چې درکړم اشنا خنګ لېوني
د چا د عشق دلېونتوب دې خير وي
ستا په والوکې شرلو شرنګ لېوني

---

# لنډيزه

ورځو د دار رسوله د روڼ منزل په لټه
د دې مرشړواندو سلګو د ژونډون لارې لټوو
د چا شهيد د کفن پاکه لمن خير وو
د ترمو ترمو وينو ترورې دارې لټوو

کابل ۳۱ د جوزې ۱۹۷۲

اوس د داغ وینو له تــله     د کلونو سر را خـېژي
www.libtool.com.cn
د شهید په تندی لیک وو:     «په پامیر به لمر را خـېژي»

---

دِک سرپټ خمان را توی شو     سرمستي زمونږ د جام وه
په لمبو سره ستوري وسو     ابتدا د کوم قیـام وه؟

---

مونږ د دار تختو له لاړو     دی راپرېوتو له تختـه
اوس یې شنو کانو کې وژنو     سر به شکر له دې بختـه

---

لمر د دې د رڅو را خـېژي     دا د شرق د اتل کور دی
له کوڅو یې عرش ته لار ده     سپین هلال یې په بام سور دی

---

د تېرو تورو وطن ؤ     نه یې لور نه یې خټک شو
د توحید خم ته را توی شو     څه آمو څه اټک شو

---

نو - پرګني مور د خدای خنک ته     د هوا د له خوا نه پایي
دا د یوي چې شپوکې سیزو     دا زمونږ له سا نه پایي

---

په بونو وران کورونه     خیر که زخم د وطن دی
انقلاب مو ترې بشېرازه     آزادیو له ترې تن دی

چونک د وینو لپه لپـه شـرنک د توروبه اوج اخلي
www.libtool.com.cn
دماسکو چینی پخې کـړه آموساه اخلی موج اخلي

---

دوارسا د زندان خلـکو مونږ په مرګ کې ژوندون پالو
لږ ځـه و درېږه ځ درسـو زوروستور د پښتون پالـو

---

چې د وینو څراغ بل کـړي دایمان په محـرابونو
چا هغه خلک وژلـي؟ په سولو او په دارونـو

---

اخیر مرګ او سکوت مات شو د تیرو توړو له شـرنګه
خو مات نشو سترې نشو دا د خدای اولس له جنګه

---

- پام اولسه په شا نشـې دي صفونو ته محراب یې
همدا تاسو آزادی یې همدا تاسو انقلاب یې

---

۱۴/۸/۱۹۸۱

www.libtool.com.cn

# په وړاندې

دا يو قدم په وړاندې دا بل قدم په وړاندې
دخدای د رحمت لاندې د هسک په بلو باندې

په وړاندې په وړاندې دا بل قدم په وړاندې

ځئ پل په وړاندې کېږدئ په خونړه د سبا کې
د لمر ستر که راخيژي د ګرد په خړه سا کې

چې د کې لېږي يوسي حسين د آزاد يــو
فرات د وينو مات کړئ د ښو ونه په کربلا کې

يو خال مو د نيمزالي د خپل شهيد له وينو
محراب د غيرت و د رېږه په تنده د حيا کې

زندان يې ورله مات کړو مورچل بو ورله مات کړي
سرکښه ځلمي راغلل سرلوړي سينې چاکې

د مرګ توره سکوته د مرګ په خونخوارشه
مونږ لار لټوو ځانله د تورو په رڼا کې

www.libtool.com.cn

نو- د دې تورو له شړنګه، د سرود مرګي ساندې
په وړاندې، په وړاندې دابل قدم په وړاندې

ځواني مه او سه تاندې، د خدای د رحمت لاندې
په وړاندې، بنه وړاندې یو بل قدم په وړاندې

دا خلک ځي په وړاندې که ساه که تن که سر ځي
چې شپې تر کومه درومي تر هغو به سحر ځي

سو ما دا آزادي پې سرور بخښلي سر ته
د خدای په لار ودرومي بر بنه ځي که نهر ځي

پروني د نیمزالو د خیر په هسک خواره کړي
زمونږ له وطنه د شړ بچي په شـــر ځي

آمو به په خیل ولږ کې دا سره سروته دل کړي
په پښو تر کوره راغي تر کوره به په سر ځي

دا دنګې سولي ټولي زمونږ نظر ته نیتي
ستا دار ترپښو را رسي دا سر له ویاړه بر ځي

نو- د هر قدم په دار که، غرپه شي او یزاندې
خو- وړاندې، بنه وړاندې یو بل قدم په وړاندې
ځئ نیسئ د خدای مراندې د هسک په بلو باندې
په وړاندې په وړاندې دابل قدم په وړاندې

۱/۱۱/۱۹۸۱

www.libtool.com.cn

# پیرشانی

ای زما ساقي یو بل کوټ شراب راکړه
دعذاب له خمه لپه ثواب راکړه

ما د خپله لاسه مړ کړه په خپل ځنګ کښې
چې مې کړي سلګۍ تال شي ستا په چنګ کې

په دې اور د دې سپیرغوانګي سوه کړه
د دې مور ګودایرو تندي سپېره کړه

چې په تال د ساه د سُر بنا پېرې پښې ږدي
پر پښتۍ به ورته خپلي برخي پرېږ دي

که داو خاندي سل ګلي موسکا راوړي
عزرائيل به خاورو شوو له سا راوړي

خو دا نو ږدي د ږ یو وسترګي تو دي کړي
دا د یوې دي ظلمت مړي لحظي مړې کړي

چې دا تا ندهٔ اسویلي پورته لار واخلي
د دې وخت د پسرلو نه انبار واخلي

دا رختلي دعاګانې د چا يوسي

www.libtool.com.cn

د حيا پلو محراب د دعا يوسي

د دې لنډو تنګو ورځو کوکې ځيره

دي شهيد له سپين پلو د کوکې ځيره

نو-دا خيالونه د سکنو تيرو داغونه

دا څراغ به دا داغونه درنه مړ کړي

تول کوثر که مې يو کوټ د پيالې نشو

ما بېتره ګناهونه درنه مړ کړي

۱۹۸۱/۱۱/۲۳ - پېښور پوهنتون د روغتون پنځم نمبر هاستل

٭ ٭

## لنډيزه

دمرګ د هډيرو تربله سره سيني وسپېرې چې ساه موخپه نشي

دانسان دخپلواکۍ په پاکو تمکو پام خوړلی مو د زخمونو تپه نشي

۱۹۸۱/۱۲/۲۵ - پېښور پوهنتون

٭٭٭

## لنډيزه

داچې ګورې ګورې راغلي په هسک ورځې

دغه ورځې دا زغو تقدير د کال که

که دې، مونږ ازغو، له څوکو ګلان توی کړه

مونږ به هم تقدير د پېغلو د کاکل که

۱۹۸۱/۱۲/۲۵

www.libtool.com.cn

# دکابل توره جمعه

شومه دم د مرګ سکوته     اوس به مات شی دژوندم ته
ګورپاللی تنې رغړی     دژوندو قدم قدم ته

❖ ❖ ❖

د دردونو سینه چاکه     بریښ دتندر به لار وکړي
وخت دوړانګو غشي راښکل     په بلا شپو به وار وکړي

❖ ❖ ❖

زنځیرونه مات نیمکړي     تندر اور وري له چراغه
لمرجنده د هلال اخلي     دوه پړي د زړه له داغه

❖ ❖ ❖

څرېکو لاره ژوند له ورکړه     د پرهر ترلې چاکً ته
خم دوینو خمار توی کړو     د زړې میکدې تاکً ته

❖ ❖ ❖

ډیوګې د نور جوپه وړي　　له پرونه تر سحره
www.libtool.com.cn
لا ر د لمر پل ته روښانه　　د زخمونو له ځیګره

❖　❖　❖

د ځپلواك ژوندون په بیه　　د سرونو سودا وشوه
د یوې سلګۍ له ساه نه　　سل وژلو له ساه وشوه

❖　❖　❖

ژهدانو نه خلکو مات کړه　　د توحید له برکته
دغه زر ځبرې ته ولې　　د یوه تکې له فطرته

❖　❖　❖

ځک ځک نوی شو آسمانونه　　د آمو د ځپو ول کې
د سوماغو هتی پرانیزي　　د کوثر د جام په تل کې

❖　❖　❖

حلق دوینو تکبیر ولوست　　د بلا د سکوت کور کې
د سبا قیام ځلمی شو　　د پریوتي ورځې کور کې

❖　❖　❖

سست غلام وختونه شنده شو　　د رحمت دور ځونم ته
د نیستي ساندي پوره کړي　　مرګ د مرګ د شیطان غم ته

❖　❖　❖

چې صفونه یې محراب ته　　د شهید لیمه څراغ کړي
شپه به هلته ځنګه ورشي　　چې لحظې د سجود داغ کړي

چې د وخت په تسلسل کې    د شپېو کام غوټه نه وړي
مرګ پالې انتها به    په سلګو کې هلته څه وړي؟

www.libtool.com.cn

* * *

هلته چېرته چې وختونه    مطمئنه په ځان سنبوري
د خپلواکۍ فطرت څخه وينه    لکه لپه جهان سنبوري

* * *

هلته لمر ختلي فکر    له شفقه سلام اخلي
په مرګي د شبخون صف يې    صحيفې د الهام اخلي

* * *

وخت له خپل ګرده چورليکه    چورلېدلی هلته ورشي
د بېړۍ ابده سترې    خپله خپل ازل ته ورشي

* * *

هلته پنډ د خړو خاورو    د قبرونو په سر بار دي
خوبولو شاه ځلمو ته    د تاريخ نيلي ايسار دي

* * *

هلته کښې د ډيوې وروړې    نره مور لاس رپيدلی
نره د تورو شپو چاودلي    ځل د ستورو ورکتلي

* * *

نو هلته کور د شهيدانو    چې وطن پېرې حساب اخلي
صف د وخت د انقلاب يې    له خازونه محراب اخلي

* * *

هغوزروشهیـــدانو    چې سلگی وطن له ورکړي
دکابل پت منـو لـوښو    لوپټې کـفن له ورکړي

www.libtool.com.cn

❖ ❖ ❖

دمـلالی د نـا هیـدې    لوپټه دخدای جنده شوه
مرګ په تورو سرکونو    دکابل تـوره جمعه شـوه

❖ ❖ ❖

نو- داخبره پیکه مـه شه    جبرئیل به تري رازاخـلي
یوحدیث د آزادی دی    له ازله آغاز اخـــــلي

❖ ❖ ❖

چې- پولینډوښورېډ له مونږ نه    دسره زور زوال پوره شو
خیرکه توره جمعه راغـلـه    د شهیدمې کال پوره شو

۱۹۸۱/۱۱/۲۵ سحرلس بجې - داتواروورځ
پېښور - یونیورسټی

---

# لنډیزه

مونږ د زور دآسماني ځوکوله بامه
د وږو خوښو پر پیوتی بلی غوا ړو
دایوګل د سلوګلوپه خون ګل شـو
په دې ګل د سروسکروټونږلی غوارو

۱۹۸۰/۷/۲۲ - شاپور - کانا - سـوات

www.libtool.com.cn

## دزړه خوب

څومره نظري چې خوږې خوږې شوي
هومره ځولي ځولي غمونه درپر شــو
هره غمزه دې خوب دزړه شوه آشـنا
دا خوله هيلونه دردونه درپرشــو
وږمه دې بيا زلفې خورې ورې کړي
خدايږو زما د خيال تالونه درپرشــو
ستا د حيا دسرپړوني شــولو
خيرکه مې څيرې کړيوانونه درپرشــو
اتم تږولکى

## لنډيزه

يوه شيبه دا ستا دپاکې ميـنې
دارمانونو تلوسو درکـــه ده
خدايږو بيلتون راته پښتو پښتو شي
مينه دې توله لا پښتو دركه ده
۱۳۵۰

www.libtool.com.cn

# غزل

دا چې نن په سوال د بل د شال سیوروته ودرېږي
دوی به، بیا زموږ د د ښوال سیوروته ودرېږي

اوس سپرغو پوکلی ساه داور ګونه ګرم کړه
شپې دې ترا بده د مشال سوروته ودرېږي

لاس زما په کوږکې د پښتو په وینو ولړي
ستا د پښتنې تنده ې دخال سوروته ودرېږي

ستا په لوېته یې ستا دمینې سواوترل
اوس به خلقې ستا د ښوال سیوروته ودرېږي

صف چې د شهید له پرهرونو محراب بیاموي
خلک د زخمونو د کمال سیوروته ودرېږي

لاړل لیونی د زورد دار پرې یې وشلول
راغلل چې د دار ځنو د تال سیوروته ودرېږي

پاکُ توږتې توږتې پلو د خدای په شهید پرېوتو
اوس به فرښتې د چا د شال سیوروته ودرېږي ؟

ستا ځواني زما د زولنو سيوروته ودرېده
څوک به لېوني داسې په کال سيوروته ودرېږي
دا اجل نيولي جل وهلي فکر څه ويسي؟!...
خو بس هسې د سر وشونډ و د خيال سيوروته ودرېږي
کور سيوري د دار زلفو په مراوو ستړکو پرېوتل
اوس به شهيدان هم د وبال سيوروته ودرېږي
پرېږدئ د کانډول تو کړو کې زړه تو تې تو تې کړمه
هسې نه چې بيا د چاکولال سيوروته ودرېږي

www.libtool.com.cn

---

## لنډېزه

د ګران هېواد مېړني مړي بې نومه
په وچوشونډ و او سپيرو برېتو کې
د لته اولس ژندی د ږيرو په تار
هلته وطن ګير شو په سرو برېتو کې

❖ ❖ ❖

## د روس ديوه تورمخي نوکر په نوم

ای د سره فکر، مخ تورمخي لولي
پټه په توره چادرۍ کې راځي
چې مونږ د رځو په سپين کفن کې د رځو
چې ته راځې په سره دولۍ کې راځې
۱۹۸۲/۱۲/۷ - پېښور پوهنتون

www.libtool.com.cn

# غزل

ستا له آسمانه راپرېوتی مینه
زما په ځمکه غوړېدلی ځولۍ

دا په ځولۍ د ګلو او شبنمې پرتې
دا په ګلوکې غړېدلی ځولۍ

دومره ځولۍ لمده په اوښکو شوله
لکه په خپله ژړېدلی ځولۍ

قدم نیولی دوریځ لمنو
د لوړو غرو نونړېدلی ځولۍ

ما ته یې دار کړه د سالو تارونه
زما پرې ټوله غوړېدلی ځولۍ

۱۹۸۲

www.libtool.com.cn

# غزل

تاځان له نوی حرم جوړکړلو دسرو وطن کې
دې سره په مونږ اوروته بل کړه دپښتو وطن کې

ته دشهیدو پرهرونو کسی نه شې لیدی
تاتورې تیرې ټکولی دګلو وطـــــن کې

زما دمینې دپښتو زړګی ټوټې ټوټې شـو
تا دټومت خالونه جوړکړه دچړو وطـن کې

سرتوری ګرځې مې دخدای دشهیدانو خوینـدې
دسور ټکر دشهیدانو لوپټـو وطـــن کې

تادازغن بارخوله ګوره شپوله څه راکـړې ؟
خوتشوغشوته پرانته یو دبنو وطــن کې

خدایزده دزوړ خوګلن یو څو سپرغی به وی اوکه نه
خوستا ایرې زړګی راسپړو دسیلو وطـن کې

دګل غوټو دځوانیمرګو درمندو نو وینې
ټولې په شارو را وریږي دازغو وطـــن کې

دزلفو خم ته دې دهسکې شملې ول رامات که
څومره پیکه تاوان دې ورکړو دپیکو وطـن کې

ساه دوربل په تارکې نښلي دتندي په مځکو

کوم مسيحا به دارته خېژي د کعبو وطن کې

www.libtool.com.cn

روغه تنه اندام اندام شوه د ننګی په پرو

مم دزړګي پرې پرې شو د ننګو وطن کې

خيرکه په سرو غشو کنډو د پرهرونو شوندې

خو پيږوانو نه سلامت شو د درخو وطن کې

نو: خوسرهيري لېونی له تانه هسې تاودی

په تا خوخاورې ايبارشوی د پښتو وطن کې

۱۰/۳/۱۹۸۳ - پېښور پوهنتون - دحقوقو پوهنځی
په مشاعره کې ولوستل شو

* * *

## لنډيزې

دغه غرونه، غرونه پوره ته

دا سمان ترسره لاس وړي

غاټول خولې په پرخو ډکې

درمندونه، د الماس وړي

.....

کاش دا اورمودخپل کور په نغري کې

ساه دخدای له رضا را کا ږي تازه شي

لور پامير دا دننګ محراب دلوړو غرونو

په کلکونو شهيدانو دي خازه شي

www.libtool.com.cn

# زمونږ چاپېریال

خوږمره خېم سکوت
دوخت دټک قدم ترې نښتی
او د شپېو د خوځېدو د ساه ږکونو ته ترې غوږنې پرتې
نظر په کې
د تورو تیکو دېږ ځانه تن د خول زندانې
اوږې وچې
او فکرلنډه
لکه داوړې د غرمولو ته
دګل د بوټې دوړې ځوانی
یو ځپک سیوری
او د سیوری ویخ ته
زما د لیک دقلم شنه غنډله
د سپین کاغذ د پاڼو پنډه نیولې

او د تخیل ځیلی مې
د چاپیر چل د خړو ځمکو د وږغوږو دړنده
د موږ کو نم نیولی
خوب نیم نم نیمګړی دانم
د نشت له ویری
د مرګ په غم
د خیم چوپتیا په خول کې
د هسک داوړی د لمر
د پلوشو د جولاګو تنستو جالو کې تم
نو ـ نن زموږ داژوند
اوس دی او شنه دی شیبې
ستړی او مړه وختونه
د خړ کاغذ په پڼه کې
د فکر بندګامونه
پرېکړی، نښتې ژبې
ګرم ضمیرونه
د ماتو ګوتو منځ کې
یخ قلمونه
د جګ دېوال زړوره
په هر ور نیت سرونه



www.libtool.com.cn

اوـ د چاپیرچل دخروڅکومنځ کې
ولاړ ایسارېدلوونه
ورته پرتې د تن وخلکو ډلې
ورته پراته وچ او سپېره حلقونه
نو دلته دا ژوند ـ
یوه تس نس شوې لړۍ
بې ساه بې توليکړې
څه دتک نښتي سپیني
څه دچوپتیا کړی
او دفکرونو لړۍ
دخپل هېواد د ډېرو مورګونه لمدې نه شوې
خوـ په لیک پیرې پرېوځي ـ
ژوندی پرتې دي دقلم په ستونی
او د زورورو غرمې
تولې خروبې دی دنم په ستونی

⁘ ⁘ ⁘

سهرنه بجي ډاکترز هاستل پيښور
۳/۶/۸۳

# غزل

www.libtool.com.cn

چې ځان نه پېژني هغه خلک ځان خوري
ټول بې خدايه اولسونه انسانان خوري

که نهر له تسبيح ورکړي غنم نه وي
دجومات ميشته به هم دخداى قرآن خوري

چې يو سر راځي که لمروي مه يې غواړه
په راتلو به راته ستوري دآسمان خوري

بې نيازه فقر هيڅ دلوږې نه مري
غا ټول څه خوري يو خوشاخکى دباران خوري

چې لار نه وري خداى پاللي خپلواکى له
هغه لاړې خپل پاللي ربياران خوري

بېلتانه پاللي ميني رار سيږه
چې دوصل ګناهونه يې جانان خوري

دړنړاله روايته ماښام تت شو
چاويل چې ګوري شپې به کهکشان خوري

مونږه هسې دزړه ګرمې ويني ورکړې
دکوکې شونډې دسرو نرو پيزوان خوري

غټ کبان دسمندر واړه کبان خوري
په دې نوم ماسکون مونږه بدخشان خوري

۱۹/۷/۱۹۸۳

# غزل

ساقي که ستا دا خوی دپورنه وی

زما به ستا کلي کې کورنه وی

www.libtool.com.cn

ست به دې کړي وو د شونډو څوکو

که پرې د سرو د پېزوان زورنه وی

چې دې رسوا کړي د راتللو ښکالو

ستا د پاولو خوله کې دې شورنه وی

زه به هم غلوم د محراب د دېوو

که دا د عشق د کفر تورنه وی

ما به نيولی وی د پيڅکو لړی

که شين سالو دې سوال ته خوږنه وی

مونږ به ستا له سره لمر ته کتل

که تور پيکی دې په تيک سورنه وی

سپرغي به ستا غونډې ما هم پوکلي

که يې د زوړ نغري اورنه وی

ما به کوټلي وې د شونډو څوکې

که يې په سترګو کې پېغور نه وی

ستا له چرګې دې سترو او رغوښتلي

خو زما دې خپل نغري خورنه وی

تندی د زور په دروازو کې تيت شول

کاش په دې چم کې د خدای کور نه وی

٢٥ / ٧ / ١٩٨٣

د فرورۍ شپږم

۱۹۷۲

# د هجر شپې

www.libtool.com.cn

پرېږده چې نېشو کې يمه مست مستي مې خوښه ده
شېخه نور د حورو د ښکلا خبرې پرېږده

خوندکوي غمونه او ژړا د خوښو ډکه ده
چوپ شه لېونيه د خندا خبرې پرېږده

پرېږده چې پټنګ غوندې د يار له حسنه وګرځم
ماته د ژوندون او د بقا خبرې پرېږده

ګوره محبت کې د مستۍ خبرې خوندکوي
ای د حيا ډکې د حيا خبرې پرېږده

ډکې خو د هجر تورې شپې دي له هستيو نه
غلی شه پټنګه د رڼا خبرې پرېږده

دلته خو «اکبره» يو جهان د فريبونو دی
بس که لېونيه د رښتيا خبرې پرېږده

www.libtool.com.cn

# دلار پوښتنه مه کوه

دلته دلارورکونه د لار پوښتنه مه کوه
لوړ بهیرته کوره دسالار پوښتنه مه کوه
ټول د ضمیر زړې په کوڅه کاسیره و پلورل
نوروونه د نرخ او د بازار پوښتنه مه کوه
څوک بریتو زندی کړل، څوک د ډیرو مراند و وتړل
دې بدبختو خلکو کې د دار پوښتنه مه کوه
سترګې دې پېغور دی، اوسالودې مخ ته شپول نیسي
یاره، اوس په دوی کې داغیار پوښتنه مه کوه
بس په یوه څوکه یې ایمان او وجدان غوټه کړ
کوم ځای ته رسیږي، ددې تار پوښتنه مه کوه
موټي غنم واخله دوزخي لوږه دې غلې کړه
پوره په امبار د پروت ښامار پوښتنه مه کوه
هر یو خپله لارلري، د خپل شیطان د رشلې ته
خوله د رله کندې، د خدای د لار پوښتنه مه کوه

مرګ د ضمیر و کړه د امیر د هوس خو نه کړې
سر دې ور لوړ کړه، د سردار پوښتنه مه کوه
ستا تنګه لمن ده او قبا خوارې ول لري
ته دې لپه واخله، د خروار پوښتنه مه کوه
نه چې ستا د کټو د مونډ لو دعا سپکه شي
پام پیره زمونږه د آزار پوښتنه مه کوه
وار د شهیدانو د پوښتنو خولا لرې دی
اوس پاره ګوزار کوه د وار پوښتنه مه کوه
څه د هیواد ځوانه چې زړګی د خوګلن وسپړو
تشه دا یرونه دا نکار پوښتنه مه کوه
نو: لوټ شوی د لوټ مارونه د لار پوښتنه مه کوه
هسې له چړونه د پرهار، پوښتنه مه کوه

۶/۸/۱۹۸۳ - سحراوروه‌ بچي، د اکټر زهاستل پیښور - پنځم کال

***

# لنډیزې

زمونږ په سر سیوری د خدای　　زمونږ په ژبو توری د خدای
زمونږه زړونه د خدای له کوره　　زمونږه لارې، لوری د خدای

❖ ❖ ❖

ته زما د اسویلو تقدیر ته ګوره　　لاړې او راختې نه وې چې ساړه شي
اندیښنې چې تیندکونه خوري غورزیږي　　قلمونه له فکرونو نه واره شي

www.libtool.com.cn

# افغان ولس ته غږ

د درو په توروتیږو تور تېنکونه ورسوري کړې
سروبور جلوکې خون وکړې د بوالونو رسوري کړې

تور زندان یې ورله مات کړې تور زخمونه ورسوري کړې
د میوند په وچو غرو د دوی زړونه ورسوري کړې

د دوی زړونه ورسوري کړې د هېواد د ننګ بچورو
د میرویس د فکر ځېلو د نازو د ښنګ بچو رو

په کورونو یې اوربل کړې په لښکرو یې یرغل کړې
د سرو وینو لمبې واخلې سپین فکرونه ورته بل کړې

تور تېنکونه ورله مات کړې هره تیزه ورته چل کړې
هره لاره کې یې مړه کړې هره لاره د اجل کړې

چې یې سر د تن جدا شي خپل سرونه په دار لګ کړې
دا بې خدایه د ومره مړه کړې چې د خدای هېواد یې پاکه کړې

د تېرو تورو په شوکو د امرکوني سکوت خور کړې
سور سر یبار د تور مرګي دی د تېرو چم کې یې تور کړې

دمحل دېوال ته زور کړئ سور محل پرې رانسکور کړئ
دماني وېخ ته يې مرکړئ خپله خوره لکور کړئ

www.libtool.com.cn

دافغان بيرغ اوچت کړئ د آسمان په سرېې سور کړئ
دا شهيدې کرمې وينې د سرو ګلونو اور کړئ

د څښتن ساه مې توده شوه د شهيدې ساه له دمه
مونږ مشکوره دا ويارلي خداى خوشحاله له دې غمه

بزګرانو بيل راواخلئ لرګينو تبر ته لاس کړئ
دهمت دخولو څاڅکي د تار رخه تندر الماس کړئ

ددې ترو فقيرانو، ددعا سنګر مو خلاص کړئ
دايمانه عمل جوړ کړئ سينې دکې په اخلاص کړئ

دا «کومل» دستوروال کړئ دا «پامير» دلمر پاس کړئ
دښکېلاک د زنځيرونو، ددې محکوا ولس خلاص کړئ

ځئ څپه دخولو بوځئ دسرو وينو تر سيلابه
کاينات انقلابي کړئ، داسلام له انقلابه

٢٤/١٠/١٩٨٤

www.libtool.com.cn

# د ایمان تلې

یو څو کولمې د ډکېدو عادت دی
یو څو تنې د غټېدو عادت دي
یو څو برجونه له دې وریځو نه بر
یو څو چپنې د نرېدو عادت دي
څه آسمانونه د زورلوړ دي آشنا
څه دا تندي د ټیټېدو عادت دي
څه ښاماران دي په کندوانو پراته
څه دا چمونه د دې غلو عادت دي
څه په لار ورکو ساالارانو پسې
څه دا جورېږي دلوټېدو عادت دي
یو څو خبرې د کولو نه دی
یو څو کیسې د پېښېدو عادت دي
څه د وروړو وصلې غټې نه دي
یو څه دا غټ د غټېدو عادت دي
څه قباګانې او شالونه کلک دي
څه دا شرې د شوکېدو عادت دي

www.libtool.com.cn

څه کلمات دي دایمان تلوکې
څه سوداګانې د پیسو عادت دي

څه څوک سرې داوریدلو نشته
څه دا ستهیجونه ددې خرو عادت دي

څه داظهار دجرأت خولې ما تیږي
څه دا شیبې دکنېدو عادت دي

څه دڅړوندون دآرزو پاتې نه دي
خوبس ککی دغړېدو عادت دي

څه په بازار دقباګانو زور دی
څه داپګړی دزړېدو عادت دي

یو څه دغوړتالی حلوا خوره ده
څه دا بچان دبڼېدو عادت دي

یو څود بربتو برکت ته ناست دي
یو څود بزیرواوبز دېدو عادت دي

ټول انړېبنتونه دوفا په دار شو
څه که خالونه دچړو عادت دي

نو جرمونه ټول دهېرېدو عادت دي
چا ویل چې غله دویرېدو عادت دي؟!

١٧/١٠/١٩٨٤ * * *

www.libtool.com.cn

# ديوه خوږ ملګري دواده دمحفل په وياړ

مسته ، مسته دا ځواني
دا ځواني او دا خاني
دا دګلو ګېدۍ ګڼې
دادميو ارزاني
دساقي لـه ديوه دمه
دبې دمو وداني
ددې تاندې، تندې زورکې
ددې خم حکمراني
دجنون خزاني ده کې
سپيره عقل تاواني
دوصال فرښتې خلاصې
دبېلتون ديو زنداني
غـټې سرې شرابي سترګې
اننګي ارغواني

دکوڅې په هرقدم کې
یولګ حورې آسماني

www.libtool.com.cn

ننني ارمان ومه ینه (ومه وینه)
عذابونه پخواني
نوراځه پیره پرېږدو پرې
د مړدو مسلماني
د مړدو مسلماني او دتوبو پښېماني
دتوبو پښېماني اودخیرونو بې ځاني
تڼګ ټکور دی او جانان دی
تال دی سردی او ارمان دی
نوردی اوردی اوسرور دی
نغری دیوافغان دی
په ورغوي کې مومنزکه
په قدم کې مو آسمان دی
د دیوال دتاخ دیوه ده
که کوم ستوری اویزان دی
د ښایست خیال ته ټول ښاري
په یوه ګل خومره باران دی
درنه وکړ خم خوله راکړه
بخت مې وینې لکه پېزوان دی

نو- راځه پیره چې څښو یې
www.libtool.com.cn
دا ساقي موخپل جانان دئ

خیر که زړاین مو دایمان دئ

خو سوما ساه ده، سوماځان دئ

دلته شړنګ دئ په هر ترنګ دئ

په کتو دسترګو جنګ دئ

ګریوانونه ټول پاره دي

چې د زړونو کور پرې تنګ دئ

سپرلی غاړې پیغلتوب دئ

سپرلی ړنګی دیار رنګ دئ

ته وې خم دئ د شرابو

ته وې ډک درمن د بنګ دئ

مست شو ګروه یې پاره کړه

ساقي هم د چاملنګ دئ

دلته هره غېږ د مینې

دلته هر شنګ دیار شنګ دئ

خیال دې و نښت په اوږې کې

فکر درمن د لونګ دئ

نو- پیره لاس به په زړه کېږدو- په همدې کعبه مو ننګ دئ
چې یې مینې ته زړه تنګ دئ - د هغو سره مو جنګ دئ

۱۹۸۵/۱۰/۳۱ - پېښور

www.libtool.com.cn

# غزل

شال په ولو پروت دی وربل اخوا دی
څې لېونو ستا سوا جل اخوا دی

خور دې پلو پیوسه په دې ډاډه د رحم
اوس مې له دې ستوروڼه بل اخوا دی

زړه دې غل د حسن، حسن غل د زړه
دې خوا دې داغل که داغل اخوا دی

څې چې یې د سترګو خمار وکتو
اخوا دې د پیغلو وربل اخوا دی

لاس مې ستا د زلفو په ول اخوا دی
ګلې لا نور څو مره منزل اخوا دی

❖ ❖ ❖ ۱۹۸۴- نومبر

www.libtool.com.cn

# ترږمي اوښکي

کوکۍ د ترږمو اوښکو املونو پورې خاندي
موسکۍ شوه د زړګوټي په غمونو پورې خاندي
له نازه چې په سترګو کې رقیب ته په خندا شي
نور څه نه دی خوښ زما آهونو پورې خاندي
ویل یار چې په کې نشته نو په حورو به زه څه کړم
زاهده اوس خو مینه جنتونو پورې خاندي
نغمو او سرودونو نه به څه جوړ کړې بلبله !
غوټۍ چې واکېدو کې ستا په وینو پورې خاندي
د ګلو د سور رنګ به ورله ولې قدر ورشي
د شوندو سورکی رنګ چې یې لالونو پورې خاندي
خودي هله په مینه غلبه وکړي اکبره
چې ښکلي دي په خېر و ګرېوانونو پورې خاندي

۱۷ / ۱۱ / ۱۳۵۰

اتم ټولګی

# غزل

www.libtool.com.cn

لړ مې کاته کلوته پرېږده د بڼو په څوکو
نظر له لارې جوړومه دا زغو په څوکو

د خپل شهید د کفن ول له د سالو له تاره
د پیوستون بخي پوره کړه د بار خو په څوکو

تر هسکه وختی د شپو د د پوالونو تنې
څلر اخېژي سپوږمۍ مخې د بلو په څوکو

ماخو مینې مړې خښ کړو د کفن په ول کې
تا دې اوس څله سالو خور کړو د خازو په څوکو

ستا د پېزوان پرې د ښار سرې خورو و خورې
مونږه به خپلې شونډې پرې کړو د چړو په څوکو

دوی د وطن د ښا مارانو له خولو زهر کوي
دا چې لالونه يې تومبلي د نتکو په څوکو

لا خویوه لپه وینه شته د موږ تي زړه په چنګ کې
ته د حیا سرخي ساته دا نکو په څوکو

د خندا کانو د رمن لوټ شو د سپرلي په ځمکه
د ګل غوټو جنازې بار دي دا زغو په څوکو

خير که دې د نکې شوې د ځنو د ارونو لړه
دا الېږونې به ورته و دربږي د ښو په څوکو

شاهین تاون - پېښور - ۱۹۸۶ - ۳ - ۲٤

www.libtool.com.cn

# لنډيزې

تورې تيږې دوزخې شيبې بربنډې
داغ ترې مه شه د سجود د لحظو تنډې
خيرکه داد ګناهونو لښکر ګډ شو
لا خوشته دی د زړګي د کعبو څنډې

........

سړه سړه چوپتيا مړګونی، د تود وکړيکو حسرته
د غم غرخاموشي څيره، د دې غريو له برکته
خير که تور وشيبو ګډ کړه مړګ پاللي ګناهونه
دړنا په چاره څيره د شهيد سبا زخمونه

........

لږ خو راوګوره د څيرو پرهرونو کلي
کسی زما د زنځيرونو په کړوکې کېږده
مونږ يې د مينې له تومته دار ته وتړلو
دښمنه پلو پيڅکي زمونږ په هتکړو کې کېږده
راشه د تانده پيغلتوب نيمګړې پت پوره کړه
داشين خالي تنده په څوکو د چړو کې کېږده

١٩٨٦ ❖ ❖ ❖

www.libtool.com.cn

# غزل

بیاچې بېلتون ستا دچم کوروڼه ونیول
ټولو لېونو دغرو سرونه ونیول

مونږ ه نوی لارې دجنون چړګې ته جوړې کړې
تا په پردی لارد پردو پلونه ونیول

هله ځوانه فکره ددې ورانګو زیلې وزبېښه
خیال دګمنو ګورو څنو ولونه ونیول

چاکمڅې زما د اسویلی سواره ته ګوري کړې
چاد هسک الوتی نیلی ملونه ونیول

ستاد شنو بنګړو د سرساتې دعاوشوله
پیروڼه ولنو ته مو لاسونه ونیول

۱۹۸۶

www.libtool.com.cn

# زماماشومې اوافغانۍ خورې

ته اى زمادنيموشپو د تصور ملګرې
زمامظلومې اوافغانۍ خورې
زما د څرېکو څوب اوږدې سندرې
ته - ساه دې ماته مه شه
ته - ګام دې ومه نسبله
ته - پښې دې پرې مه وځه
ته چې په پښيابلو پاپو
پل - پل په وړاندې اخلې
او په وړوچاچوکو
د ماتو څاڅکو د تړلو ګېډو
اوياد ژيړو وږ ژيډلو پاڼو
دروند پند په سرامبارکړې

* *

کاش هغه ټول

هغه چې اورکړي د خير په ځمکو

www.libtool.com.cn

او د پامير مرۍ ته

د ټينګ د پېړ نځير زنډۍ پرېباسي

او بيا زما د ميړنو

د کېږدو کنډول کې

د خپل هوس د تالا شوي زړې

د بې لمنې حسن

د جوته شوي خولې

خمار کوټ کړي

دامن مور مړه کړي

د مرګ د سره شيطان د لور په څوکه

او د خپلواکۍ په خوله کې ژبې سيخ کړي

د پولادي ښځتګ د زور په څوکه

* *

کاش هغه ټول

هغه چې نور وژني او ځان ساتي

او په جنتي هبواد مو

دا خپل زرګونه دوزخيان ساتي

د ژوند د امن په خوندي سيمه کې

ږمونږ په وینو سره پسوځیان ساتي

www.libtool.com.cn

ږمونږ د وینو سودا نوکري یي

د خپل بادار د ایتمي منګول د چتر ویخ ته

په خپلو لاسو

د هندوکش له سینې زړه وباسي

اودا يې پلاره

د خپل ابا لوکوره

د خپل ابا ښکلی واره وباسي

نو ـ ته اې وړې خورکۍ

لکه دګلو دتنکی کوکی ـ د پرخې درنښت

چرته دبل وطن دکڼ ښار د سړک په قیرو

دګرم اوړي دتودو پلوشو برېاس نه شي

زما دژوند د نیمو شپو دتصور ملګرې

چرته دو رځولو ته پرې نه وځې ستړې نه شي

چرته ناروغه نه شې ، دمرګ دلاس نه شي

کاش چې ریښې ، ریښې لمنه زما

خورکۍ چرته په تا چتر شولی

اوکاش ـ هغه تول

هغه چې تا خوري ـ

هغه چې ما خوري

له ما نه تا خوري
www.libtool.com.cn
له تا نه ما خوري

ږيږې تروې ږبې يې

ږونږ د زخم په سينه پرتې دي

او دوزخي کېږي يې

د شهيدانو

د پاکو وينو په چينه پرتې دی

هغه چې سر يې

د زور د تور شيطان تر دره رسي

او د گناه سرى تن يې

د زور په ږسته،

د خدای د پاک کاله تر وره رسي

هغه شيطان چې په محراب کې اوسي

هغه چې اوسي د ريا په خول کې

او زما په خدای مين ښاغلي زلمي

ومري د ده د جهالت په تول کې

د ده پټکي او قبا

د شهيدانو کفنونو غلا ده

او د ده دا ارته لمن

ږما د کونډو د پړونو غلا ده

نو- ته دې پرونی په سرسم کړه خورې
لږ دې گامونه ترما ، تم کړه خورې
بنه کن خس تول کړه
ډنډ رنها نه د قلم واخله
واخله دخپل شهید له توغه لرگي
او په بمونو
دکنډوالو سوې برگې راوړه
د مهاجر دکېږدی لاړي غونډه کړه
او د شهید دکټ بازو رامات که
بنه گن لرگي راټول کړه
یوه سپرغی کړه دلرغونی چرکی
بل د شهید دکور لیتکي راواخله
نو خورکې !
نور دې خسو په غونډه شوي پنډه کي
داتورې بڼیرې سره بریتونه سیزو
مونږه بې کوره په بیدیا خوشحاله
خود دوی چتراوچتونه سیزو-

۱۱/۲/۱۹۸۶
د نهې ورځ - پېښور



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د شهیدلوړکه دامن مور

خړخړغړونه تورې لړې پرې دپاسه
لکه هسک چې مزکه ونیسي د لاسه

لمر د وړیځ د پاغوندو د جوپې لاندې
په شنه مزکه د نښترو لړې تاندې

پلوشې په ویلو پرخو کې ایسارې
د اوبو کوټ کې د اور د لمبو لارې

له هرڅکه د سپرلي د سوماڅک و
جوړ د خدای له ساه نه شوند ته د ساه څک و

د هسک پیڅکوته د وړیځو پلو سور و
کور د لمر د شپې په داسې راتلو چور و

چې بوډی د زرغون تال لیندی راښکلی
غشي وړانګې یې له چونګ او بوو ښکلی

کې سپین خولي ماشومان په یلو کېدو

www.libtool.com.cn

په دې چم په هغه چم په ډلو کېدو

لاس تر لاسه وې دونو خرړې د ننګې
خنګ د خاوړو بچوړلې غرړې د ننګې

چې د مینې د لښکرو ترې برې وُ
د ژوند مزکه وه د مرګ په کې لرې وُ

پرګنې وې چې د ماتې مخ ترې تور وُ
په تنوکې یې د خدای د مېتوړ ور وُ

هره لاره یې د مینې تړ در شله
هره تیږه یې د خدای د پل له تله

د چمونو په چنوکې یې ویسا وه
په هرکړه کې یې د پاکې وینا سا وه

جنګ ته وتو شاه ځلمو به یې له کوره
لار د خدای تر کوره وه له خپله کوره

خوناشا په ژوند سیمه مرګې لوټ کړه
د شپو تورښامار سینه د سپیدو کوټ کړه

سپېرلي مرګې سیلې یووړه سوماکل
له پېغلوکو پیکو پریووت د ځلماکل

تو د خوږلن داور، د خړو خاورو ویخ شو
په څپک څپک د مزکې اندام مېخ شو

# چېرته يم

www.libtool.com.cn

ناامیده شان امیدیم امیدونوکې پټ شوی
که نا شوني غوندې خیال یم په خیالونوکې پټ شوی

څه یو سوی شانله آه یم د چاژړه کې غلی غلی
یا ښکار ېږم بې منزله منزلونوکې پټ شوی

یایو خیال ستادادایم ، غلی ، غلی ، غلی ،غلی
ښکلی ستا په ښکلو ښکلو مکېزونوکې پټ شوی

یا یوه او ښکه چې تو ئېږي په کړېوان د مظلومانو
که او به څاڅکی د پرخې چې کلونوکې پټ شوی

یا آغاز یمه داو ښکو چې انجام مې خپل کړېوان شي
یاارمان د چاد مینې په دردونوکې پټ شوی

لکه یوه قطره شبنم چې د غنچې پا نوکې پټ شي
داسې زه هم یمه یاره ستا خیالونوکې پټ شوی

۹ فروری ۱۹۷۲

www.libtool.com.cn

مرې سرې تر کړې د غم ولاړې شوې
مرې تنې د میرخمن د غم خورې شوې

ماتې تورې شوبلې پرېوتې پر کاله
توړې تیرې دې خدایوله پا تاله

ګڼې سترګې وې دوینو د داغونو
تیارو ښبلې وې لمبې د ځراغونو

په ګولو د سرو پاڼو تور ورغوي
چې پرې سترګې ورپرېوزې زړه پرې چوي

وران کورونه د چمونو لرې ماتې
شل لاسونه پرې سرونه غړې ماتې

ما شوان پرهر پرهر شل اندامونه
لکه مات کړې د ځوندون تنکي تېغونه

چې سپوږمۍ د کوډ ماشوم د کتو تال وو
کرم او ښکوېي د مور له ژړنې خال وو

تا مور چې وې د ځلمو د خدای له کوره
لکه کوڼ بچوړي تاوناست وي له موره

مات تندي چې د جومات په درشل پاس وو
مرو بچوا یېنی د مور په سالو لاس وو

ښاپیرۍ د خپلواکۍ وه د یو نیولې
ځوند هره سا له مرګه غوړین نیولې

خم نسکور وو کنډه ولې د مینې مات وو
موسکا مړه وه د غوټو کلی میراث وو

www.libtool.com.cn

په هر پل د خدای د مړو هدیرې وې
مړې ډیوې وران نغرې سړې ایرې وې

ستورې هسې وو د هسک تاخ ته ختلی
لکه چا په بېدیا کښ کاڼي ویشتلی

هسې مړه د سپوږمۍ مخیو مکیزونه
لکه کوډې، چې بې کوډو تاویزونه

دنیا یست هیلې د زړه تل کې سړې وې
دومره مړه وو چې د مرګ سترګې مړې وې

چې په دې کې د ټپې اړی له خندګه
یوه ماشومه غوټۍ نو مې غوټۍ رنګه

د دې مړو منځ ته په منډه منډه راغله
تاویل جوړ د سپوږمۍ ماته خندوه راغله

په دې منډو ولې ښادرله سړه پرېووت
حاجي غانبي د بابالو غړه پرېووت

د سپېڅلی شنه سبونه تانده تنه وه
د پېرزو د پرېښتو لاسو کې شنه وه

په یو - یو مړي پرېوځي ورته ښراړي
سپېړي لپې ورته نیسي څه ترې غواړي

د شهیدو شاه ځلموله سره تاو شي
www.libtool.com.cn
ته وې جوړ اوراوړکې د لمره تاو شي

چې سره وینو ته وره بنا پېرې څېر شي
نښتې پښې یې خپله خپل پاڅ زنځیر شي

سر پرې چورلي راپرېوزي خوپل اخلي
ژوندله مرګه پټیلي بدل اخلي

خپل وزر پرې جبرائیل دپاسه نیسي
دچا مټه دچا لاس د لاسه نیسي

ټوله سیمه لوېشت په لوېشت له بمه ډکه
داوړه سینه له غټه غمه ډکه

هسک او ځمکه دګولو له اوره سوړي
د شیطان کانې دیت په جوپراوړي

په هرګام ورته د سره وینو منګي دي
په سکروټو د ګولو ناشنکي دي

که د هسک له تندي ټول ستوري پرېوزي
خورلاړ شپه دلمر پښو ته کېوزي

که په سرو وینو د سیمې ماتم کېږي
خو د زور د سور غلیم کره غم کېږي

داغوښتي د مرګ له غمه ناخبره
له پرهره له مرهمه نا خبره

ډیوه کې دکرمو وینو به کړي بلې
چې زخمونو له ورورې چاچې اتلې

www.libtool.com.cn

اوس به ستورې ورته ښيښه شي پل پې ښکلې کړي
داسرخوږي پلوشې ددې تکل کړي

نړۍ سپینه چې دمیاشتې تنه برېښي
سپین سوچه زرد غوټې والوله زېبېښي

اخوادې خوا غوټې کرځي په هرلـوړي
خدایزده څه دې لادچا مړي به ګوري

دزخمونو درداوچغو په چم کـرځي
داوره حوره دځه شي په غـم کـرځي

په هرلوري سل اوزرمړي پرا ته دی
دشپې کېږه کې دلمرمړي پرا ته دی

دتیاروړلړمون دجنګ په خون لن تودد ی
دګولو په اور دزخم برېښ لا ربښودد ی

له هدې برېښه غوټې ځي لاره اخلي
دتودووینوله چړه داره اخـلي

مخ اوتن په وینوسره ، سره يې لاسونه
وړاندې ځي خوځې د کلـو درمندونه

تن يې ومونداوس دمړه بابا سرګوري
دالاکوم اوداورکی دی چې لمـرګوري

تن یې دلته لښ څاخوا یې سرپروت ؤ

www.libtool.com.cn

د بلا شپې په کولمو کې سحر پروت ؤ

په سرپاندلاس یې د تن سره سرکېښود

په ورو ورو منګولو یې غرکېښود

لوړ د مره بابا په مړي راخوره شوه

د شیطان په سرو حوره غرغره شوه

بابا پاڅه! بابا پاڅه! ورته ژاړي

په ورو چاچوکو پلار پاڅول غواړي

بابا پاڅه! بیو راغې تا به وخوري

کورته ځو بابا داړې زم ما به وخوري

بابا هلته به د موږ خواکې ویده شو

ته خو پاڅه هسې نه چې دلته مړه شو

د بابا کالي راکاږي ورته ژاړي

لیونی سنا پېړی څه له مړي غواړي

خود چانړه چې د خدای دراتلو وروي

هغه مړي له بچو روڅه خبروي

چې د خدای د ساله وږمه نه سا اخلي

لمړد هغوله زخمونو نه سا اخلي

ژړغوني لور د پلار څنګ ته پرته ده

ته وای حوره د شیطان جنګ ته پرته ده

هر یو مړي ته ودرېږي ورته ژاړي
سپېرې لپې ورته نيسي څه ترې غواړي

www.libtool.com.cn

جوړ د درد پرېښ ته خندلی رامېل غواړي
په وصړو چاچو د ستورو امېل غواړي

یا د لمر ذرې ترې غواړي بلېدو له
د دې تورو ورېځو خونو رڼېدو له

یا ترې جوړ د سبا ستر که خال له غواړي
یا ترې کرې د لمر وړانګې تال له غواړي

یا په هرېل درمندونه د ګل غواړي
ابدیت ترې د ځلما د کاکل غواړي

یا په ستوروکې ترې کڼ کورونه غواړي
یا د حورونه د بڼ کوړونه غواړي

په هر مړي ورپرېوځي ورته ژاړي
دا وړه بنا پېرې څه له مړو غواړي

له شهیدو سرو زخمونو پېپه اخلي
جوړ د ګل له درمندو نو لپه اخلي

کله سرو وینو ته کله ځان ته څیر شي
مرګ په وېره شي چې دا کله په ویر شي

خپلو لپو ته او سرو وینو ته ګوري
د سلګونه یې د مړو زړګي سوري

لوريې پاڅېده په غېږکې دېلارسره دي
www.libtool.com.cn
په لاسونود پامير پهلمن لمړ سره دي

او- د شهيد بابا په لاس کې يې نينځکه
تورورېښم څڼې، وړوکې تنه سپکه

داېي لورله وه اخستې په بازارکې
دوړه ښکلو کوچنو ښا پېروښارکې

د ننګ تورهلاپه وينو وه رنګ نه وه
خونينځکه يې په وينوکې رنګ نه وه

لوردېلارپه سينه پروته د پاسه
اوس ګوډی اخلي دمړه بابا د لاسه

په اسمان کې لاداورجو پې خوځېږي
په خوږومزکو دوينو سيند خوړېږي

چې په دې کې يوه ګرمه ګولۍ راغله
پرېښتې له د دوزخه لولې راغله

د ما شوم پرېښتې په تن سره شوه
د شهيد بابا ترڅنګه غوټۍ مړه شوه

د نينځکې تن يې په ګرمو وينو سور شو
د پېرزو وروستنۍ کلۍ ووچې چورشو

د نينځکې د توترو اپېره شوه پاتې
د ژوندون خونه آخر سپېره شوه پاتې

اور- ايرې خاورې اوويني سره يوشوې

اوس ايله چې چېرته ميني سره يوشوې

www.libtool.com.cn

په دې وينو د نــکريزو پورپوره شو

لاس پې سره شو د شهيدې کور پوره شو

برېښ وو، وځليد، سلکۍ وه چې سره شوه

د شهيد لورکه دا مور دامن مــره شــوه؟

د ۱۳٦٦ ورى

پېښور

www.libtool.com.cn

# پرېوتي پُل

پرېوتی تندربه سپين ماتې کړي
له ملغلرو نه به آب يوسي
په يوه شېبه کې به د سينه ترمنځه
په سينه پرېوتي پُل سيلاب يوسي
نو! ستړيه ساقي بېرته کاله ته ستون شه
هسې نه خُم درنه درياب يوسي
اوس به څوک څه تاله کلونه راوړي ؟
اوس به څوک څه ستانه شراب يوسي؟

* * *

۱۹۸۷-اپريل

# زه اوته

www.libtool.com.cn

ته - يو ګل دغوره په سرکې
او زه - يو وړوکى شپونکى
زما نظر - زما له لاسو اوړيد
تا ته د رسي
او زما د فکر دا پې پره وړانګې
خوا ته د رسي
خو - نه زه د رتلى شم - نه د رختى شم
نه مې لاس رسي نه د ې نيوى شم
زما نظر ستا د وجود په احساس
د سپرلو درمن زما خيال ته بخښى
او دا سپيلنى آرزو مې
چې څه هم مومي -
ستا د ښا يست د نظر ماتې په نوم
ستا د ښا يست د فن کمال ته بخښي
زما او ستا ترمنځ زړ کونه کامه
د هر يو کام وهل زړ کاله غواړي
او دا تياره زړ کې مې - يو خوا نخښلى او سوچه پلوشي

www.libtool.com.cn

# انتظار

انتظارکې زما دوه سترګې څلور شوې
خو غوټۍ مې د امید کله ګل کېږي
میخانې ته راشه وګوره زاهده
زما جام کې پټه ستا کعبه ځلېږي
کله ستا خیالونه پټ شي زما زړه کې
کله زړه مې غلی ستا خیال کې پټېږي
په جګړه د محبت، او د خودۍ کې
زور د حسن او پښتو به معلومېږي

۱۶/۲/۱۹۷۲ - اتم تړولکۍ

---

# لنډیزه

شپه را اوږده شوه تر ولاړه سحره
وربل د څنو د ګل تنډۍ له لاړ
ښېښیا بله نظر د ځمو ځنده ته کوري
د کهکشان د نیلي منډې له لاړ

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

# لوی خدای

امېلونوکې د ستورو د ځواږښکو سلسلوکې
پټ ډولې د ثریاکې د وږمو په قافلوکې
د شپونکی د بین نغمه کې د مزدورتودوخولوکې
حیاګانوکې د پېغلو د زلمو په ولولوکې

څه بې ساري شان رڼه ده څه بې ساري شان ګینه
یوه رڼا غوندې خوشته دی لړې لړې سپینه سپینه

چې نغمه شي د بلبلو د ګلونو تبسم شي
د نیمزالې کونډې آه شي د یتیم د سترګو نم شي
پټ شي مینه د پتنګ کې په سلګو د شمعې نغښتې
عجیبه یې فلسفه ده هم مین شي هم صنم شي

لامحدوده شان هستي ده خپله مینه کې سنګینه
یوه رڼا غوندې خوشته دی لړې لړې سپینه سپینه

ستا په کلو- دراختلي سپوږمۍ
دزړزړي وړانګوله جاله غوارړي
www.libtool.com.cn
زه - تش تالیدی شم
دغره ددنګ کمر په لوړه څوکه
څه که دازړه - ستاد ساتنې ارزوګاني لري
او دا سرستا په وږمو کې
دسارا بنکلو سوداګانې لري
خو- نه زه درتلی شم نه درختی شم
نه مې لاس رسي نه د پې نیوی شم
او- لاري زما او ستا تر منځه اوږدي
څه په زړګوټوګامه
چې د هرګام وهل کلونه غواړي
دا تول وختونه شنه - په ځای ولاړ دی
او فاصلې ثابتې
نو ای د دنګ کمر د څوکې کله
تاله به درشم -
خو- که هغه خدای چې ستاد حسن دکمال خالق دی
دګن فیکون په رپ کې
په خپلو تاندو او بزو نرمو کوتو
په خپله پرانیزي زمونږ نښتي ګامونه
په لنډو رکانږي دزمکو تناوونه
1987

www.libtool.com.cn

# قلم او علم

ځئ د ختو د محراب ډيوګۍ کښېږدو
د مظلومو زندانی پرګينو چـم کې
چې د مرګ بلا د زورګيرو وخوري
د الحاد، د دوزخي چم په ســتم کې
د هغه چم وبېي مرو شماره نشــو
تښتي مالکې يې دو ړيږى په ملهم کې
د انسان د خپلواکۍ ساه تنه مــومي
د شهيد له خاورو جوړ ختوم کې
د اقيام دئ دا تکبير د انقلاب بـه
او ږده ساه آخلي، د لنډ وسلکو دم کې
انقلاب يې د هغو ځلمو له دمـه
چې زړي ابى يې پرېښودى په غم کې
سر ايږي ستورى د سرو جنډو خالونه
د ايمان د ببر ځنو په قـدم کــــې
خير که سرې زوري سرتو ورقلم کـــره
خوتر او سه قلمونه وري علم کې

۱۹۸۷

www.libtool.com.cn

# «داشونتې مابله کره»

د خپوغرو د شهید وینه څه وه
د — یرې زوی مرې ابی
دلاس دیوه وه
د خدای دپاکې پیرزو ساه بله کړه
اود سره د ښمن د شوبلې بله لمبه
چې دزلمې شهید په تن سرپیده
د دوزخونو سره توده تیږه وه
د جنتونو په وطن سرپیده
د شوبلې بله لمبه
د مرګ سپیرې شومې بلا بله کړه
د نن سکښې ماښام
د یوه غریب شهید دکوندې سلګو
د یوې تیارې کېږدې چنرته ودراو

* * *

نه د کیږدۍ دیوګي تیل لرل
نه یې د فرش چرګي کې اور بلېده
www.libtool.com.cn
ټول څراغونه د رڼا او ښکلا
ګرمو ورغوو کې د زور بلېده
نور د سلګو او د تیارو په منځ کې
او د کیږدۍ له وره نه
د ماښامۍ په کږ لیچنه لاره
یوه نیمزالې
چې ځواني یې د حیا لرلې
او صحیني یې
د اولسونو د بقا لرلې
په وړاندې ولاړه
وړاندې
له کیږدۍ د پره لرې
لکه شفق د غره له څوکو اخوا
هلته یو کور و
او د نیمزالې لاسو
د تور شادر غوټه پلو پرانیستو
په کې یو څولیتکی شونتی پرتې وې
شونتی یې بلې کړلې
او د شهید په ګور یې کیښودلې

د شپې په زړه کې یې رڼا بله کړه
اودی، د حیا پرېښتې ـ د خدای د پاکې پېرزوینې شاه بله کړه
www.libtool.com.cn
⁂

یوې توري شوبلې خپته وړاندې راښکه
تن وړنه وخوځېد د ېخې سیلۍ
او د ځرخچې د پله د بند د ننه
جلاد فطرتي د ښمن
په سپېرو ګوتو
د یوه ځلمی د زندی مراندې راښکه
بیا هم تن وخوځېد د ېخې سیلۍ
او یوه پېرخټې ـ د وسلې سوداګر
په پالنګې کټ کې
توره پکړی ګوزارکړه
له دې هم تن د سیلۍ وخوځېده
د خبرلو ځو لفاظې پېغله شوه
او دوړځ پاڼو پاڼې وخوځېدې
او د ستهېجونو په سر
د شعارونو د هتو د ننه
په چیغو ناستو ستونو
چې کومې ساه پوکړې
او چې دوړو شهیدانو د خیرات په نامه

اوخواروچ دیګ مار ورته پوکي ورپوکړل
www.libtool.com.cn
نو- له دغو ټولو پوکو
د سیلۍ تن وخوزېد
او هغه سیلۍ
په ورانډې ولاړه
د ماښام په کږ لیچنه لاره
او هلته ورسېده
چرته چې بلې کړې نیمزالي پیغلې
یو څو شونډې د ځیل شهید په خاورو
اودې سیلۍ هغه شونډې مړې کړې
خو- پیغله وروړاندې شوله
شونډې یې بیا بله کړه
اوکړیکه یې کړه
ته داوژلی نه شې
دا شونډې ما بله کړه
داشونډې خدای په خپله ساه بله کړه
دا یتیمانو په ژړا بله کړه
دا یوې کونډې په دُعا بله کړه
یوې نیمزالې په حیا بله کړه

۸۸/۳/۲۳ - پېښور

www.libtool.com.cn

# فارسي غزل

ماکفن بر شانه ها آورده ایم
لرزش کاشانه ها آورده ایم

ـ شی از سجده های نیمه شب
در دل بت خانه ها آورده ایم

بازگیر از ظلمتش دامان صبح
مشت اسفند دانه ها آورده ایم

در نگه دایم، گره از زلف یار
خون در پیمانه ها آورده ایم

چیرکن امشب گریبان سبا
نور بام لانه ها آورده ایم

لحظهٔ سوز نفس از ما بگیر
پیک از ویرانه ها آورده ایم

خیز تا تاریکی ها آتش ببر
ما چراغ خانه ها آورده ایم

پوهنتون پشاور ۹/٤/۱۹۷۹

داشعر د هغه مرګونی امن په غندنې کي لیکل
www.libtool.com.cn
شوی چي دجینوا د تړون سوغات و.

# «مرګ پالونکی امن»

دا زما په هیواد
دا زما د زړګونو د ساه په څرک
د مرګي د تیرو دا خپم پښې

* * *


دا د زور د پا سوال
د خړي کمال
چي د دار د رسو د تال تر یخ
د مړه مات امن
کافوري کفن
د بلا سکوت – د دلی څخه
په کړو وړو تنستو تري

* * *

او چي د خدای د پیغمبرو
په اسرو پايي

ARIC
B
3.532
AKB
2640

www.libtool.com.cn



ڈاکٹر محمد اکبر اکبر

د پامیر دځوکو په سر بنایي
www.libtool.com.cn
د شهید له وینو خړوبه شي
نن هغه بوټي د شړتیا نوکر
د شیطان په بیت
د مرګي په نهیز و تنستو تړي

❖ ❖ ❖

دا سړو په پنجره کي
د ګیر طوطي
د وینا او پیښو
وړه تنکه خوله
د سره زور پا سوال
د شیطان په کمال
د فریبوا و دروغو په شنه بڼ کي
په یوځو دانو د پیستو تړي

❖ ❖ ❖

۱۲/٤/۱۹۸۸
پیښور

www.libtool.com.cn

# غزل

خومره چې مې اوښکې زیاتېدو کې شوې
هومره دا موسکی شوه خندېده پسې

شونډو کې یې پټ د ناز جامونه وو
څکه خو موسکا هم کرېده پسې

خواکې یې پتنګ ایرې ایرې پروت وو
شمع په تیرو کې ژړېده پسې

خیال کې یې د زلفو دلیدو په یاد
شمع دامید مې مړه کېده پسې

خومره چې ظلمونه دیار زیات شولو
داسې زما مینه زیاتېده پسې

هومره امیدونه مې ژوندي شولو
خومره چې مکیز کې پټېده پسې

۱۳۵۰ دحوت ۱۴ نېټه

جلال آباد

www.libtool.com.cn

# موسکا

ستا له خوږې خوږې موسکانه آشنا
ما ته په مینه کې غمونه جوړ شو
چې ستا خیالونه لېونی شو ګُلې
هله ترې زړه کې امیدونه جوړ شو
چې زما مینه سپیلنۍ غوندې شوه
نو ترې د ښکلو ستمونه جوړ شو
د ښکلو ښکلو په کړو وکتلو
د لېونو د خیال تالونه جوړ شو
د چا د مینې محبت خاطرې
د چا په زړه سوی داغونه جوړ شو

---

## لنډیزه:

لکه یو زړه چې لېونی کړي مینه
د معشوقې د خیال کوڅو ته ګوري
داسې زما د او ښکو ډکې سترګې
ستا د ښکلا و پلوشو ته ګوري

نهم ټولګی د حمل ۲۰ نېټه ۱۳۵۱

www.libtool.com.cn

# لېونیه!

ستا نیمزالې غونډې هیلې په مایوسو قافلو کې
یا د پېغلې شینکی خال کې یا د حسن پلوشو کې
د مستۍ په نامه مستې د مستۍ تشو پیالو کې
خپل منزل ور ځنې ورک شي د پانزېبو په ښکالو کې

پار یې د ونکې دې زړګي کې چې د مینې ولولې شي
د ښکلا په دنیا ګۍ کې ورنه جوړې زلزلې شي

جوړ جهان د تخیل کړې نیمو نیمو خوبو شېبو کې
یا کندول کې یا مستۍ کې یا کږو وږو باڼو کې
یا په تال د کمخو ځانګې یا په غېږ د محبوبو کې
څنګه ننګینو باندې سر شي په دنیا د لېونو کې

پټه پټه مسته مینه دې په زړه کې په مستۍ شي
بس د چا په خو نظر وله مستۍ نه لېونۍ شي

چه تیرېږي د زلفو یو شي هله جوړېږي ستا سحر شي
هغه ټول شي مینه مینه چې یو ځل پرې ستا نظر شي
ستا په مستانه مستۍ مست شي کنډولې په کډا سر شي
د مستیو خودي دومره میخانه کې هم اثر شي

www.libtool.com.cn

میخانې درنه لوګې شه شنه جامونه درنه زار شه
ای د مینې لېونیه جنتونه درنه زار شه

د خوبونو یو تعبیر یې د خیالونو په ځولۍ کې
یا پیغام د سپین سهار یې د تیرو په دنیاګۍ کې
یا استازی یې د مینې پټ د حسن رنګینۍ کې
یا خوره وره مسکا یې پېتو شونډو د غوټۍ کې

یوه نخښه یې د مینې د نازونو پیمانه کې
عجیبه ښکلی ساقي یې د سرو شونډو میخانه کې

کله دومره ځان کې ورک شي د شاعر د خیال دنیا شي
کله سوی محبت شي چې په اوښکو کې رسوا شي
یا یو آه شي غلی غلی یا ساماتي غونډې ساه شي
یا د مات زړګي په تل کې ماته ګوډه تمنا شي

یا ته زیری د سپرلی شي چې دګل غنچې کې پټه شي
www.libtool.com.cn
که یو سوز د رځنې جوړ شي د رباب نغمې کې پټه شي

دخوبونو دخیالونو له مستیو جوړ جهان یې
ټول یې هیله هیله هیله ټول امید یې ټول ارمان یې
د مستۍ په سمندر کې دغرور نه جوړ طوفان یې
خو یو څو څاڅکي د اوښکو په حضور کې د جانان یې

بهیدونکي ترمه اوښکه په ګریوان دې دردانه ده
عجیبه جوړه دمیني ستا دمیني افسانه ده

# لنډیزه

زاهد تش په خوله دخدای نوم نه اخلي
ګڼې دی خود غلمانو په خیال مست دی
څوک د خیال بت لیونی کړي په کعبه کې
څوک په جوړه بت خانه کې بت پرست دی

# دلیونو چیغه

www.libtool.com.cn

مونږه چې خپل سرورته اوروروته کړو

دخپل جانان شونډې موسکې کړو

ده چې تور خال کې چې حوره ځای کړو

شیخي د شیخ ورته لولی لولی کړو

آه چې ورېږمه کړو د کښو کو ښوکې

د شپه رڼې تیارې سپورږمۍ سپوږمۍ کړو

ساقي د یار ښایست ته و پسخو

د کړیوان اوښکي چې کوکی کوکی کړو

مونږ لیونی دکوم سپرلي په تمه

دا دازغو جهان غوټی غوټی کړو

نهم ټولګی حبیبیه کابل

## لنډیزه:-

د زور خاوند د زرخاوند را ونیو

ورله د زرو هتکړې کوري

د ښوند د وږو دونږ خونو خلک

د عرش با مونږ کې مری کوري

خیرخانه مینه

۱۳۵٦ / ٤ / ۱٦

www.libtool.com.cn

# څه يم...؟

يا يو آه يم چې دکونډې رېږ د بېدلی ساه کې پټ شم
يا د ورک شپونکی شپېلۍ کې چې نغمه شي پټه پټه
يا يوه سلګۍ د مينې د پتنګ له ايرو پاڅې
ترمراوښکو کې د شمع چې سره شي پټه پټه
يا يوه لړزنده برېښنا چې زړه دوربځوراسوری کړي
د آسمان په شنه څولۍ کې ځي خوره شي پټه پټه
يا آهونه سوي لوي چې له خولې دزيار کښې وځي
د سپېرو شونډو د پاسه زمزمه شي پټه پټه
يا ارمان د چا د حسن د پرهار خړيکه کې ورک شي
که ارزوکې له غوټۍ نه چې وږمه شي پټه پټه
يا يوه کړيکه طوفاني چې د ځواني د ژوندون ساه شي
ياله مروا يرونه پورته يوه لمبه شي پټه پټه
يا د پرخې يوه اوښکه د سهار سپېڅلي غېږ کې
د غوټۍ خندلي خوله کې ځي خوره شي پټه پټه
يا کوکې چې خپل مين ته د سرو شونډو پيالي راوړي
له مکيزه تورو ستر کو کې ترخه شي پټه پټه

www.libtool.com.cn

یا د چاد پاولو شرنگ چې یولېوال زړه ته ښکالو شي
را پیدا د خیال د نیا کې هنګامه شي پټه پټه
یا یوه خپه سلګی چې غلاد مینی را ښکاره کړي
له حیا نه په مری کې غرغره شي پټه پټه
نو !؟
وړونو بس هم دا یې ژوند دی دا یې پټه خزانه ده
او س نو وا یاست چې موسکا ده که داو ښکو پیمانه ده؟

# لنډیزه

لکه آغاز د زړه د څرکې اشنا
پخپل انجام کې څرکه څرکه شومه
یا د نیمزالې هیلې مات احساس وم
شوندو له راغلمه سوې کړیکه شومه

حبیبیه، نهم ټولګی

۱۳۵۱

www.libtool.com.cn

# غزل

هله مې پاکه مینه پاکه شوله
یکې دیار چې فریبونه پټ شو
ستا په کرږو وږو کتو کې اشنا
زما نیمزالي ارمانونه پټ شو
نغمه دې پرېوته په شونډو داسې
لکه وږمو کې چې ګلونه پټ شو
هره ادا دې دزړکي ځریکه شي
ګوره ارزو کې هم دردونه پټ شو
د چا د تورو کمڅو تل کې خداېږو
د چا لاروکې امیدونه پټ شو
ستا موسکیدو کې خاطرې مستې شوې
داخو په مینه کې غمونه پټ شو
شیخ له کعبې نه میخانې ته راغی
چې مې کندول کې جنتونه پټ شو

۱۳۵۱ کال د جوزا د ریمه نېټه کابل - حبیب الرحمن هیرمندی

www.libtool.com.cn

# غزل

دڅو مايوسو ارمانونو غيږ کې
ديو څو اوښکو څڅېدو په خاطر
دغه زړي پيماني ماتي کړه ته
ساقي د نوو کنډولو په خاطر
خپلې څو اوښکې ستا موسکا به يو کړم
تش د خيالونو خوړ ېدو په خاطر
يو څو خوبونه دي تر نن غوندې شه
اشنا زما د شوګېرو په خاطر
ساقي د يار شونډو ننښه ننښه کړم
ستا د کنډول د ماتېدو په خاطر
اسويلو لړ څه ګړندي غوندې شئ
د تورو زلفو خوړېدو په خاطر

دجوزا دريمه ١٣٥١

حبيبه - اتم متولکی

www.libtool.com.cn

کله تالنده بربښنا شي تندرونه ورکې ورک شي
کله اوښکه د شبنم شي سره ګلونه ورکې ورک شي
کله خیال د لېونو شي تورو زلفو کې ورکېږي
کله آه د بې وسې شي طوفانونه ورکې ورک شي

لکه خیال د تورو سترګو هم خوږونکې هم حسینه
یوه رڼا غونډې خوشته دی لرې لرې سپینه سپینه

بت خانې د تصور کې د آشنا د شوندو رنګ شي
خمارې غونډې نظر شي د کوکې د بنګړو شرنګ شي
یا یوه شړیکه د زړګي شي ورکه ورکه تمنا کې
یا ښکالو په انتظار کې کله لرې کله څنګ شي

که حیا د ښکلې پېغلې هم مستي شي او هم مینه
یوه رڼا غونډې خوشته دی لرې لرې سپینه سپینه

تورو وریځو کې رانغښتي بارانونو کې ژوند دی
د پرهر موسکا کې ورک شي ارمانونو کې ژوند دی
پټو پټو خاطرو کې د غمژن ژوندانه راز شي
د خوښیو تمناده په غمونو کې ژوند دی

www.libtool.com.cn

# د مينې غرور

ما مې داوښکو څڅېدو کې پټ کړه
که څه هم حسن دې طوفان شو
پاکې حيا يې مدهوشې را کړله
ن تخيل چې مې جانان جانان شو
پرهار د زړه يې را تازه غوندې کړو
ديدن يې هم راته هجران هجران شو
ما ترلمنې پورې څېرې کړلو
چې ستا بېړونې مې ګرېوان ګرېوان شو
اوښکې سرې چې مې کلوکې را ورېږې
سا يست د يار ورته حيران حيران شو
ستا د ښکلا غرور نس س غوندې شو
غرور د مينې چې افغان افغان شو

۱۳۵۱/۳/۲۸

حبيبيه کالج - کابل

www.libtool.com.cn

# غزل

زما مستۍ کې لېونتوب پیدا شو
دا د حیا نه چې موسکۍ غوندې شوه
څوکۍ په تل کې د کمڅو ېټه کړه
چې مې آرزو وغوښتې غوښتې غوندې شوه
د پتنګ مینه چې لوګی لوګی شوه
او ښکود شمعې کې سلګۍ غوندې شوه
کله دې شونډو کله سترګو کړې وې
اشنا دا مینه خوکوچنۍ غوندې شوه
ستا خاطر و کې څما ترمه او ښکه
ترو ره پر پوته موسکۍ غوندې شوه

۱۹۷۲ داګست لومړۍ نېټه
کابل

## نره

www.libtool.com.cn

اسویلي ځما نغمه ده یو شراو ښکلي مې تصویر دی
هسې جوړ یم له مستیو دغرور هغه جنون یم

د نیالګه کې د یوې او ښکلي څه تر ورغوندي احساس یم
طوفانونه چې تري تښتي ستا دغېږ هغه سکون یم
تکني غوندي سلګۍ مې ژوند د ستورو د نڅا شي
عجیبه مې فلسفه ده چې په مرګ کې هم ژوندون یم
ترمه وینه د زړګي مې د چا شین پرونی سور کړي
د آشنا په شینکي خال کې زه دمات احساس شیخون یم (نو:)
دا خیالونه مې تالاکړه دا ځواني ځما لوټ کي کړه
خوشمله مې ټیټه نکړې ګوري پام کوه پښتون یم
د ۱۹۷۲ کال داګست ۲۴ نېټه، کابل

---

## لنډیزه

د چا د سرو شونډو رنګین خیالونه
په شوګیرو کې رنګیني راولي
شبخه پناه شه سپیلنی به دي کړي
دلته کې مینه لیوني راولي

# مړ احساس

www.libtool.com.cn

لکه مړ ژواندی اسوېلي له سینې و شونډو پاڅي
دیو ځوانو ښکلو سلسلو کې پټېدل غواړي

یا د سپوږمۍ له حسنه پوره پلوشې غونډې شي
د تورو شپو د لارې لیت شي ځلېدل غواړي

یا د سکڼې ماښام شفق د ښکلو ستورو منځ کې
په شنو خالونو د آسمان کې ورکېدل غواړي

یا لکه مستې هنګامې دلیونیو هیلو
د زړه لړزانده دنیاګۍ کې لړزېدل غواړي

یا ډېوګۍ د تورې شپې چوپه چوپتیا کې خدا یږو
تش په هوس د سپین سهار چې سوزېدل غواړي

داسې د مړو و ارزوګانو مړ احساس هم آشنا
د زړه مړ ژواندې دنیاګۍ کې غوړېدل غواړي

۱۳۵۱ د جدی ۱۶ نېټه

www.libtool.com.cn

# زلمي شاعر ته

ای د زلمي شاعر احساسه را شه
داسې د مينې يو جهان جوړ کړه
چې د ستم د ښروند بقا ورک کړي
د تخيل نه دې طوفان جوړ کړه

د کوروګورو تورو زلفو په مخ
د پاکې مينې لېونتوب شه راشه
د چا فرهاد د حوصلو په خاطر
د چا شيرينې مينتوب شه راشه

تش د سورو شونډو خيالونه پرېږده
د سپېرو شونډو ونه ګلونه جوړ کړه
ترمه خوله شه د بزګر په تندي
چيو چيو کې سېلابونه جوړ کړه

چې دا ازغی ازغی ماحول وخاندي
یو ځو موسکي موسکي ګلونه راوړي
چې د سپرلي ساقي د میو په تول
په کنډولو کې جنتونه راوړي

چې د ځواږښکو په ډولوکې پېټې
د رنګينيو قافلې راشــــــي
په وچو کاڼو چې د ښتو باندې
د ننګ غيرت ډکې وږمې راشي

چې د سپين غر د نګو ښوکو منځ کې
د عظمتونو سره ګلونه ګل شــي
دا باسين د رنو درنو ځپو کې
د ځوانو زړونو همتونه ګل شي

چې د بخدي[۱] په مقدسه غيږ کې
د پښتونوالي د يوګړه بلې شي
هره سپرغۍ لمبه لمبه غوندې شي
خړو ايرو کې لمبګۍ بلې شي

---

«۱» بخدی ـ د افغانستان د اوسني بلخ پخواني نوم



www.libtool.com.cn

د خیبر تږي د آسمان لمن شي
پکې د ستورو اتڼونه جوړ شي
د کونډې آه د شنه سپرلي وربځ شي
د رحمتونو بارانونه جوړ شي

ورانې جونګړې تورې توري سمڅې
د ورورولۍ په ډیوګورڼا شي
د تورو شپو تیرې تیرې لمنې
د سباوون په پلوشو رڼا شي

توبې توبې کنډول ساقي شي
په کانو بوټو کې مستي خوره شي
سپیرو لمنو کې غاټول وخاندي
د زړه داغونو کې هستي خوره شي

د هندوکش د غرو غرونو غیږ له
د پښتونخوا ناوې سینګار شي راشي
د سره ګلاب پاڼو کې پټه پرخه
وږمه وږمه بهار بهار شي راشي



www.libtool.com.cn

د سرات ځانګړې د حسنونو پېغله
د طبیعت د ترنم زېری شي
د تیراوال شپونکي لارورکي آواز
نغموکې پټ د زیروبم زېری شي

چې د بامیان د بتکدو په غېږکې
د پاکې مینې خاطرې ژوندۍ شي
د روهستان خوره وره سینه کې
د سرو ګلونو قافلې ژوندۍ شي

چې د خوشحال د نغری بخرکې
په نوي سوز کې نوی ساز راکړي
چې د رحمن د هدیرې د یوکې
د حقیقې ژوندانه راز راکړي

چې د کونړ د مستو پېغلو نخا
د مینې شور د غیرت زور جوړ شي
چې د تیرو دغه مزل مو پرې شي
په سپینو سترو کې موکور جوړ شي



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

نو !

احساس داسي تقاضي نوې کړه
چې نوي سازکې حوصلې لوبوي
هغه مستي دې را ښکاره غوندې کړه
چې تندرونه زلزلې لوبوي

ننګرهار
۱۳۵۱ دحوت اتمه نېټه

---

# لنډيزه

ته ما ته مه ګوره تا نشم کتی
زما نظر رندوا سرو ته ګوري
که ما را ګوري نو زما ګلی شه
زما ګلی خپلو ګلو ته ګوري

۱۳۵٦/۱۱/۵

# غورځنګ

www.libtool.com.cn

جام کې د میوو ړنګېدلی نشي
دا د غورځنګ د ولولو قافلې
د ژوند منزل ته ړسېدل غواړي
د مظلومانو د سلګو قافلې
په تور اوربل کې پرک د ستورو کوري
کوکې زما د شوګېرو قافلې
نن د آسمان په لمن اورلګوي
د انقلاب د سرولمبو قافلې
دلته اغزو، اغزو کې ورکې شولې
ځېښتنه ستا د پسرلو قافلې
دې تروږمۍ کې سپوږمۍ ته شوله
که راخورې شوې د ګمخو قافلې
نور دې ژوندون کې یو بدلون راولي
د لیونتوب د تلوسو قافلې

## لنډېزه

ښکارېږي چې په مینه کې پښتو را سره ملګرې
دا ځکه د زړه ځړیکه مې خود داره غوندې شي

۱۹۷۳ د مارچ ۲۵ نېټه لسم تولګی

د ډیوې سلګو سلګو کې کله ژوند شي کله مړینه
www.libtool.com.cn
یوه رڼا غونډې خوشته دی لرې لرې سپینه سپینه

په تیرو د تورو شپو کې پلوشو د سبا وون کې
په دنیا د اسویلو کې له سلګو نه ډک ژوندون کې
د شیخانو په کعبه کې د رندانو میخانــــو کې
د شاعر لیونی خیال کې فلسفو د افلاطون کې

د عرفان د شمعې پرک شی هڅو وړانګه یې زړینه
یوه رڼا غونډې خوشته دی لرې لرې سپینه سپینه

نو !
ای دلرې رڼا راشه دا تیرې تیرې فنا کړه
دیتیم په اسویلو کې د سرور دنیا پیدا کــړه
د دې شپو زړګی سوری کړه د سبا دستر کې ځلا شه
د دې سپینو ستورو پرک شه کائنات رڼا رڼا کړه

ورورولی راکې پیدا کړه بس د مینې یو تړون شه
ای د ټول جهان ښېښتنه یو سپرلی شه یو ژوندون شه

www.libtool.com.cn

# د پسرلي سینه

د پسرلي رنګونو ترمې سینې
ستا هره څرېکه کې طوفان پروت دی
غوټۍ، موسکی شه ستا موسکا کې خدای برو
د شپې د خوا وسکو جهان پروت دی
ما شوم نظر کې مستې مینه راکړه
دا ګیر چاپېره خو هجران پروت دی
هر تخیل مې د جنون د نیا شوه
چېرته خودي، چېرته جانان پروت دی

لسم ټولګی حبیبیه کالج کابل
۱۳۵۲

www.libtool.com.cn

# پاکه مینه

دا خوږ مینې ښکلینې وه ساقي
چې له مستیو نه طوفان جوړ شو
تروږمې اوښکې پکې ورکې شوې
ستا لوپټه زما ګرېوان جوړ شو
د پاکې مینې لیونتوب دې پیره
دا چې هجران را ته جانان جوړ شو
تنکي نیشې د جومات ور له بوتلم
کوږ د الله کې مې جهان جوړ شو
او تږې اوښکې پکې وځلېدې
خیرې لمن کې مې آسمان جوړ شو

لسم ټولګی حبیبیه کالج - ۱۳۵۲

www.libtool.com.cn

# لیونۍ کړیکه

دچا دسو و اسویلو په تل کې
دچا په سروشونډو نغمه پرېوته
کمڅۍ په مخ خورې ورې زلفې شوې
په سپین سهارې توره شپه پرېوته
دکونډې آه دچا شتمن ما نوکې
لیونۍ کړیکه شوه لړزه پرېوته
اوښکو کې پټې موسکۍ شونډې شولې
څیرې ګریوان کې مې نښه پرېوته
اظهار دمینې دزړه داغ شو آشنا
حیا مې پښو کې زولنه پرېوته

کابل-۱۹۷۳

---

# لندېزه

اې د رنګینو رنګینو خاوندو
دچا سپېرې شونډې خوهم وګوره

چې تل کا ته کوې سرکو شونډو ته
ایرې ایرې شونډې خوهم وګوره

# بدلون

www.libtool.com.cn

توري توري لړې راغلې
ددې تورو غرونو سر له
طوفانونو غېږې ورکړې
خاموشي د سمندر له

بوګنېدلي غونډې هيله
يو بوګن غونډي شوخور شو
د سباد سترګې ځل هم
د تيرو په تهمت تور شو

د ښکلا د ډولۍ ناوې
د حيا ډالر کې پټه
د اغيار کلي له لاره
د غرور ټالر کې پټه

د ماښام خړه فضا کې
د شفق دنيا تالا شوه
د پرهر زړګوټي وچاود
څو سلګۍ د مينې سا شوه

د وختونو جادوګـــري
د تدبیر سترګي ړندي کړي
www.libtool.com.cn
د ستم خمارو سترګو
د ضمیر سترګي ړندي کړي

خپله مینه راته اور شوه
دماشوم زړګوټي تل کي
ارمانونه غرغره شول
ستا د تورو زلفو ول کي

اسویلي لوګي لوګي شو
امیدونه سپیلني شو
اشنا ته چي خوشحالیږي
خیرکه مونږ لیوني شو

خو! که یو ځل د وینو څاڅکي
د دي سپینو تورو آب شي
سري لمبي د انقلاب به
د تاریخ خونړي باب شي

لسم تولګی حبیبیه کالج کابل ـ ۱۳۵۲

www.libtool.com.cn

# غزل

دحرم کښې چې ملدې دي ګلــــــې
کعبه کې جام، جام کې کعبې دي ګلې

وروستو سلګوته مې موسکې غوندې شه
یو خوشبویه مېلمنې دي ګلــــــې

دتیک چار ګل سیورې پرې وغوړځــوه
دلته یو خوږ شرېکې ویدې دی ــــ ګلې

تالاوالاشړلو داو سنبکو بهــــــــر
داموسکې شونډې خومره غلې دي ګلې

واه دخورو، وروکمځو دې خیروي
شپو کې سبا، سبا کې شپې دي ګلې

نسیم په سرو غوټو شبخون کړې دی
تنکۍ تنکۍ پاڼې یې سرې دي ګلــــې

www.libtool.com.cn

ماته خوبس دژوند خمار ښکاري
چاويل چې ستا سترګې لمبې دي ګلې؟
دشملې ول کې خپل پړونې راکړه
چې تلوسې مې پښتنې دي ګلې
۱۳۵۲/۱۱/۲۶

## لنډيزه

ځواني مو شوله له باکه پاکه
ګرېوان مو څيرې سينه مو چاکه
ساقي په ملو مو سود، ونه شو
يو ولپه ترې وينې دې راکه
کابل
۱۳۵۴/۹/۴

www.libtool.com.cn

# غزل

د مریمي پېغلتوب دې د مستۍ ډکه حیا ده
پېړه! وایه چې دا څه دې تقدس دی که ګناه ده؟

غلچکو غوندې کتوې د ژوندون آرزو ژوندۍ کړه
په دې سحر یې پوه نه شوم چې وفا وه که جفا ده؟

یوارمان د موسکو شونډو سره او ښکو ته سور اور شو
دا لاڅنګه محبت دی دا لاڅنګه تمنـــــــا ده؟

د پتنګ سپېلنۍ مینه د ډیوې لیمو کې ناڅې
ترپېدل د ځنکدن دی که د نوي ژوندون سا ده

چې ځوانۍ مې پرې تالا کړم دا په سترګو کې موسکې شي
عجیبه غوندې کټل دی عجیبه غوندې سودا ده؟

ترمه او ښکه ثریا شوه د کرېوان خیرې سینه کې
ابتدا د لیونتوب ده، که د مینې انتها ده ؟

د نسیم پرهونۍ پرېوت د سبا سپینو پاپوکې
څومره تانده خود، داري ده څومره ښکلې التجا ده

لېونۍ سپیلنۍ مینه بندګي نه ده نور څه دی
زمار به او س به کورو کوکې ستا ده که زما ده

۱۳۵۲/۱۱/۲۸ - ننګرهار

www.libtool.com.cn

# غزل

کاږه کاته یې ټکني غوندې کړه
بیا د خود دار وا سو بېلو دنیاګۍ

ښه ژنګ د زنځیر ساقي ښکالو کښې اوس
د ماتوماتو نړولنو دنیاګۍ

مخ له مکیزه په پړونی پټ کړي
ادا یې هم شي د پښتو دنیاګۍ

سپېرغی، سپېرغی، دوزخ دې پټ وساته
مونږ کې لا شته دی دلبو دنیاګۍ

پام د ښکلا پلوشو ورکې نشي
ډېرې تیرې دي د دې شپو دنیاګۍ

لیسه تولکي حبیبیه - کابل

۱۳۵۲

www.libtool.com.cn

# خونړۍ لمبه

دا چې شوه پورته خونړۍ لمبه د شپو زړګي کې
ګلې نور څه دي د سحر لیمو مې اور واخیسته

په لمر سپوږمۍ باندې یې خپله زما داغ پرېوته
ما چې پخپله لمن ستا د مینې تور واخیسته

سوراسویلي مې د منزل په تندي پل کېښوده
ستا د کمڅو تورو کوڅو کې چې مې کور واخیسته

د پرخې او سبکه د ګلاب په تندي پرېوتله
لکه غوټۍ چې د سباد ستر ګوتور واخیسته

چې محشرونه را ولاړ کړل پښتنې ځوانې دي
د جنت حورو د ن نه موږ تې ښایست پور واخیسته

یوه زلزله به شمه ستا د محلونو زړه کې
که زولنو مې د لیلا د ښکر و شور واخیسته

۶/۱/۱۳۵۳

د میلادالنبی ﷺ په ویاړ:

www.libtool.com.cn

# ځوانه ته څوک یې؟؟؟!

د ستورو لاندې
دې نیمه شپه کې
چې خوب هډوکو ته د سبارکوز شوی
ستا له اوږو نه زما بارکوز شوی
او هغه بارکوز کړو
بار د زړې بوډۍ
د کالو پنډه زوړ
له د عمرو روستنی کلونه
کاږه لوبنی
یو د اوبو کنډول. مورکۍ یې ماتې
له بې لاسو ته، په سر زخمي غوړونه
او ځوان بارکوز کړو
د هغه تلو د پښو
شکوکې پل جوړ کړی
او اراده یې مرګ له اجل جوړ کړی
نېغو بار خوته یې آسمان تېټ شوی

www.libtool.com.cn

# زه او ته

آشنا ته، ته يې اوزه، زه يو سره

---

ته دخمار وستر ګو، يوه خوبولې نڅا
زه دځوانۍ دغورځنګ يو طوفاني اسوېلی
ته دمستۍ په تندۍ ځاځکی خوله دحيا
زه لېونۍ تلوسه، يو ارماني اسوېلی
ته دسهار دستوري، يوه خوريدونکې وړانګه
زه دمظلوم په شونډو يو لافاني اسوېلی
ته تس نس شوی ګېله، يوه لارورکې ادا
زه دپامير سندره، يو افغاني اسوېلی
نو:- آشنا ته، ته يې، اوزه زه يو سره

---

ته دشبنم اوښکه يې له تبسم نه ډکه
زه دپرهار په شونډو دچا دکړيکو بېلګه
ته دتنکی محبت تنکۍ نېشه يې ګلې
زه لېونتوب دمينې دتود وځړيکو بېلګه

ف:- د قسمتونو ويش دی دغسې ښه يو سره
آشنا، ته، ته يې، او زه، زه يو سره

---

ته د بدنامه ساقي د کنډولونو کډا
زه د خيام جنون يم - له سرو اوزونو نه ډک
ته د مايوسې مينې يو لړزېدلی نظر
زما قانون انقلاب له طوفانونو نه ډک
ته د کرېوان په خندا يوه ملغلره پرته
زما داغ داره زړګی له سرو لالونو نه ډک
ته د وږمو قافله راغلې او لاړه به شي
زه د سپرلي تقدير يم، له سرو ګلونو نه ډک
لکه تروره کاته تش په ليمه يو سره
آشنا - ته - ته يې، او زه، زه يو سره

---

ته د ماشومې ښکلا غلې مدهوشه چپه
زه پرکړ د تاندې مينې ستا د نظر سينه کې
ته د خاموشې ځوانۍ يو ترهېدلی سکون
زه چورلېدونکی تندر، د زور او زر سينه کې
ته د ختونو په مخ د مايوسيو تصوير
زه د موجونو اتڼ د سمندر سينه کې



www.libtool.com.cn

تہ خزانہ د حسن د ما تو زړونو خوب شې
زه د احساس لمبه شم ستا د ځيګر سينه کې
www.libtool.com.cn
پوهېږو دواړه کله، چېرته او څه يو سره
اشنا تہ۔ ته يې، او زه، زه يو سره

خو۔ نا۔

ای ګلونو غنچې، ای د پرهار نـاوې
ای د نغمو تيند که۔ ای د بهار نـا وې
ای لکه سپينه اوښکه پاکې ماشومې کوکې
ای د ساقي منګولې، ای د خمار نا وې
راځه چې يو شو سره، يوه هستي غوندې شو
چې دا پستي ورکې کړو، داسې مستي غوندې شو

نو!۔ ته د مسيح اثر شه د لالهاندو آه کې
زه يې له ترمواو ښکو د څپښتن نور جوړوم
ته د شمشاد په تندي خوږې ورې کښې شه
زه د خيبر تر وکې بل کوه طور جوړوم
ته د اخمارو لوته لاس د نيمزالی سوکړه
زه يې د خال له تور ونبا يست د حور جوړوم
ته د شهيد په وينو روستی سلګی لمبـوه
زه د يتيم التجا د چا غـــرور جوړوم
بيا به زه تريم آشنا، او ته به زه يو ســره
چاويل تہ۔ ته يې، او زه، زه يو ســره

زه به قلم شپېلۍ کړم د هند وکش شپونکی ته

www.libtool.com.cn

ته به يې نغموله ورکړې د سُراو چنګ خزانې

زه به دُر خوشحالونډي کړم د آدم خان سينه کې

ته به ګودرله ورکړې د شرنګا شرنګ خزانې

زه به دا ستوري ګډ کړم د باړي خرزکې کې

ته يې، سيلوله ورکړه د ګل د رنګ خزانې

زه به تقدير موسکی کړم، د چا مزدور منګول کې

ته دالار ورکی مست کړه، واخله د بنګ خزانې

نوی ــ مرګ له به غاړه ورکړو، د بل ژوندون په خاطر

ګل به از غوکې ټوکوو د خپل جنون په خاطر

خواره به يوکړو سره د روڼ منزل په لټه

راځه چې يو شو آشنا د نوي يون په خاطر

۱۳۵۳/۱/۱٤

# لنډيزه

دځيګر وينه شوه له اوره ډکه

د جانان غمه چې دزړه کورته شوې

درځيدلو ارمانونو سترګې

د ځوانی لاروته ايله پورته شوې

www.libtool.com.cn

# د مینې اوج

دا په خپله خوانه وینه رنګین چاکړم ګلګون چاکړم؟
د مړ شوواندی آرزو زړه کې، بقا چاکړم ژوندون چاکړم؟
دا که رنګ د سور کوشوندو د پرهار سینه کې نه وی
نو، ای د سرسرور خاونده تږی زه د شبخون چاکړم؟
چې سکوت مې طوفاني شي انګازه یې دوالوشم
دا دیوې ښکالو په لټه شړنګا چاکړم سکون چاکړم؟
د بلبل د وینو رنګ چې دا زغو په څوکو کړه شو
ګلاب پېټ مالیار ته ووې، سپرلی څه وي زرغون چاکړم؟
دا که پرک د مینې نه وی د ې رندې غوندې دنیا کې
نو، ته مور د حسن چاکړې، او زه پلار د جنون چاکړم؟
دا چې خیال کوکی کوکی کړم، له حیا مې بانه تیټ شی
دې بېلتون کې مینه چاکړم، محبت کې بېلتون چاکړم؟
دا خو ستا د مینې اوج وم چې ستا مینې غرغره کړم
کنې ای د جلاد رڼه، منصور څوک وو، هارون چاکړم؟

کابل - ۱۳۵۳/۱/۲۰

www.libtool.com.cn

# غزل

سترګي لیمو کي د عقاب واچوه
نظر په دي خانه خراب واچوه

وږمي يي بوی د تورو ښنولــري
شاهينه خپل وزرکي تاب واچوه

اوښکوله رنګ د چاد شونډو ورکوم
ساقي ګکوکيــ مي شراب واچوه

غږ شو د شپو زړګي کي لمر وځليد
زرشه په سپين مخ دي نقاب واچوه

زنګ مي له تورو زنځيرونو واخله
شرنګ د بنګړو کي انقلاب واچوه

۱۳۵۳/۱/۲۸

www.libtool.com.cn

## رسوامینه

اوښکه لیمو کې په نښا شوه آشنا
بنه شوه چې دامینه رسوا شوه آشنا

خونکار نظر دې دلبونه ډک دی
ماته خوستا ښکلا بلا شوه آشنا

بیا د تنکي احساس بې داغ لمن
دارمانونو قتلګاه شوه آشنا

د اسویلو پر څوبې سوزه نغمې
د ورو ستنو سلګو ادا شوه آشنا          پرولیسم ترنګی

## لالیه

خونکار نظر دې موسکی نه شو د پرهار سترګو کې
نور به دې ګډیږه لالیه د اغیار سترګو کې

د ګل له پانو شرابې اوښکې د پرخې ښاځي
داغزو څوکې راټوکیږي د خمار سترګو کې

دعل ربه پښتنو ځوانو کې شروند و غرږېد
دلیونو سلګی موسکی شولې ددار سترګو کې

۱۳۵۳/۲/۲۸

www.libtool.com.cn

# لېونۍ تنده

تورې سترګې مې سرې نه شوې اسویلوی اور وانه خیست
دا مې تنده لېونۍ شوه، که کنډول کې شراب نشته ؟
په بلې د میکدې دې دا زلموټي وینې توی کړه
ګني دې سپېرو چنو کې ساقي رنګ د شباب نشته
تورې څنې شین لوګی کړه په سپېرغو دا سویلو دې
هسې نه څانګه موسکۍ شي، چې آهونو کې تاب نشته
د شبنم داوښکو څاڅکی، دا زغو په څوکو بار شو
د رګ رګ مراندې یې پرې شوې، اننګی د ګلاب نشته
څنګه ستا خونکاره حسن پېټې سترګې پرې راپرېوت
چې د ځوانو وینو رنګ کې بې رنګي د ثواب نشته
ای د لمر د وړانګو زیلو، زما لارو کې خورې شئ
چاویل چې مې وزرکې ارادې د عقاب نشته
د هلمند طوفاني ژونده د زلموتلوسو سا شه
ګني زړنګ د زړولنو کې رنګ د بل انقلاب نشته

۱۳۵۳/۴/۱

خیرخانه-کابل

www.libtool.com.cn

# غزل

زمانصيب دى چې ترخه تېرېږي
په تا دې ټول عمر خوږه تېرېږي
دزلفو کور سيورى دې تانده اوسه
کله نا کله به مې شپه تېرېږي
او به تيرى يې، خيال دزلفو جوړشي
درنډو کسو شپه خوږه تېرېږي
دګرېوان تاره ورته بندو تره
ټول اباسين يوه چپه تېرېږي
نظرې ستا داوږدې برېښ کې ننبلى
توده غرمه شوېمړه اوږده تېرېږي

۸/۲/۱۳۵٤ خيرخانه ـ کابل

## لنډيزه

زړګى يو شوغوته خبرې لرى
دا چې راکوري ځکه غلى شمه
ګنې که وائې ستا دمينې په تور
د دار تختوته ورختلى شمه

www.libtool.com.cn

# بې لارې

حسن بې داغ نشي سکښې ځوانۍ ته
ختـه د عشق بې اوم غلـنـه پاتې
دا د بېلتـون کوڅوکې ورک لالې مې
په پولادي بیتر[1] د نـنـه پاتې

د تورو کړوو سـیـنې سـرې وینې شي
د تور بار خو جلاد بې دارې څـارې
د تور قسمت توکـسو تور کې او به
د تورو سترګو د خیال لارې څارې

د سپینو زړو او بړی نه ځـلـیږي
څنګ به د زلفو ول کې خال کـوړو
مونږه پخپلو او ښـکو خپله مـین
په خپلو او ښکو کې دې خـیال کوړو

---

(۱) له شنو لښتو نه اودلی « اوبدلی » دیوال ته ویلی کېږي ۰

او قلمي کوتو يې . . .

www.libtool.com.cn

په نرو شو کو . . .

د خدای له مينې

په خدای مينو له ازل جوړ کړي

شپه د مکې کړ و، کو شو کې تاو شوه

او ځوان . . .

ديوې کو ټې له خمکې

د ښار آسمان ته کتل

د هسک له خلاصو کړ کو

د ستورو کر مې رڼا

لکه ارزو د سترمنو پيغلو

د ديوالونو د تنو له چاو ده

کړ و، کو شو کې کو رد جانان ته کتل

او چې ساه . . .

د ز ړې شپې ما ته شوه

نو، يوه ساه ماتې بو ړ ی

په سر يې پنډه پروت

امسا کړ ه کېږ دي

پل يې ترې کوږ شي

ځوان ورته لنډه شو

چې ته پرې خوښ یې مونږ دې سره لمبه شو
www.libtool.com.cn
راکړه، د مړو کټو اجل لا لیــــه
دارادو یا پې دې مه راکاږه
ای د نیمګړو لاړو مل لا لیــه

لږ د بارخوږ خوږکې دې مړاوې نیسه
داخر یکې پام زړه په خنجر وهـــې
اغیار د یار د سرو منګولو ګل شـــو
زور مې د زړ په توره ســـر وهې

خُم له چیو چیو شرابو ډک شـــو
هــره چپه یې انقــلاب لـــري
د هغو شنو جامو نو خیر دی راوړې
چې د ساقي د شونډو تاب لـــري

د چالاړو ور کومو تې زړونه مست یشو
د لویو خلکو له کړ خور اتبنـتي
سرېي بلاد چاد زلفو اخـــــلي
چاویل؟ د دار له تنستو را تبنـــتي

دا تنکی ګل وېل لمبی لری
www.libtool.com.cn
ساقي دا يخې اوښکې اور خری
خال د کوکو په تندو بيا وځلېد
زلمی د زړ د خاوند نه ور خری

ګل يې د طور ګړۍ د نظر سپېلني
ورېږي ورېږي ارادې غرجوړېږي
پامير دې کورکړه د خيبر ګربته
سالنګ په کور د ننه ورجوړېږي

ته يې نيمزالې ارزوګانې ګڼه
مونږه خو زړه لرو ارمان لرو
چې دې خراکوری غږي هسکه نيسه
ورانو جونګړو کې اسمان لرو

پام خفه نشي د مانو جانانه
ته د جونګړو مينه نه پېژني
اى د خيام د جام په ګل مينه
ته د اورونو وينه څه پېژني ؟

نو !

www.libtool.com.cn

دناز ځولې کې لوبېدليه اشـــنا
په لپونو دې ترمتونه بار شـــه
زمونږ د ترمو ترمو وينو ســـرخي
ستا په نظر پيتي دسره خمار شه

خيرخانه ـ کابل
۱۸ / ٤ / ۱۳۵٤

## لنډيزه

تاندشه ترهسکه، دګرو تاکه
پاکه ترسپينو پرښتو پاکه
ددارپه سرد سلګو ستوني وچ شو
داپه زنځير ترلي ځم دی وا که

۱۳۵٦/۱۱/٥

## غزل

د سبا په سپینو څیرو بیا تیرې جوپه جوپه شوې
تا چې زلفې خورولې، تا چې سترګې تورولې

چې د سرو شونډو موسکا دې د کنډول مورګې رڼې کړې
د سرو مُلو خیمې تندې، په سرو مُلو پرېوتلې

شوګیرې مې سپیلنې شوې، ستا د خیال رڼو ککوته
د ماښام کورې تېرې وې روڼ سهار ته نڅېدلې

ماویل جوړه په سره شفق کې د هلال خنجر بربنډ شو
چې د خیال د ځیګرو وینې په اوږې دې څڅېدلې .

د ترخو کتلو خیاله لږ شمکور نظر له راشه
را نه کسې پرېوتلې چې ستا لارې مې کتلې

له پښتون اسویلي زار شم تورې څڼې يې پښتنې کړې
څه په تېک خورې ورې شوې، څه په تهنده پرېوتلې

۷ / ۲ /۱۹۷۶

www.libtool.com.cn

# غزل

دګوګل تورتیپی تت شول، د بدرنګه تهمت رنګ کې
د سکوت زړکوټي وچاود، د غلام د زنځیر شرنګ کې

دکږو بار خولبنکري تریخ نظرته بدرګه شـــو
د نغمې شړبه تغمه شوه، د ساقي په ګونګي چنګ کې

خورې څنې دې کمڅې شه ای تنکی نوخېزه یـاره
هسې نه خال دې پیکه شي د تندی او زلفو جنګ کې

خیال د حسن دې رامه شه د زندان تور و تمبولـه
داوړی خیال دې زنګ واخیست د سپېرو زولنو زنګ کې

ړندانې کاته مې لوټ شوای د جګو مانو یـــاره
ستا د لوړ دېوال په څوکو، ستا د دنګی بلی څنک کې

د زرینو شپېلو شړېو د انغمې موسرې لمبې کړې
اوردیخ اسویلي واخلئ له لاړو رکونه قلنګ کې

۲/۸/۱۹۷۶

۱۹/۱۱/۱۳۵۴
خیرخانه ـ کابل

www.libtool.com.cn

# تلوسې

د شبنم د اوښکو ځاځکي
په دلو دلو را څاځي
د غوټو په موسکو شونډو
چا ليدلي په يوترنګ کې ژړېده، او موسېده؟

د پتنګ لېونۍ مينه
د ډېوې له ليمو کړځي
په سلګو کې يې ورکېږي
دالاڅوک بايلي په اوښکو، کله يې ده اونښېده؟

بيا خورې ورې پرتې وې
ګورې ګورې تورې څڼې
د کمڅو د ګل په سپين مخ
چا دورځې ستورې وليد، ځليده او توريده؟

www.libtool.com.cn

چې د سرو شونډو سندره
پټه پټه کونګوسه شوه
د والو په شرنګا شرنګ کې
اسويلي مې په سينه کې غورځېده او پاشېده

په مکيز مکيز چې راشي
ټمکنی شي ځما خوا کې
غلی غلی راته ګوري
خدایږو نشم کوکی نشم دالیده داو درېده

ستا د زلفو توره شپه کې
دا زما په سپېرو شونډو
اسويلي که ناڅې څه دی؟
شين لوګی د ماز دیګر، او توري شپې ته رسيده؟

مال د خپلو خاورو جوړ کړ
د منګولو خړمنګی دې
چې مې مات کړو کنډولی شو
ټول د دې ګوتو کمال وو، جوړېده او ماتېده

ستا د تیک ارته سینه کې
د ړوندانو ورانګو جال کې
د همدې هما منزل وُ
په کلو کې چې مې پټ وُ، ستا تندی کې ځلېده

دا خواره خواره چې کورې
تهمتونه دې په ما شه
لوېټه خونیم کښېوکړه
رسوایي د مینې شه ده که د حسن پېښېده؟

د ګلچین نشه مړونده
ړژوه خیر ړژوه ته
ارادې مولا ژوندی دی
مونږ له زیري نژوندون دی، ستا له لاسه رژېده؟

کابل - پیوولسم تولګی حبیبیه
۲۷ / ۱ / ۱۳۵۵



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# غزل

اوربل دې برېښ دزېړو ګلو خپل کړو
جوړ توري شپې زېړ مازيګر راووړ
پښتنو شونډو کې شباب موسکی شو
ماچې ټوټې ټوټې ځيګر راووړ
زما غوټۍ غوټۍ پرهار وخندل
ستا داوږې څيرو سحر راوړ
دلوپټې سيورى پرې وغوړځوه
سينه کې ماختلى لمر راووړ
دليونى چم له دې بيا راشه
چې ستا درشل له يې نظر راووړ

---

**يوبيستوى:**

پښتنه ځواني دې سروې تا ندو اوسه
هسې نه چې خوله دې اخلم سر مې ټيټ شي

١٩٧٦/٥/١

www.libtool.com.cn

# غزل

میکده ټوله لمبه شوه، هره تیږه یې سور اور شو
چې د سرو سترګو په خیال کې جام د سرو ملو نسکور شو

دا په اوښکو لانده کسی تا په سره سالو را وچ کړه
کې تور د تورو سترګو، ستا په سپینه لمن تور شو

لا ګلو کې رسوا نه وې، چې لیمو کې شولې ورکې
سپیرکو ټوا اوښکو ته ګوره. چې دا خپل کور رورتړ کور شو

چې په سرو پانو د ګل کې د بورا ځوانی شوه ورکه
سوی سکور روو، اور ته پرېوت سره لمبه شو سپیرکی اور شو

د ما نو رقیب دې واوري دا ښکالو مو د جنون ده
دلته شرنګ د زولنو شو، هلته بیا د بنګړو شور شو

مینه زور نه ده زور دا و پام دا چم د پښتنو دی
محبت به پښتون نه وی، چې په زر شو چې په زور شو

١٣٥٥/٤/٧

او درې پله شو

په يوه کوڅه کې

www.libtool.com.cn

درې قدمونه شو په توره شپه کې

دامسا تېک ...

دبوډې پل ...

دځوان ګامونه ...

او دګامونو آواز ...

اوس د زړې شپې

سکوت تغمه کړو

مورې له خپله ښاره چېرته وځې؟

له کوره وتي دچا در ته وځـــې؟

ځوانه! دوخت له پيغمبره تښتم

وايي دې ښارته جادوګر راغلی

جادو به زړونو پوکی ...

دهغه تانده ځواني ...

او بادامي لـيمه ...

سترګې ککی دسبا ...

اوماښامي وېښته

ځواني يې پاکه بې داغه

اوخبرې يې لکه دڅرونددا خوت سندرې

www.libtool.com.cn

# بې وسي

ډېر دې په غلو سترګو ځما په لور خواږه وکاته
ډېر شوه ژوند ځما بې وسه ځواني وځپله
شونډو دې ډېر تاند ه ستونه نیمه خوا ویوړل
ډېرې ژوندې نظر ځما بې ځاني وځپله

زه تر تاو ګرځمه ستا تر حیا وګرځمه
تقدیر به څه وي د څو تورو سپېلنو د لوګو؟
که دې کاته ورته آشنا د مرګ د ست پلمه شي
څه میلمنه غوندې ځواني ده د مجبورو سلګو

سالو دې لرې خوځوه خماله ځیري ځولۍ
چې بې وسي مې ز ولنې ستا پېغلتوب ته نشي
ته دې غوټۍ غندل ځواني غنوته مشپول کوه
زړه د از غو وا چې د ګلو مینتوب ته نشي

www.libtool.com.cn

ته د دې مرې کوڅې په خاورو نظر مه زغلوه
دا مات وزرې خيال دې نور تر چمه نشي د رتلي
ستا د موسکا ريبارې بيا د زړه تر کوره راغي
له غمه ډک زړګی مې ستا تر غمه نشي د رتلي — خو

ورنکړې شنه د خال د خيال دې بې سره وززړه له
چې مې بې داغ ځواني ستا په لمن داغ نشي
د دې ډيرې تقدير د مرې هديرې شنې شناختې دي
دا به د سپين محل زړکوتي کې څراغ نشي

د نيمه خوا ديدن آرزوګۍ نيمه خوا پاتې شي
مونږ کره مه راځه چې دې زړګي له صبر راشي
دا سپيني او ښکې پخپل وېلي سپين کفن کې نبې دي
ښه ده چې دې کسوله هم تيرې د قبر راشي

غوټۍ غوړيږه د دې شنو پاڼو په يخ کو ګل کې
دغه از غنه غيږ به تا غيږه کې څه و نيسي
دا سوي سکور ځواني مې ګوره زړه مې مه لټوه
هسې نه کندو کې د زهرو څوک خوا ږه و نيسي

خیال ته دې وایه د بار خو بېتر کې لار نه کوي
www.libtool.com.cn
زه د جونګړې ورېترم خو د زړه ورځه ګرمه ؟

دا ننګو سرخې دې بیا ځل د موسکا راوړي
ما پوی کړه زه خندلې شونډې د پرهرځه ګرمه؟

نور په نیم ژوبلو شان زخمونو مالګې مه دوروه
اوس مو پرده د زړه پرده شوه د پرهر ستر ګوته

په تورو شپو مې غلې غلې غونډې د پرهر ونیول
خو سپینې اوښکې مې پیکه شوې د سحر ستر ګوته

د خدای رحمت دې راوړېږه په خمار پېغلتوب
کوکې د کسو وچ زړګوټې کې نور نم نشته دی
شنې دباد په لور خورې کړه دوږمو لارو ته
ځکه مجبور و اسو بلوکې دو مره دم نشته دی

کښې نو، دومره غونډې صبر شه چې هیلې کل شي
داهمتونه دې مایوس ژوندون له رنګ ورکړي
ځکه کې به د رحمت داو زه ځل د مینې کړي
دا زولنې به ستا ښکړوله نوی شړنګ ورکړي

د شنبې ورځ ـ خیرخانه ـ ۱۶ ، ۱۳۵۵/۵

www.libtool.com.cn

# کاواکې

ای لوغړنوارادوسترګې په چل غړوې
نوړمو د خپل جانان په چم کوځه پېرې پرتې دي

د هسک د تهنه وشهزادګانو دلمبونه جړو
دژوند د یووکې مودمړه ارمان ایرې پرتې دي
وړ مودګل پاڼې خورې کړې دازغو په څوکو
ځیرووړغوږوکې دخپل ځیګر قطرې پرتې دي
راشئ منګولې د تقدیر په خپلو وینو سرې کړې
چاویل چې ویرته دځوانی موځوښې پرتې دي
دچاساقی دکنډول مورکوشراب د بروخټل
خمان راتش کړې ددرشل دورې سپېرې پرتې دي
دې لېونی به کنی خدایګو ځان په خوار رسوا کړي
خو:- ورته دچادپاک لمنې ژوند اسرې پرتې دي

د روژې روژې شپه، خیرخانه-کابل ۱۳۵۵/۶/۹

www.libtool.com.cn

# يوه شپه

ړنګ د ګل د موسکا ستا شونډو پيکه کـه
د ساقي د کنډولو شراب ړپـانـد شـو
غوټې، ستا زلفو ته پرېوتې کمښې شوې
اوس ايله د ړولنو يادونه تـانـد شـو

---

د زندان د تور ماحول زنداني يـاده
د سپرلي منګولو سرې لمبکې د روړې
د يو موټي زړګي ترمې پر هر ګل شو
چا غوټۍ د موسکو مستو شونډو ووروړې؟

---

تورې تورې شپې لاړلې خورې شوې
سمندر د شپو کې بيا سحر ښکاره شو
نيم کښو څمنې يې خال ته سپيلنې شوې
بس ايله د چا د آه اثر ښکاره شـو

---

ما د لمر تر زړي خپل نظر ورسيخ که

تا د سپيني اوبږې خيرو کې لار راکړه

ستا له سرو شونډو مې شونډو قلنګ واخيست

www.libtool.com.cn

څنګه دا د بهار وينه بهار راکړه

---

يو ارمان د ارمانجن زړګي پوره شو

حياناکې پيغلې داسې پورته ګوره

هسې نه بارخودې زيږمړکي[۱] درانه شي

د زلمي نظر بې زره زور ته ګوره

۱۳۵٦/۱/۱

ننګرهار

---

## درې ايزه

لکه رنګ چې د ګل ويلې شي او به شي

ديوې پاڼې په تنده کې خال جوړکړي

ما ته هم زما دا خيال له خپله خياله

کله کله ستا د غلوکتو خيال جوړکړي

نو بيا دا کولال د خپل کنډول له خاورو

په کولالو کوتو نوی کولال جوړکړي

۱۳۵٦/۲/۱٤

---

(۱) زړنړمی: زړيږمي

www.libtool.com.cn

# غزل

موسکا د زړه د پرهرشونډې بنکل کړه
د دې یو څو تیرو شپېو په خاطر
د نن از غیه زړه کې شبه راسیخ شه
د سبا نو تاندو سپرلو په خاطر
د منزل لارو نورې هم مزې شي
زما د خوځنده آرزو په خاطر
تیرو راکوږي شئ، اولا تورې شئ
د دې رڼا د رنیو په خاطر
څرک وهه دې د زنځیرو نو زړه کې
د اوږې خیاله د لیلو په خاطر
څومره خمار لارم د دار تر مراندو
ستاد کړ.وو.وکتو په خاطر
بې ننګې څه که مې په ژوند را نغـلي
په مرګ مې راشه د پښتو په خاطر

۱۱/۲/ ۱۳۵٦

www.libtool.com.cn

# مړژواندي هیله

ارزو مې لنده شوه او څوکه شوه د تیغ د څوکې
دارا دو د پښو تنا کو له چا وړ دو ن ړاغی
زما ځلمی ژوندون یو ځا ځکی شو په خاورو پر پوت
زما مرګیه ایله تا له اوس ژوندون ړاغی

---

زما د پل پا پې ړ انیسی دا درنې ځو لــنې
ستا دروازو ته د پولادو ز ن ځیرونه پراته
ستا په تومت دي زه د دار په سر تا لونه خورمه
ستا په مرۍ دي د رقیب لاس امیلونه پراته

---

لکه نظر چې به لاړ ووړکی شو ترتا د ر تـه
زما ګیلونه هم قسم دی داسې لاړ وړکه شوه
چې زه یې تلم او د ر ختلم، ا ن د دار تر څوکو
هغه ارزو رانه په څوکو کې د دار ورکه شوه

کم بختي لږ د پښتني يارانې پت وساته
پدې سر کړ شوندو دې مړاوی غوندې ست وساته
www.libtool.com.cn
لوپټه راکاږه سوګند مې په شمله پورته کړه
لږ مې نظر د رقيبانو نه اوچت وساته

۱۳۵۶/۳/۱۰

## لنډيزه

د تېک په مخ د څڅو غوټې واښوې
لمر د ولاړو سيورو و يخ ته کښيناست
د ګلو وږم له ګلونو پا څيد
ستا د چارګل د زړو ميخ ته کښيناست

۱۳۵۶/۱۱/۵

www.libtool.com.cn

# بغاوت

ژوند د درد څرېکه شوه د سا سينه کې
د ځوانۍ برېښ د مرګ سکون لټه شوه
پيکه موسکا د زړه د داغ په شونډو
د مرګ ځيګر کې د ژوندون لټه شوه

---

هسک د تيرو په تصور مين شو
ستوروله خپلې رڼا تيښته وکړه
اوښکې ککوکې د سبا وچې شوې
د ګل ليمه له خندا تيښته وکړه

---

هغه سل ګلې موسکا بيا پيکه شوه
راغورېدلې ځولۍ غوندې شولې
درنا پېغلې د تيرو هوس ته
تورو چمنو کې بربندې شولې

---

خو - خلک د پلار نیکه له دینه اړي

www.libtool.com.cn

«ښه - نو، موري سترې به شې داپنډه دې مسله راکړه!»

پوخ د بوډۍ احساس

د ځوان آواز... ځانته نغمه کړو

او د ګامونو غږ اوس د زړې شپې سکوت نغمه کړو

نو، په یوه کوڅه کې...

په توره شپه کې...

درې قدمونه یو شو...

د امسا ټک...

د بوډۍ پل...

د ځوان ګامونه

چې زنځیرونه یخ شو...

د دروازو په دړو...

ښکالو د ګام...

له ښاره لرې...

د ژوند ښکالو شوه...

او بوډۍ...

یو، پنډ هډوکی...

چاچې، پاپې...

بند - بند...

زه د خیښتن تر کوره ورغلمه
هغه پخوامې وو، تر زړه راغلی
ماپې پاپوکې ځواني وښندله
زما داغونو یې ښایست داغلی

---

زما ککوکې زما او ښکې رسوا
د هغه شونډې له حیا موسکې وي
د کهکشان د نروستورو لړی
د شرابي سترګو کلکی کلکی وي

---

زه لاړم ماویل ته تر مونږه راشه
هغه راتیر شو د بارخو تر شپوله
په تورو غنو یې پاپې کېښودې
راغی تو زړه خو ماویل ما دربوله

---

ماوېل داوړی اندامونه مړه دی
ای د دې مړه وونو په مینه هوره
نور هغه نه پرېږده دوچې مونږ نه پرېږدي
خو ته راځه لږ موغمونه تروره

---



www.libtool.com.cn

ریښې ریښې شملې ترهسکه ربي
www.libtool.com.cn
شني لوپټې تر ولو بیا نه راځي
د سرپټوب د پرهار ونوزره لــه
خدایه راځه ګنې نوسا نه راځي

---

هغه سرونه به تر ژونده ورشي
چې دي د ژوند ترجنازې ورغلي
لږ مو د رنګې خوني ورله راشه
پښه ونه هیلي ترکوځي درغــلي

---

## لنډېزه

داغ د پرهرځل د موسکا راوور
خال به په تنده د دلبرښکاره شو
دساقي سترګوکې جـــامونه نــاځي
دلبونوســترګو اثرښــکاره شو

خیرخانه مینه ـ کابل
۲۲ / ۳ / ۱۳۵۶

www.libtool.com.cn

# غزل

ستا د خيال لمبې ځاځي چې مې نم د کسو ور کړم
په بار خو سکرو ټي انځوم په دا اور داو بو کړ کړم

که مې يوه لپه د وينې په منګول کې د يوې راوړي
د خنجر څوکې به نم شي، د دې دار مراندې به زر کړم

شرابي حسن دې ګوټ کړم ځواني دوه پو که لوګي شي
عجيبه لېوني غل يم، ځه راچور کړه ځه ور کړم

ستا خونکار حسن عادت دې د لکونو ځاځکو وينو
دلته ټول ځاځکي مُل اخلي ځه به کړي، که ځاځکي در کړم

ګل د ځنو مړاوی مه شه له تيرو ستوري راځاځي
دغه شپه څومره خوږه ده، چې په يو آه يې سحر کړم

دلته هر شرنګ بغاوت دې دلته هر جرس کونګی دی
په دې کونړ ماحول کې ځنګه لېوني نغمه مې سر کړم

۱۹۷۷ / ٦ / ١٤

خيرخانه - کابل

# د جونګړو ديوه

د بېرغنو د جونګړو ديوى
اى د سرتورو ارمانونو ځرکه
پام نغبنتي تير چاپير پراته دي درنه
د شپې رګونه د تيرو تنستي

کاش چې د کورو تيرو تور کوګل کې
درون سحر سره شفقي لمه شي
ستا د لمبو د ادا ګانو چور لک
ستا د رينبمينو پلوشو تنستي

چې لېوني د کرېوانونو په ځاى
د چا په سپينه قبا اور پيوري کړي
چې دوري ليلو رينبمينه تال شي
د لړزېدلو اسويلو تنستي

چې د غوټى د پرخو سره و څاڅکو ته
جام په منګول کې د ازغو وناڅي
نرمي ګڅى شي د نه لمر غړى ته
د دار د مراندو د رسو تنستي

www.libtool.com.cn

چې د ساقي اوراوركى نـــظر ې
له ويلو شوو لمبو جام را ډك كړي
چې د ليلو داوږى بريښ راښكول كړي
دا د تومت د نهولنو تـــنســـتې

چې د جونګړې د يخ سيورې غېږ كې
د لمر د ځريكو پېغلتوب پرېـــوځې
درنجو خط شي د ســبا ســتركې ته
دا ستاد ښو ينده لــوكو تنســتې

د پولادې ديوال په خړو ځوكو
د نور پاپو له ليكه لار جوړه شي
چېرته د سپينې اوږى ځل راپورې كړي
د ژوند د ستړو شوګيرو تنســتې

د خپلو سرو شوندو په تور ككړ شي
د دې نوخېزه يار پې مخې نـــظر
چې دلار وركـــو تېكنې منده شي
ورته زنځير شي د كـــمځو تنســتې

او ... !    بیا به زه هغه ستا لیمو کې کورم
www.libtool.com.cn
محمود چې زړه کې دا یاز کتله
خدای دې پرې نکړي د بارخو په څوکو
دادلیدو دادکتو تنسـتې

نو ! -    چې د هسک سپین ستوري ترې پورواخلي
ډیوې ځلیږه داسې اورشیـنده
لیلو دخپل مرورند بنګړي نوي کړه
دې زنځیرونوکې ترې شـورشینده

وړانګې دیار تر مـانهو ورسـوه
مرمري دړې يې رنا نـلري
د دار له مراندو تار د زلفو نغـاره
چاویل؟ د مرګ چم کې ژړوند سانلري

دتوربخنوماښامونو یـارلـه
ډیوې په روڼ تندي کې اوریوسه
دبندیوانوارزوګانو سرب لـه
دزرمنیزوکړو شـوریوسـه

—— ۱۳۵٦/٤/۱٦ - خیرخانه مینه کابل

www.libtool.com.cn

# غزل

خالونو د جبین ته د تیک ځل ور رسېده
دې تانده کهکشان ته د چا پل ور رسېدهٔ

ستا څښتې کورې اوسه آه مې خپله لاړه خلې
د شپو چیم پرېشان مه شه که غل ور رسېدهٔ

ساقي تر وسلکو ته د جنون مرۍ وچېږي
دا بیا چې ترجلا د وشونده و مل ور رسېده

د دار مراندې د زهرو په ککړ خنجرا مبار شوې
د مراو و یار خوشو کو ته وربل ور رسېده

رسوا او بنکې مې وچې شوې حیا دې پیکه مه شه
ایله دې ځواني مرګو ته اجل ور رسېده

۱۶/ ٤ /۱۳۵٦

خیرخانه - کابل

www.libtool.com.cn

# غزل

رنګینی د تخیل مې پرپرا نیزی
زنداني فضاکې داوزروامه شه
دلیمه تر هلالي کچکوله را شه
زوروروخیاله د زړو ګدامه شه
سمینه ناک نظر بارخو کې پل[1] پاپې شو
د کږو تورو په څوکو رسوامه شه
دلمځو سیوري دې ګوښې د نورو به
توري شپې دې تانده اوسي سبا مه شه
دزړه کې داغ مې ایله دارزو ګور شو
هدیرو کې تیاره شه وي رڼا مه شه

۱۳۵۶/ ٤ / ٢٤

---

## یویستوی:

په اننګو څاڅکي داوښکو رغړي
زما دصبر پیماني ډکې شوې

---

(۱) پل پاپې: کله چې ماشوم د روړمبي ځل دپاره قدم واخلي.

www.libtool.com.cn

# سرکښي

د زندان د فضا ګانو سا خپه شوه
د سرکشو زولنو د شرنګ زړګی چوي

د تبږنو غوږونو پاڼ د شوندو خاندي
هسې نه چې د موسکا د رنګ زړګی چوي

د ستم اورکې زمونږ غیرت پایی
چا ویل د دې کوڅې د ننګ زړګی چوي؟

د ښښې پیټي دې کوزکړه له نظره
نور زمونږ د لېونو د بنګ زړګی چوي

زمونږ وینې د غوږونو د ژړوند او به شوې
زما نی ستا د ګل مړګي تر ننګ زړګی چوي

د مودو کونګو نغمو سرکښي وکړه
ساقي! او بس به د خاموشه چنګ زړګی چوي

د بنګرو شرنګ کې دې ځل د پېزوان ګل شه
د دې تورو د تور رنګی زنګ زړګی چوي

خیرخانه کابل - ۲۵/ ٤ / ۱۳۵٦

www.libtool.com.cn

# تالنده سکون

ستا تصویر دې رب وانخلي د دې اوښکو له جنونه
چې رته تندر غشي نشي له دې تالنده سکونه

د یوګي پې تته مه شه د ماښام په تروږمو کې
لیونی ستوري مې سرشو کوروکوروتوروشپو کې

دا زما د مزار خاوره ستا د مینې وروستی نښه
چې رته یوه قطره د پرخې د طوفان چورلک کې ښه

تر یدلی اسویلی مې د سبا ګریوان رانیسي
د درشل د ګردنیلی به اوس دا هسک آسمان رانیسي

اوښکې خپل عکس کړي غبرګې د جنون په آئینو کې
د نښې لمبو سرو که د خپم وینو په سینو کې

په خر چم دې قدم کېښود، ای د سینې خولې ریباره
دا زغوږ کې چې ګل شوې، غوټې پرېوتې له خاره

ساه ماته . . .

دخولې ترخې لارې . . .

www.libtool.com.cn

دلارو سپور خوند . . .

په تلوسوه . . .

وړاندې په تلوه . . .

دڅوکجورو د بنګې په لورې . . .

اوځوان وړېسې روان ؤ . . .

لکه دژوند ځواني . . .

چې د زړښت پوندې . . .

دپښو دکوتو په تلوانيسې . . .

آسمان په تورو پړو

بوږلې کټ وو . . .

دشپې درګ په رپښو

نيستې دمړو لحظو کفن له

ګڼ تور تکونه ورکړل

او په غږ مات شوی سکوت

دګام ښکالو وخوړه

يوه دکجورې ونه

لکه دمځکو جنده

ترآسمانونو تللې

دا زړګی مې لېونی دی، دې ځیګر کې د طوفان دی
دا په اور کې ژوندون پايي که دا اور په ژوندون بل دی
دستی ځولی خوره ده د شګلا قلنګ دې راکه
ای خاموش لېونی حسنه! شور دې راکه شرنګ دې راکه
۱۳۵٦/٥/۱٤

# لنډیزه

دا مرګوني فضا ستا قضا کې نشته
ای زلمیه آزاد و مره آزاد اوسه
د هلمند د طوفاني موجونو اوجه
هسکه ځوکه د پامیر شه شمشاد اوسه

---

## لنډیزه:

د ګل کېدو په تمه زړه د دې غوټی ونه چاود
سرو آهونو دیوګی سرما سبام مړه کړه
زما نظر د ګلخول کې ستا نظرته ځوړ شو
یوه اراده وه د ګربت چې دې په دام مړه کړه

دوشنبه - خیرخانه
۱۳۵۵/٥/۱۸



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# ګیله

لیکم یې ستا دعظمتونو په نـــوم
دخپلوخاوروارمانونو په نـــوم
راشئ ځوانۍ د سپیلنولوګی کړو
دتوروشوو تقدیرونو په نـــوم

---

چې د دې عرش د بلې یارله ورشو
په وازولیوکې یې وینې توی کړو
دارمانونوله شپیللي هـــله نه
د ټوټت جنوغوښو مـیـنې توی کړو

---

ورشوپه اوریې جنتونه اورکړو
دعرش د سپینو د یوالونه تورکړو
څریکې د زره په درزیدوکې ومرې
دیارسالوپه مړودردونو خورکړو

---

ورځود تورو قسمتونو سري
د چادسپين محل تروره ورځو
چي دا يو ښاخکي آب په خاورو توي کړو
د خپلي ميني تر کوهره ورځو

---

نو نهما همته ماله ژوندراكړه
ژوند به تركومه له چامره غوارمه
ښو به د ګرموا سو يلو بدل کي
رتي ځوابونه تري ساره غوارمه

---

چي ده ته وښايم دا مينه څه ده ؟
ځوانو ركونوكي مي وينه څه ده ؟
دزره داغونوكي ډيوي بلي كړم
ورته لتكى لتكى ګيلي بلي كړم
درونته - ننګرهار/ ٦/ ٨/ ١٣٥٦

---

## لنډيزه

ښومره راګورشود وختونو ستم
د ښورسلګو د پاره ساندلرم
له تابه وګرځم له تا به زار شم
ستم د نيشت دي ګله تا نه لرم
٢٧ دلو ١٣٥٦ - ننګرهار



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# یواحساس

ستورو په لپو لپو اوښکي توی کړي
ساقي له سپین مُله کاسې ډکې کړې
سپینو غوټو په تکو سپینو لاړو
دسپینو زرو پیاسې ډکې کړې

ځوندیو چور لک شو د بورا و زرکي
دګل له شنه ډنډره وګرځیده
ستورو په تورو تیرو پیښې را ښکودي
مرګی له خپله سره وګرځیده

آه مې دعرش په بلی خط جوړ کړو
مادلبر د شونډو خوکي ښکل کړې
داغ مي د زړه ستا په موسکا روڼ شو
تاچې زما غمجنې کوکې ښکل کړې

یوه آرزو یم ما زړګي کې ځای کړه
زما د پل په مونو پل جوړ کړه
www.libtool.com.cn
توري[۱] کړه دا خوږې وږې زلفې دې
ماله پدې تورو، ازل جوړ کړه

وربل د ښنو د ګل تنده پسې له لاړ
شپه را اوږده شوه تر ولاړ سحره
لږ د شملې ځوکه مې سبه غښبه کړه
نظر دې راغی د شمشاد تر سره

پیره! د بنګو کنډولې نوی کړه
د لېونو زړګي نښتو ته کېږي
په هغه خیال به ښنګه شیش را کاږي
چې زنځیرونو کې شیشو ته کېږي

ګل به په تورو خاورو وغورېږي
اوس به د غنو په «سر» پښې کېږدي
ځوک لېوني د چا دیدن له ورځي
په رنډو کسو به ډېوې کېږدي

---

(۱) توري: حرف Letter

د شپې اووه نیمې بجې د روغتیا ننګرهار میډیکل کالج
۱۲ / ۹ / ۱۳۵٦

www.libtool.com.cn

# غزل

د وخت له سترګو د نور اور، وورېد
زما لمنه کې ستا تور وورېد

د شونډو خیال کې دې ګکی را ډنډ شوې
د سترګو کسې مې په اور وورېد

ګمان تره شراب دې سا نـــلري
ساقي کنډول کې ګرد د کور وورېد

ستا د لمدو شونډو د نـم دې خیر ووې
دا پسرلی څومره سمسور وورېد

نسیم د بنډو غوټو وره له راغــی
څاڅکی شبنم داور په کور وورېد

د شرابي سترګو بلا دې واخلم
د خلمیتوب په کور مې اور وورېد

ننګرهار

۸ /۱۱/ ۱۳۵٦

# غزل

www.libtool.com.cn

څومره اوږدې د بېلتانه لارې شوې
سترې شوې ټولې د جنون قـــافلې
د آه په لار چې ځې د ښځونو نـــــــــــــکې!
بې لارې مه شه ستا د يون قـافلې
په کتورو ستر کو دې ســـترګې نښلي
او بوله راغلې د جنون قـافلې
څومره پېوستي مې ځيګر له راغـــلې
د تور يار خو د پيو ســـتون قـافلې
دار، له بې باکه پيغلتوبه ا خـــله
لوټه نرمونږه د ســـکون قافلې
په ټولو لارو لېـــوني پـــراته دي
ټيرې به نه شي د بېــلتـــون قافلې
څرک دې د ټيک په تار د زلفو تـــرې
په شپو کې نښـــلې د شبخون قافلې

ننګرهار - ۲ / ۱۲ / ۱۳۵۶

www.libtool.com.cn

# غزل

تور سمندر ته کوه طور پر ېووت
ستا د خمار سره ، سرور پر ېووت

نظرې ستا په شونډو بستنې وهي
په شرابي کنډولو چور پر ېووت

پرخې د ګل پاڼو له سترګې ورکړې
په هره څانګه څاڅکی نور پر ېووت

تارخه دې وکتل خوږه شې خوږ شوم
د سرا یله جبره سرور پر ېوت

دژوند په رګ دې توري چونغې تره
د دار په مراندوکې منصور پر ېووت

دوربل څوکو دې خالونه چور کړه
ښه شوه د چور په کاله چور پر ېووت

چې مې شمله ستا د لمغو سالو شوه
ایله دلور آسمان غرور پر ېووت

د استبداد په سکرو شور کسو
تناک ورغوی د مزدور پر ېوت

ننګرهار - ۱۳۵۶/۱۲/۱۱

www.libtool.com.cn

# غزل

شپه په دوه سترو رڼا ده چې پرېوځي له دریابه
د ساقي لیمه راڅاڅي ستا د شونډو له شرابه

ستا له تورو سترګو ګرځم په دې تورتر دار ورخېژم
ته په سرو سترګو را نشې چې سلګۍ نشي بې تابه

خاله دود، د نظر واخله دا مې نذر د ځوانۍ دی
ستا له تورې تندې ګرځم، ای داور د کور نوابه

په دې نېغولا رو ګوره د خودۍ شهزادګان ناست دي
لږ کاږه وروه پام پرېوځي، ستا ولاړ بارخو له تابه

ستا د شونډو داور لیکې ستا د مخ سپینو کې ګورم
چې داور په لته ګرځي ګټه وکړي له آفتابه

د ځوانۍ هره ادا دې جوړ زمونږه توبې وژني
ستا پرونی هوا خور کړو، وږم راغی له شبابه

ستا تراخه کاته خوږېږي، زه په دوی پسې خوږېږم
د خواره ښوند او برا خلم له خواره واره دریابه

د دې وږو ورانو خونو په هر کاڼي خمان ماتکړو!
چې په وږو قسمتونو عذاب وویشي ثوابه!

ننګرهار - ۲۶/ ۱۲/ ۱۳۵۶

www.libtool.com.cn

# غزل

زه دژوند دستړو لارو په هر پل کې
داحساس د ترون مو په تل کې ګرځم

لاروي یم په ماشپې د پرې اوږدې شوې
ستا دخمو د هر تار په ول کې ګرځم

دسروشوندو په امید دې سترګې ګورم
جل وهلی یم پخپل اجل کې ګرځم

دځوانۍ اسرېلی خپلو اوښکولو ند کړو
دبنګ دودیم دخمانو مُل کې ګرځم

له آسمانه راپرېوتی د یوې ګورم
دسرو اوښکو د ښاخکو ځل کې ګرځم

اوس د هسک دکهکشان تناو راکاږم
کلې ستا په پښتانه وربل کې ګرځم

۱۳۵۷/۱/۱

دغرمې دوولس بجې جلال آباد

او ځوان يې ده ته

دبودۍ پېټي کېښود www.libtool.com.cn

بوډۍ ، يو دوه درهمه

ګرد، هوسناکه . . .

چې دوخت په بازارکې

دنرخ دتلو، دوه تنګ چابړي وو

ځوان ته وروراندې کړل

«موري !»

دځلمي غږ سکوت تغمه کړو . . .

او دبوډۍ زوړ احساس .

هغه آواز ځانته نغمه کړو . . .

« زه درهم نه اخلم - »

دځوان په شونډو

ملکوتي موسکا . . .

برېښن دغابښونو، سپينه جوپه کړو . .

بوډۍ حيرانه . . .

تاند ځلېتوب ته -

دا بادامي لېمه -

سترګې دابلې ديوې . . .

چې دسباله ستوروپور نه وړي .

زه وړوکی وم چې په شاعری می شروع وکړه د ښوونځی په څلورم ټولګی کې
مې سبق ویلو- پلار مې یو ادیب ،لیکونکی او ډراما تیست دی ، او ما هم لاشعوراً د
هغه د اظهار او څرګندونې د پاره د ادب لارغوره کړه څکوم چې ماله خپل چاپېریاله
اخستل - ضروری نه ده چې د پلار لیکوالی مې د مې زما د شاعری دلیل شي البته دا
هم یوکوټلی واقعیت دی چې زه د لیکوالی او ادب څخه د هغه تږون له امله چې پلار مې
ورسره لرلو بې اثره نشوم پاتې کېدی - یا په بله ژبه که چېرې زما په شاعری کې د هغه خاص -
استعداد ونه وه حتمی وې چې یو شاعرې لرې نوله هغې برخې به هم انکار کول ګران وې
کومه چې مې پلار ماله زما د شعرونو د اصلاح ،زما د ژبې د ځغلی او د کلماتو او الفاظو د
سم او پرځای د استعمال کولو د زده کړې په شکل راکړې ده .

* * *

مراندې زما د هغو شعرونو د مجموعې نوم دی کوم چې ماله اتم ټولګی نه
یعنی د کال ۱۳۵۰ هـ ش یا کال ۷۱ - ۱۹۷۰ میلادی یا د خپل عمرله څوار لسم کاله را په
دې خوا لاتراوسه پورې لیکلی دی له هغې نه وړاندې زما د شعرونو یو دفتر کوټی
یا یوه وړه کاپی چې د څلورم ټولګي نه تر اووم ټولګي پورې په کې زما شعرونه راغونډ
شوي وو- او همدا رنګه زما د شعرونو یو بل دفتر هم کوم چې زما د ژوند د لس
کلنی یا د ښوونځی له څلورم ټولګی نیولې د طب د پوهنځی د لومړی کاله پورې په
کې زما مختلف شعرونه لیکل شوی او راغونډ شوی وو- او ما خپل ملګری ډاکټر
غیرت خان ته هغه وخت د امانت په توګه پرېښودل کله چې موږ په افغانستان کې
د کمونیستي کودتا په دریمه میاشت وغوښتل چې پاکستان ته د خپل هجرت پریکړه
عملي کړو- خوله بده مرغه هغه وخت چې ډاکټر غیرت د کمونیستی رژیم د پولیسو
له خوا ونیول شو او د هغه په کور چاپه وغورزېده نو د ډاکټر غیرت د وینا سره
پنځه د پرشم

سم، دوارو کاپې د هغه د یو شمېر نورو کتابونو سره یو ځای پولیسو د خانه سرو یوو وړې - او په دې ډول د شعرونو هغه دواړه کاپۍ د هغو سلګونو او زرګونو ورکو په ډله کې راغلې کوم چې د کې، جي، بي دا یجنټانو په لاس د روسي ښکېلاک د سرې بلا په پښو کې قرباني شول.

بده به نه وي که دا خبره په ګوته کړم چې تېر کال ۱۳۵۳ هـ ش پورې زما د شعرونو لیکل شوې مجموعې د «سوما» په نوم د نه چاپ شوي کتاب په شکل په ټول افغانستان کې - په پښتو ژبه کې د یوه لیکل شوي اثر او شعري مجموعې په توګه - د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور له وزارت څخه د دوېمه مطبوعاتي جایزه تر لاسه کړې ده

www.libtool.com.cn

* * *

مراندې زما د شعرونو لومړنی چاپ شوی کتاب دی، لکه څنګه چې وخت په وړاندې وخوځېد او دیو څو کالو په لنډو، تنګه موده کې زموږ په اولس پرته له کوم ارتقايي او وړاندې خوځې تسلسله د روس د سرو ښکېلاک په کته بېل بېل نظامونه راوتپل شول. همدارنګه دا شعري مجموعه تقریباً تریوه زیاته حده د هغې کلونو زېږنده او محصول دی. هر هغه څه چې ما د خپل اولس په ټولنیزه ونده کې لیدلي. هغه مې انځور کړي دي. څه چې ما ته بدبرېښېدلي او د خپل اولس د سپېڅلتیا او - بدبختۍ دلیل مې ګڼلي. هغه مې رټلي او هر هغه څه چې د خپل اولس د پاره زما ایډیالي پاتې شوي هغه مې ستايلي او ښکلي کړي دي.

مراندې زما د ذهنیت، فکر، آرزوګانو او د هغو پټولو تأثیرا تو یوه تنبېدنه، انعکاس او ترجماني ده کوم چې ما د دې کیسو کلونو په اوږدو کې له خپلې خوا او شا او له خپل چاپېریاله اخستي. او دا ارزوګانې، فکر او ذهنیت کړنلارخونه او وه برې

شپږ دېرشم

خپله ژبه او د خپلې ژبې کلمات متروک او ورځنی ادب له هره نرخه پرېباسي. داعمل ژبه هماسې خوري لکه څنګه چې زنګ اوسپنه خوري او له منځه يې وړي چې ښکاره مثال يې په لرو پښتنو کې حتی په پښتو ژبه کې د شمېرې او حسابي اعدادو د کلمو هيرول دی

* * *

په آخر کې غواړم د ښاغلي محقق او فاضل ورور محترم حبيب الله «رفيع» او د محترم مشر شاعر، ليکوال او مؤرخ ښاغلي شېرزمان خان طائيزي صاحب او د نورو ټولو هغو وروڼو له زياره او زحمته مننه وکړم چې د دې کتاب د سمون ترتيب او کتابت په چارو کې يې راسره لاس مرسته کړې او له کتورو لارښوونو يې برخمن او مستفيض شوی يم. درناوی

اکبر

۱۹۸۸/ ۴/ ۳۰

شاهين تاون - پېښور

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| غزل | ۱٦۰ |
| غزل | ۱٦۲ |
| غزل | ۱٦۳ |
| زموږ چاپېریال | ۱٦۵ |
| غزل | ۱٦۸ |
| غزل | ۱٦۹ |
| دلار پوښتنه مه کوه | ۱۷۰ |
| افغان اولس ترغبن | ۱۷۳ |
| د ایمان تلي | ۱۷٤ |
| د واده محفل | ۱۷٦ |
| غزل | ۱۷۹ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| غزل | ۱۸۰ |
| لنډیزې | ۱۸۱ |
| غزل | ۱۸۲ |
| زما ماشومي او افغاني خوږې | ۱۸۳ |
| د شهید لور که دامن مور | ۱۸۸ |
| پرېوتی پل | ۱۹۸ |
| زه او ته | ۱۹۹ |
| قلم او علم | ۲۰۱ |
| دا شوښتنې ما بله کړه | ۲۰۲ |
| فارسي غزل | ۲۰٦ |
| مرګ پالونکی امن | ۲۰۷ |


www.libtool.com.cn

○○○

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمٰن الرحيم

# پېش نامه

زما مجبوري يي بولي اوکه د حالاتو تقاضا - خو دا حقيقت دی
چي تر او سه کوم افغان شاعر ما ته په کتاب د څه ليکلو د پاره ويلي
دی ، نو د کتاب د مسودې لوستلو نه وړاندې نه پوهېږم زما
فکرولې هغه خاورې ته لاړشی ، د کومې نه چي د وينو دا ډک د
خاورې انسان نما جام روغ دی ؟ شايد ځکه چي داوينه دغه
جام د يو وخت د پاره خپل مقدس امانت ګڼلی دی او هم د دغه خاورې
د آزادۍ سپرلی د پاره د هرې خطرې په وخت د تو يولو او نذرانې په
فلسفه څومره چي د دې جام خاوره پوهېږي ، شايد چي بله يو هم وي .
کېدی شي چي لوستونکی دا مبالغه وګڼي او يا شاعرانه تخيل ،
خو داسې نه ده . ځکه چي زه د خيبر په خوله کې د يو کلي په مات ګوډ کور
کې او سېږم - يا هغه وخت وو چي د دغه خاورې د کوچيانو جوپې -
جوپې قافلې به زموږ د کورله مخه تېرېدې - د قافلو مستې جونه او
زلمي به د وطن د مينې او آزادۍ په سندرو لکه د سپرلي د رنګينو
او خوشبويه جونګو د اسې مست او بېغمه روان وو - لکه د آزادۍ له

نعمته سیوا چې ددنیا له باقي ټولو نعمتونو بې نیاز وو.

د افغانستان مستې او آزاده هواګانې د خپلې خاورې په خوشبو
www.libtool.com.cn
کې نغښتې لکه د غزنوي او ابدالي د لښکرو به له خیبره راواوړېدې او
رنګینو خوشبویو خوړولو سره به مخ په ښکته روانې وې. زما احساس
به یې راوپاروله، زما ذهن به یې معطر کړه او زما د فخر، خودۍ
او انا شمله به یې تر ثریا ورسوله.

اوس هم زه د هغه خیبر د خولې هم په هغه وره کوڅه کې اوسېږم.
ولې د تېرو لسو کلونو راهسې نه خود کوچیانو هغه قافلې زما د کاله
له مخه تېرېږي او نه د هغو زلمو او جونو د جوش او مستۍ نه ډکې هغه
سندرې اورم. بلکې د دغو هر څه په ځای هم په هغو را تېرېدونکو
هواګانو کې د افغانانو د وریتو غوښو او بارودو ګډه بوی یونه محسوسوم.
د وینو بوی د دغه خاورې د خوشبوسره اخښلی دی. او دا ځکه چې د
پېښو حالاتو پیش نظریو ځل بیا افغانان لګیا دی د واخان په تندی
په خپلو وینو د خپل عظمت د یو لازواله د ستاوین په لیکلو مصروف
دی. په قدم قدم سرونه قلم له تنولو بېږي. ولې د آزادۍ علَمْ دیولاس
نه بل لاس ته منتقلېږي او لحظه په لحظه د بلندوله منزلونو تېرېږي، چې
دادی نن د دنیا د ملتونو د بیرغونو په قطار کې د افغاني ننګ او غیرت
له برکته د ټولو نه جګ، بلند او څرګند دی.

نو ځکه زه مجبوریم چې د حالاتو له مخه د کوم افغان شاعر
په شاعرانه فن د شه لیکلونه ورانده د هغه خاورې عظمت او تقدس
ته سلام وکړم، د کومې چې له خاورې او خټې چې دی روغ دی.

دوهم

ډاکټر اکبر د ننګ یوسفزی زوی دی. د ننګ چې هم د دغه خاوړې په ننګ او ناموس رنګ دی - په حیث د یو شاعر د دغه د قلم، په حیث د یو ډاکټر د دغه د نشتر او په حیث د یو افغان د دغه د ځواني وینې ټوله متاع د دغه د فن او احساس په آئینه کې د خپل ملک او ملت د زوړ آن او شان د بازیا بۍ او برقرارۍ د پاره بېقراره لیدلی شي - منم چې په حیث د یو شاعر د ښاغلی اکبر فن پوره د ملی شاعرۍ نه دا انسانی ژوند د نورو ګڼو اړخونو عکاسي هم کوي، خو د خیبر له خوا د راتپېد ونکو تودو تودو هواګانو د تودوخې تقاضې دي چې زړه دافغانستان په ننني دغه عظیمه حادثه د شاعر هغه ژوبل، خوږ، وقاره، پراُمیده او مستقبل دفتح مندی په نور تابناکه او تابانه، ناقابل شکست احساس ستاسو وړاندې کړم، چې د موصوف د خپلې خاورې د آزادی سره د مینې او سرشیندنی د آرزوګانو آئینه دار دی.

اکبر یو بیدار ذهنه شاعر دی او خپلې وینې تقاضې او غوښتنې یې د خپلو پیشرفتو په لاره بیایي - هم دغه وجه ده چې په اوومه صدی هجری کې دارغنداو په غاړو غرونو هم د موجوده پېښې هسې یو غلیم وبلوسېدو، نو باباهوتک ملت ته غږ کړو چې:

پرسور غربل راته نن اور دی
وګړیه! جور راته پیغور دی
پر کلی کور باندې مغل راغی
هم په غزني هم په کابل راغی

غښتلیو ننګ کړئ داموار دی

www.libtool.com.cn

مغل راغلی په تلوار دی

په پښتونخوا کې یې ناتار دی

پر کلی کور باندې مغل راغی

آ، د مورغې غښتلیو راسئ

پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ

توري تېرې، غشی تر ملا سئ

پر کلی کور باندې مغل راغی

زلمو په غشیو کړئ وارونه

د تېرو تورو ګوزارونه

وروړاندې کړئ خپل تېرونه

پر کلی کور باندې مغل راغی

زما د زلمو وینې بهېږي

غرونه او زمکه په سره کېږي

مېرڅې زغلي او تر هېږي

پر کلی کور باندې مغل راغی

پښتنو هلئ پر غره جنګ دی

سور غر په وینو د دوی رنګ دی

مهال د توري دی د ننګ دی

پر کلی کور باندې مغل راغی

څلورم

زلمو پر ننګ ځانونه مړه کړي

دښمن په غشيو مو پيبه کړي

www.libtool.com.cn

د پښتونخوا ځمکې ساته کړي

پر ګلي کور با ندي با ندي مغل راغی

اونن چې تاريخ لکيا دی دکردان حقيقت ثنا يي ښاغلی اکبر

د بابا هوتک هسې ياد په دې ډول تازه کوي:

د درو په تورو تيرو تورتيمکونه ورسوري کړي

سرو بورجلوکې خون وکړي د بوالونو رسوري کړي

تورزندان يې ورله مات کړي تورزخمونو رسوري کړي

د ميوند په وچو غنو ددوی زړونه ورسوري کړي

د دوی زړونه ورسوري کړي دهيواد د ننګ بچورو

د ميرويس د فکر ځيلو د نازو د څنګ بچورو

په کورونو يې اوربل کړي په لښکرو يې يرغل کړي

د سرو پيشولمبې واخلي سپين فکرونه ورته بل کړي

تورتيمکونه ورله مات کړي هره تيره ورته چل کړي

هره لاره کې يې مړه کړي هره لاريې داجل کړي

چې يې سر د تن جدا شي خيل سرونه پر دار لک کړي


دا بې خدايه دوغمره کړي چې د خدای هيوادی برېک کړي

د تېرو تورو په شوکو دامرکونی سکوت خور کړي

سور رو بیار د تور مرګی دی د تيرو چم کې يې تورکړي

د محل ديوال نه زور کړي سور محل پرې رانسکور کړي

پنځم


www.libtool.com.cn
مراندې
داکتر محمد اکبر اکبر

د ماني وېخ نه يې مرکړي خپله خونه ورله کور کړي

دافغان بیرغ اوچت کړي د آسمان په سر يې سور کړي

دا شهيدې کړمې وينې د سرو رګونو اور کړي

او هرکله چې دافغان توره زنګ ونيسي، نو چرته نه چرته پرې خوګ د اقتدار په هوس و بلوسېږي او دافغانستان د خوږو لستوني کولو نه وراندې نه صرف خپله دستوني تېر شي، بلکه وينه يې هم د دغه تورې د ځلا او برېښنا سوب شي. يو ځل چې دا توره زنګ شوه، نو ديو نا بيا نو وينې يې پکار شوې بيا چې زنګ شوه، نو د چنګېز يا نو په وينو سپينه شوه - بيا چې زنګ شوه، مغل يې پرې راپيښ کړه - بيا چې زنګ شوه پېرنګي يې ورو ستو او بيا چې زنګ شوه، نو سره ورو بلوسېدل خو دغه وار افغاني شجاعت او شهامت نه صرف خپله توره په تشو وينو سپينه کړه بلکې د هغه د زړه له غوښو يې هم کار واخستو ځکه دافغان غازي توره مقابلتاً نن ډېره شوخه سپينه ده - اوزه وايم داسې به بل خوګ وي چې زما د غازي د تورې مخ ړومبي د پاره يو ځل بيا د ده په مقدسه خاوره و بلوسي ؟

دافغاني تورې د ننني جاودانه میړاني سره یخپله توره جوړه دافغاني قلم کردار وګوری چې د دښمن د بلوسې نه وړاندې ديو با کرداره او آزاد خويه هسې په سپينه ډاګه خپل د ريابي افکار، عظمت او ايمان په دې خيال ور په ګوته کوي چې سبا بيا دا ونه وايي چې د هغه د نا قابل شکست حوصلې د وړاندې د دښمن متوقع شکست د هغه د عسکري سازو سامان کمي وو- ځکه زما دوراندېش شاعر

شپږم

اکبر د وړاندې نه په دغو الفاظو خپل غلیم ته هرکلی وایي:

www.libtool.com.cn

دملیت مستو ميې توره دغزا راخستي
اغیاره! دلته کړاځې نو بې ځیگره راځه

—

په مخ د تورو مودځوانو وینو رنگ تازه دی
د زخمونو په کړو جامو کې رنگ تازه دی

—

هره ذره دافغانی کوهو سپرغۍ دغیرت
داهره تیږه د ر نا له کوه طور جوړه ده

—

او د دې هر څه پس هم چې هغه محض د خپل افرادي قوت د د ډېرښت او جدید و وسلو د امبار په نشه مست د شاعر د وطن د آزادۍ په لمن د دست درازۍ په خیال د ارتکاب هڅه کوي، نو بیا د غازیانو د سرو وینو مشالونو د لجه سرو رنگونو حقیقت په ډاگه کېږي. دا لکه چه سره تول رنگونه لکه پیکه شي او غازیان د وطن زمکه د خپلو وینو. په ستوړو د بنا یست هغه انتها ته ورسوي چې نه صرف د شپې په ستورو د آسمان له حسنه خراجونه واخلي- بلکې سپرلی ترې هم د خپلې شوخۍ او تابانۍ د پاره رنگونه پور وي، او هم دا هغه منظر دی چې د شاعر تخیل په دې ډول بیان کړی دی:

نور هیواد له موځوانا نو وینې ور کړي
او س به پور ترې سره رنگونه د رنگ غواړي

اووم

میړنی دی چې ښکاریږي په لښکر کې
اوس به بلې ډیوې راوړي په پرهر کې

www.libtool.com.cn

—

دجماتونو محرابی تندی یې - بل څراغونه دایمان لري
زمونږ په تورو قسمتونو مشه - توږماښامونه کهکشان لري

—

او داد افغانستان دتاریخي حقیقتونو برکت دی چې دخپلې خاورې زړښتې یې دخوداعتمادۍ دی معراج ته رسولی دی چې دښمن که هرڅومره هم لوی شي ولې بیا هم دهغه دافغانیت او ایمان په مقابل کې ډېر کمکی وی - هم دغه وجه ده چې دافغانانو ستني دښمن دخپل لوی والی باوجود دوی ته هیڅ نه ښکاري او داځکه چې ددوی په قاموس کې د «شکست» لفظ هډو دسره خپل وجود نلري - او هم داهغه احساس دی چې دخپل فاتحانه کردار سره سره اوس خپل وجود او هستی دګاونډي قومونو دآزادۍ تقدیر هم ګڼي چې ښاغلی اکبر ورته داسې اشاره کړېده :

دا پیمانه زمونږ د وینو آمو
د آزادیو یو بهیر وګڼه
چې د تاشقند په شیوکې لړ راخیژي
مونږ دهغو ورځو تقدیر وګڼه

همیش خلیل
۲۴ اګست ۱۹۸۸

اتم

www.libtool.com.cn

# يو نظر

دډاکټر محمد اکبر اکبر يوسفزی د شعرونو دا مجموعه چې ماد نظره اووېسته ، دا اکبر تقريباً دشپاړسو کالو دزيار نتيجه ده - دې کې څنی شعرونه کال ۱۹۷۲ کې ليکلی شوي دي. هغه وخت اکبر دا تم ټولګی زده کوونکی ؤ- يعني په عمر تقريباً پنځلس کلن و ، د پنځلس کالو په عمر کې شعر ليکل ، هغه هم شعري غوښتنو سره سم ، ښائي چې اکبر له خدای پاک شعري صلاحيت ورپخښلی دي - خوښ څو چې دې خدايي ورکړې سره نوره زده کړه او موافق چاپېريال نه وي انسان دې نه زړه منلی کېته نه شی اخستلی- دا اکبر پلار فاتح الملک ننګ يوسفزی پخپله دافغانستان ادبي حلقوکې منلی ليکوال دی.او د هغه د برکته دې کورنۍ کې دعلم وادب پلوشې ځلېږي. چې د ده د بچوتنکی نړونه ورته خوشالېدل اوتنکي ذهنونه يې روښانېدل خو هغه ورځوکې چې اکبر ښوونځی او بيا لېسې ته تلو دکابل پاکې اوزړه راښکوونې هواکې دځېنې انساني ستونځوچېپويونالېدلی

ښکیل رامینځ ته کړي وو- یوې خواته

ښکیل رامنځ ته کړي وو- چې عام ذهن هیڅ نه شو درک کولی- ولې یو روښانه
www.libtool.com.cn
او حساس ذهن ته هیڅ لې ضرور وو- یوې خواته د نارسېدلو سیمو اولس دلوږو
تندو ونږ کې تر قیدل نوبلې خواته د کابل د تخت چاپېره دخودغرضۍ او حرص
دېوان لاس او کړېوان وو. داسې چاپېریال کې دحبیبیه لیسې شپاړس کلن زده کوونکي
اکبر کال ۱۹۷۳ کې خپل بې مطلع او بې مقطع غزل کې وایي

دچا د سوو اسویلو په تل کې

دچا په سرو شونډو نغمه پرېوته

او هم د دې غزل کې بل شعر یې دی :

د کوندې آه د چاشتمن ماښو کې

لیونی کړیکه شوه لړزه پرېوته

د ښځو شعرونو دا غزل دیوا ستاذ شاعر په نظر ځینې نیمګړتیاوې

لري- خصوصاً د "پرېوته" ردیف ځینې شعرونو کې ځای نه شي

نیولی. ولې د شاعر هغه وخت عمر چې نظر کې ونیو لی شي او بیا د دې

غزل رواني، د الفاظو ترون او خیال چې او تللی شي نو یقیناً دا د

هغه وخت شپاړس کلن شاعر د داد او ډاډ وړ ګرځوي. له دې نه

هم یو کال وراخوا یعنې کال ۱۹۷۲ کې د اکبر یو ښځه شعریز غزل چې

نه مطلع لري نه مقطع سره د ځینې نیمګړتیاوُ د غزل ځای نیولی دی.

او که د آخرې شعر یې وګورو چې وایي :

دا خیالونه مې تالاکړه دا ځواني ځمالوګي کړه

خوشمله مې تېتېه نکړې ګوري پام کوه ښتو ين یم

نو ښایي چې د دې یو شعر په خاطر د دې غزل ټولې نیمګړتیاوې

لسم

له نظره وغورځوو او داغزل سنوغزلونوکې وشمېرو !

خوخېره دلته اودرېږي نه - وخت تېرېږي. او وخت تېرېدو سره سره خیال او فکر بخپېږي اکبر چې کوم وخت سره روان دی. هغه وخت عادي مخه نه ده نیولې. بلکه داسې بدلونونه یې مینځته راوستل چې دنیا یې وجړ قوله - کال ۱۹۷۳ کې اکبر انقلاب ته خوشبېدو. د "بدلون" په نوم د نظم آخري بند کې وایي :

که یوځل دوېنو څاڅکي د دې سپینو تورو آب شي
سرې لمبې دانقلاب به د تاریخ خونړۍ باب شي

هم د دې کال داوو مې میاشتې نه داخونړی باب افغانستان کې پیل شو - خو دا بدلون د اکبر ارمان نه و - ۱۹۷۵ کې دیو نظم آخري بند کې د خپل ارمان څرګندونه داسې کوي:

پام خفه نه شې د ماڼو جانانه
ته د جونګړو مینه نه پېژنې
ای د خیام د جام په ځل مینه
ته د اورونو وینه څه پېژنې؟

کال ۱۹۷۸ کې یو بل بدلون راغی چې اکبر یې نه صرف په ذهني توګه بېکوره کړو. بلکه اکبر او د اکبر ټوله کورنۍ عملاً بېکوره شوه - او پاکستان ته راغله - دې بدلون د ټول افغانستان غرونه رغونه ولړزول - او یوه نوې خونړۍ دوره شروع شوه. د اکبر انقلابي ذهن دا انقلاب نه مني چې په ملیونو افغانان یې بې کوره کړل او په سوونو زرګونو نور یې له مینځه یوړل - دغه یوولسم

www.libtool.com.cn

# مرانډې

وېناوال: ډاکتر محمد اکبر اکبر

۱۳۶۸/۱۹۸۹

راز په سوونو زرګونو پکي بې لاس وښپې شول ، چا پلار بیلود، چا خوی ، چا وروربیلود چا خور ، چا میړه بیلود چا ښځه داسې وخت

www.libtool.com.cn

او داسې چا په یال کې چې یو شاعر لوستونکی او خوانیونکی هغه

په د خپل احساس څرګندونې د پاره د بیان په زور زیات زور

اچوي په نسبت د شعري ادبي ښکلاوو او صنایع بدایع.

د یو غزل مطلع یې داسې ده:

ستا د خیال لیلی ځاځې چې مې نم د کسو ورکړم

په بار خوسکروټی اتوم په دا اور داو بو کړکړم

او مقطع یې ده:

دلته هرښرنګ بغاوت دی دلته هر جرس ګونګی دی

په دې کونې ماحول کې ښکه لیونی نغمه مې شړکړم

دې کې شک نشته چې اکبر د شعر په ژبه د مقصدیت

بیان په ډیره زړوره او زوروره توګه کړی دی. او تر وسه

وسه یې د شعر حیا ساتلې ده - سره د دې چې اکبر خپلو

شعرونو کې بیان ته زیات زور ورکړی دی او صنایع بدایع

غوښتنو ته یې دومره پاملرنه نه ده ورکړې ، د ده شعرونو کې

ځینې داسې هم شته چې او ریدو سره یې زړه ټوپ کړي چې

واقعي دا شعر دی.

دلته د دې قسمه شعرونو د شمیرنه یو څو را اخلم:

یو څو خوبونه دې تس نس غوندې شه

آشنا زما د شوګیرو په خاطر

دوولسم

شونډوکې يې پټ د ناز جامونه وو

څکه خو موسکا هم کړېده پسې

www.libtool.com.cn

(شاعر کړېده د پسخېده په معنی راوستی ده.)

کله دی شونډو کله سترګوکې وي

آشنا دامينه خوکوچينۍ غونډی شوه

مړ ژواندی غونډې ساه به دژوندون غيږکې مېشته شوه

وېږې چې به دې زلفوکې خورې تلې او راتللی

اوس دې په راتلو هم پرهرونوکې ساه نه راځي

راغی پسرلی خو په ګلونوکې ساه نه راځي

اکبر په شعرکې نظم ته زیات مات دئ. دې ټولواله کې يې نظمونه (يو آزاد نظم هم)، غزلونه او ټکرې (قطعې) دی. غزل کې يې هم د نظم غونډې په يو خيال زيات زوراچولی دی. او د غزل خيالي رنګينو او خوندورو مستيوکې يې هم د مقصديت لمن نه ده پرېښې. د ژبې په لحاظ اکبر خپلو شعرونوکې د پښتو خالص الفاظو ته زياته پاملرنه ورکوي. چې څنې ځای کې دده د مشکلاتو غمازي هم کوي او لوستلوالو ته به ګران پرېوځي. البته د پښتو ژبې د پاره دا ډېر ارزښت لري چې داسې الفاظ او محاورې خوندي وساتلی شي. د اکبر د شعرونو ځنې الفاظ او محاورې زما ډېرې خوښې شوې دی. يو څو محاورې يې دا دی:

سا ماتې غونډې ساه

مړ ژواندی سلګی

دیارلسم

لار ورکی امیدونه

www.libtool.com.cn

مرشواندی غوندې ساه،

دا خیالونه مې تالا کړه دا ځوانی زما لوګی کړه

خوشمله مې ښېته نه کړې، ګورې پام کوه پښتون یم

آخر کې به دا ووایم چې د اکبر د شعرونو دا ټولواله د پښتو
په ادب کې یو ارزښتناک زیاتوالی دی او قدر یې پکار دی.

**شېرزمان طائزی (غمژن)**

عثمان آباد- پبی- ضلع پښاور

۱۹۸۸/ ۲/٦

شورلسم

www.libtool.com.cn

# داخبرې او دا شعرونه

(۱)

د پښتو نازک خیال شاعر کاظم خان شیدا وایي:

مضمون د شعر لکه پیکر وي
رنګین الفاظ یې رخت و زیور وي
ورته ضرور دي دا دواړه څیزه
پیکر که هر څو دلرباتر وي

په شعر کې د «شکل» او «مضمون» موضوع له همدې امله مطرح ده، کوم شعر چې مضمون ونلري که د الفاظو رخت او زیور یې هر څومره ښکلی وي، د ښوند شعر نه ورته ویل کېږي او ښوندی شعر نه وي، داسې شعر محض د خوند له پاره کار ورکوي، د اولس په درد نه خوري او محدودې حلقې د ذهني عیاشۍ له پاره کار ترې اخلي. دا راز شعر برسېرنه ښکلا لري، سامعه نوازي کولای شي خو زړه ته لار نه لري او د زړه تارونو ته خوځښت او ترنګ نشي ورکولای. دا ډول شعر په کتابونو او دیوانونو کې د ادبي فوسیل په توګه

پنځلسم

پاتې کېږي خودمومیایي یامجسمې په توګه نه .

د پانې بل اړخ هم هسې دی که یوشعرهرڅومره ښه مضمون ولري
www.libtool.com.cn
خوچې دالفاظورخت اوښېړونه لري دتشوخبروبڼه غوره کوي اوڅرنګه چې دردیف ،قافیې اونوروشعري ضرورتونوله امله په شعرکې ګرامري اومحاوروي ګډوډي هم راځي نوځکه هغه نثرتري غوره ګڼل کېږي چې داسې مضمون پې خوندي کړی وي. موږ په بره پښتونخواکې دې ډول شعرته «نظم» وایو، په لره پښتونخواکې یې بیا «توکځ بندي» بولي او دواړې خواوې یې د شعرله چوکاټه وباسي.

دا وېش د «آمد» او «آورد» په الفاظوهم شوی؛ شعرطبیعي اوالهامي وي په شاعرراځي او هغه یې لیکي، دا شعرساده اوسوچه وي ساختګي او تصنع پکې نه وي، دې ډول شعرته د «آمد» نوم اخلي اوتعبیریې داسې کوي:

شعرڅه دی؟ دشاعردزړه آواز دی

چې پرې زړونه ژوندي کېږي هغه سازدی

یوالهام دی چې راځي دزړونوکورته

واقعي شعریې شکه چې اعجازدی

او «آورد» بیا هغه وي چې شاعرکېني ،زوروهي الفاظ سره ونښلوي، صنایع اوبدایع پکې پېلیزکړي ، ترصیعات او تلمیحات پکې وتومبي او دالفاظو له اړخه یې منظم او ډون وکړي خودکشش اوځان ته راښکلوماده پکې نه وي او دې بیا داسې تعریف کېږي:

نظم څه دی؟ دلفظونو نښلول دي

دردیف اوقافیو سمبالول دي

شپارسم

## يو صنعت دى مهارت او فكر غـوا ړي
## د بيتونو او بندونو جـوړول دي

www.libtool.com.cn

د شعر د نازک تړوکي د تنستي او رنګ ښکلا په دې برخه کې هم نه لنډيږي بلکه نوښت او ابتکار يې يو بل خصوصيت دى، که د مضمون يا شکل يا دواړو تکرار ډېر زيات شي نو بيا خبره له تواږد، پيروى او سبک څخه ادبي ابتذال ته رسيږي او د ادبي غلا تور او تومت ته لاره هواريږي .

په دې اساس « مضمون » « شکل » او « نوښت » درې واړه د شعر په ادبي معيار کې لوى لاس لري او کوم شعر چې دا درې واړه خواوې يې پوره وي هم د « ژوند » شعر وي او هم د « خوند »، او هـداسې شعر تلپاتې او جاويدان وي مضمون يې د تاريخ پوهانو، ټولنپوهانو او وګړپوهانو سند او اتکا وي او شکل يې د ادبپوهانو، ژبپوهانو او هنرپوهانو لاسوند او استناد او نوښت او ابتکار يې د ادبي تحولاتو مبدأ او پيلامه .

د ژوند شعر د اولسونو له ژوند سره غبرګ روان وي، هم د ژوند انځورګري کوي او هم د ژوند بدلونونو ته نوى ادبي پېرايې او هنري ادازيږي وي، کله-کله د اولسونو په ژوند کې يوه داسې ناڅاپي پيښه وشي چې د هغو د تعبير او بيان له پاره د نويو پېرايو پيداکول او د مضمون هنري ځـول وخت غواړي او هـم دا لته ده چې د مضمون او شکل د تناسب ټوله ورانه او شعر له هنري نيمګړتيا سره مخامخ کړي .



په نوروټوبوکې که د شعر او ادب بنه هر ډول وي وي به خو د پښتو په برخه کې په مشخص ډول ويلا ى شو چې د پښتنو حساس جغرافيايي او تاريخي موقعيت او
او ولسم

www.libtool.com.cn


- دکتاب نوم : مراندي
- ویناوال : ډاکتر محمد اکبر اکبر
- خطاط : نورالدین هنریار
- دچاپ کال : ۱۳٦۸ / ۱۹۸۹
- بیه : ۲۵ روپۍ

د دوی حساس اجتماعي شخصیت د دوی ادب له آره اوسټي د دوی له ژوند سره مل راوستي او مونږ په زغرده ویلای شو چې پښتو ادب د ژوند ادب دی نه تش دخوند! او په ژوند کې یې هم حماسي برخه ځکه درنه ده چې د ملت د تاریخ په اوږدو کې د خپل هېواد د حساس موقعیت له امله د لویو او پرځواکو نو له تېري سره مخامخ شوی، مېړانه یې کړې، مقابله یې کړې، سربښندنه یې کړې، سوبه یې کړې، بري یې په برخه شوی او له لوی نه لوی یرغلگر ته یې ماته ور کړې او دا ټولې پېښې د دوی په ادب کې خوندي شوې، ژوندۍ شوې او تل پاتې شوې دي.

له امیر کروړ نه راپیولې بیا تر ملکیار غرشین، تایمني، بابا هوتک، اکبر زمینداوری، خوشال بابا، رحمان بابا، حمید بابا او تر هغه وروسته بیا تر ننه پورې په سلهاؤ پښتنو شاعرانو د خپل ژوند حماسي انځور کړې او د خپل وخت له یرغلگرو سره یې د پښتنو مبارزې او جهادونه هنري او ادبي کړي دي. — «مغلواله» او «پرنگواله» یې غندلي او اوس یې له «روسولي» سره د خپلو قلمونو تېرې نوکې ارم کړم دي.

په پښتو ادب کې مهم ادبي انقلابونه د مهمو اجتماعي پېښو او فکري تحولونو مولود دي، تر پخوانیو دورو چې تېر شو د روښانیانو ادبي تحول پر پښتنو باندې د مغولو د سیاسي تېري په مقابل کې د نوې مبارز تصوف په بڼه راڅرگند شو او د نوی مضمون په درلودلو سره یې ورو - ورو شکل هم پوخ او هنري شو او د «ارزاني» ساده ادا ته «میرزا» او «دولت» ادبي پیرایې او اداوې پیدا کړې، خوشال خان له مغولو سره د مبارزې مضمون ته نېغ په نېغه ورننوت او د شعر هنری دیوال یې نور هم پوخ کړ.

په شلمه پېړۍ کې پښتانه د انگریزانو ښکېلاک او نا دودو د آزادۍ غوښتنې

اتلسم

په نوې ږوحيه سمبال کړل اوکله چې دا مفکوره دادب غېږې ته ولوېده يوځل بيا د شعر شکل پاتې راغلى اود نوي ادبي پېراو دا تياره ذخيره يې نه وه،
www.libtool.com.cn
شعرله حالاتو سره دګړندۍ مبارزې په غرض ږاميدان ته شو او په ډېره ساده او عادي ژبه يې د هېواد پالنې ترانې پيل کړې :

ږه ږما ډک دى له مينې د وطن
خپل وطن ماته عزيز دى ترخپل تن

(غلام محى الدين افغان)

خورو-ورو شعر د مضمون او شکل د واړو اړخه له دې غور ځنګ سره نيار کړل او ډېر داسې خوا ږه شعرونه وويل شول چې هم يې مضمون ښکلى ، هم ږېور ښکلى او هم يې ادبي نوښت درلود.

پر افغانستان باندې د روسانو تيرى هم هغه داسې يو ناڅاپي تاړاکٌ وُ چې دافغانستان ټول اولس يې يوځل بيا د مبارزې او جهاد په سنګر کې ودراوه او د افغانستان شاعرانو او روښنفکرانو هم د قلمي، ادبي او فرهنګي جهاد د سنګر ټود کړ، د دې ملي پاڅون او اسلامي اوښتون په غېږه کې هم پښتو شعر له خپلو اسلافو نه ږاپاتې حماسې او جهادي لاره وپالله او ږمونږ د مبارز او مجاهد ادب پرلړ کې يې يو نوې طلايي کړۍ ورزيا ته کړه خو بيا هم د شعر شکل له ستونځو سره مخامخ شو د نوي ادبي پېراو او داوُ دا ځا د ضرورت وُ او دې کار وخت ته اړه درلوده اما شاعرانو نشو کولاى چې غلى پاتې شي او په دې حساس وخت کې د شعر رسالت ته د مه ورکړي. ږمونږ په سلهاوُ شاعرانو له روسانو او کمونستانو سره د خپل ژور نفرت ښودلو په خاطر او د خپل اولس د لاوينيولو له پاره ترانې وغږولې، شعرونه يې وويل او حماسې يې خلق کړې. د جهاد ږانګونوي شاعران او-

نولسم

ويناوال هم د جهاد صف ته ورانده ي کړل او ورو ـ وروسته يو ځل بيا د ، شعر د مضمون تر څنګ د شکل موضوع هم مطرح او د توجه وړ شوه ، د جهادي شعر پيکر په ښکلو جهادي پيرايو او اداؤ وپسولل شو او د جهاد شعر لکه څنګه چي د ژوند انځور ونکي ؤ هماسي د خوند در لودونکي هم شو او زموږ د جهاد په مطبوعاتو کي زياتي معياري شعري پارچي او حتی شعري مجموعي رامنځ ته شوي او د پښتو ادب په تاريخ کي يي يو بل نوی باب پرانيست .

www.libtool.com.cn

( ۳ )

زموږ د ادبي سنګر له هغو ځوانو ځيرو څخه چي شعر يي هم ښه محتوی لري او هم ښه ادا او حتی د جهاد نازک خيال شاعر ورته ويلای شو يو هم ډاکتر اکبر اکبر دی خوښکي له دي چي د دي ځوان شاعر په فن او هنر خبري وکړم ، د ده نوم اخيستنه يو ځل د خپلو زړو خاطرو غيږي ته ورسولم ، زما د ځوانی د وختونو او د آزاد افغانستان د يادونو غيږي ته .

د ۱۳۴۱ کال خبره ده زه د اتلسو کلو وم ، د هيواد له مطبوعاتو او راډيو سره مي د ادبي همکاری لومړي کلونه وو ، د نورو خيرونو تر څنګ به مي د راډيو ادبي پروګرامونو ته هم مواد ليکل او په پل باغ عمومي کي به مي د راډيو زاړه دفتر ته سپارل ، ښاغلی ننګ يوسفزی هلته د ادبي پروګرامونو مشر ؤ ، زه به چي ورغلم کله ـ کله به په اداره کي يو وړوکی ماشوم هم ورسره ؤ ، د ماشوم عمر به پنځه ـ شپږ کلونه وو خو بيدار ، هوښيار ، خوځند او ځيرک ماشوم و ، په ښه جرأت به يي سترګي مشي او برخورد کاوه ، دا ماشوم د ننګ صاحب زوی ؤ .

ډير کلونه ووتل نه مي بيا ننګ صاحب وليد او نه دا ماشوم ، په ۱۳۵۳ کال کي ورځي مجلي د محمد اکبر اکبر په نامه د خوږ وشعرونو نشر ول پيل کړل ، توجه

شلم

مې یې جلب کړه ، له چا نه مې وپوښتل دا شاعر څوک دی؟ راته وویل شول د ننګ صاحب زوی دی ، زما سترګو ته هغه هوښیار او ځیرک ماشوم نیغ ودرېده . ما دا وخت

www.libtool.com.cn

په پښتو ټولنه کې کار کاوه ، یوه ورځ یو ځوان راغی ځان یې را معرفي کړ او خپل یو غــــزل یې چې په خپل خط یې لیکلی و راته اهداء او وړاندې کړ ، دا ځوان محمداکبر اکبر و او یاد پرون هغه وینس ماشوم چې زما په ذهن کې یې ځای نیولی و . بیا به موو وخت په وخت لیده کاته کېده .

په ۱۳۵۷ کال کې چې پر افغانستان د کمونیزم خونړی سیلاب راغی او بیا په ۱۳۵۸ کال کې چې سره لښکرې زموږ په هېواد کې پلې شوې هر څه یې ګډوډ کړل ، زموږ ډېرې مادي او معنوي هستی یې ونغړلې او زموږ ډېر ځوانان او روشنفکران یې تر ستوني تېر کړل ، د دې سیلاب په څپو کې محمداکبر اکبر هم رانه نهام شو څو چې مې په ۱۹۸۱ کال کې د ده جهادي شعرونه له پېښور راډیو څخه واورېدل او څرګنده شوه چې دا حساس او هېوادپال ځوان د خپلو ملګرو په لاره روان شوی او د مقدس جهاد او پاخون له سپېڅلي بهیر سره مل شوی دی ، زه هم په ۱۹۸۲ کال کې پېښور ته راغلم ، محمداکبر اکبر اوس هغه ماشوم او هغه ځوان نه و چې ما لیدلی و هغه اوس خپلې لوړې زده کړې تر سره کړې وې او د ځوان ډاکټر په توګه په کار بوخت و ده چې په هېواد کې د خپلو هېوادوالو د هوساینې هیلې درلودې اوس د خپلو آواره او کډه په سر هېوادوالو د جسمي ناروغیو په درمل بوخت و او د خپلو ناروغانو پسې یې د دوی د مهاجرت د کبر دیو مراندې تر پښو لاندې وې.

د محمد اکبر اکبر وظیفه د ډاکټر وه او ډاکټر ډېرې خطیرې او وخیمې پېښنې هم وار خطا کولی نشي خو احساس یې هغه د شاعر احساس و له ډېر واړه درد نه یې تور درک درلود او له همدې کبله یې د شعر یون څپله لاره روان پاتې

یوویشتم

شو، د تکامل او تنوع په لوري يې نوي پړاوونه ووهل او نوي گامونه يې اوچت کړل. د ده شعر د جهاد او مهاجرت له کاروان سره مل شو او د دې ترخه ویارمن ژوند انځورونه يې وايستل.

www.libtool.com.cn

(٤)

د ښاغلی محمد اکبر «اکبر» مراندې» د ده د شعرونو يوه برخه ده، خوانتخابي برخه نه بلکه هغه برخه چې د سره سیلاب له ناتار څخه بچ شوي او د ده په لاس کې پاتې شوې ده، په دې مجموعه کې د ده د سپوږمۍ د دورې شعرونه هم شته، د ده د پوهنتون د زماني هم او د ده د اوسنی کډه په سر شوند دوخت هم، د ده خپلې دې مجموعې ته زماني ترتیب ورکړی او په دې توگه يې د لوستونکی مخې ته د خپل شعري او فکری يون يو کلکسيون ایښی دی.

د اکبر شعر هم د ده د ځواني اسرې او تلوسې لري، هم د ژوند او خوځښت پيغامونه او پندونه او هم د هجران او هجرت سوی کړیکې او کیسې. لکه څنگه چې د ده یو بل هوطن او همنام شاعر اکبر «میداوری چې په پښتو کې يې د روان غزل خښته ایښې شپږسوه کاله وړاندې د مغولو تیمور په اور سوی ولو له دې ماتمه يې «میداور هیر کړی و»:

د مغولو تیمور هسې په اور وسوم
چې به هیر په دې ماتم زمینداور کړم

نږ هوبن اکبر هم د کمونستانو اور هسې وسوځاوه چې د مهاجرت لاره يې ونیوله، له دې ماتمه يې وطن پر ښنود خو هیر يې نه کړ او د خپل میږنی ملت په ایمان يې په بشپړه داوسره د راتلونکي بري تراني وغږولې.

موږ د دې لیکنې په سر کې د شعر د مضمون، شکل او نوښت په باب غږېد لی دووویشتم

وواود «آمد» او «آورد» په عناصرو موخبري کړې وي او بیا مو ښاغلي اکبر ته د جهاد د سنګر نازکخیال شاعر ویلی ؤ دا ځکه چي د ده شعر ډېروندی مضمون تر څنګ ښکلی شکل هم لري او له شعري نوښتونو نه ډک دی. دا تشه ادعا نه ده دا انقلاب او قیام نوی مضمون ته ده په مهارت ښکلی شکل او پسوللی شکل ورکړی، تشبیهات او استعارې یې ورته پیدا کړې او د مضمون او شکل په دی نوی ترکیب کې یې له ابتکار او نوښت نه کار واخیست.

زه دده د شعرونو او زړه ده نمونې نه راوړم مراندې ستاسو په وړاندې دی خوله تاسو د ګرانو لوستونکو نه هیله لرم چي بالاخص د «کریکه»، «زه سوزم»، «افغان شهید ته»، «دا اختر دا ګل زموږ د قربانیو»، «هلته تاسو آزادی یئ هلته تاسو انقلاب یئ»، «په وړاندې»، «د کابل توره جمعه»، «ځوانه ته څوک یې؟»، «د لاړ پوښتنه مه کوه»، «د شهیدلو رکه دامن موږ» د پارچو په لوستلو کې زما تر د احساس هم در سره مل کړئ او بیا زه هم دا پارچې هم کولای شي چي زما دا دعوی چي د ډاکتر اکبر شعر د مضمون او شکل رنګین امتزاج دی او ادبي نوښت لري، د اثبات کرسی ته ورسوي او ښو لي «مراندې» په هم دی تله وتلي:

په تناو د تورو شپو ستورو ته خېژم
خال یې ګورم زلفې نیسم مراندې - مراندې

په پای کې ګران ډاکتر اکبر ته د دې شعري مجموعې په خپرولو مبارکي ورکوم، په پښتو او خصوصاً جهادي ادب کې یې یوه ښه اضافه ګڼم او درانه لوستونکي یې اخیستلو او لوستلو ته رابولم!     په مینه

حبیب الله رفیع

کوز تاکال، پېښور - د ۱۳۶۷ کال د غويي اوومه نېټه - ۱۹۸۸ / ۴ / ۲۷

درویشتم

www.libtool.com.cn

# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| پیش نامه (همیش خلیل) | لومړي |
| یو نظر (شیر زمان) | اتم |
| داخبري (حبیب الله رفیع) | پنځلسم |
| پیژندګلوی (ننګ یوسفزی) | څلېرویشتم |
| دلوی خدای په نوم (ډاکتر اکبر | دردیرشم |
| ❖ ❖ ❖ | |
| لوی خدای | ۱ |
| ځوانه ته څوک یې ؟ | ٤ |
| تلي او راتلي | ۱۲ |
| غزل | ۱۳ |
| د والو شرنګ | ١٤ |
| دزړه خوب | ۱۵ |
| دهجر شپې | ١٦ |
| ترهي اوښکي | ۱۷ |
| چیرته یم | ۱۸ |
| انتظار | ۱۹ |
| غزل | ۲۰ |
| موسکا | ۲۱ |

www.libtool.com.cn

# پېژندګلوي

اکبر لا لس کلن ما شوم او د شلورم ټولګی زده کوونکی و چې په یوه مشاعره کې یې ګډون وکړ. و د ده دغه شعر د ده له منګ نه ډېر مشر او له ونې دوه مړه لسوړو چې او رېد و نکی ورته ګوته په غاښ پاتې شول او ځینو پکې لا دا تپه هم وویشتله چې دا یې د پلار شعر دی ...

دوه درې کاله وروسته چا پوښتنه وکړه چې د اکبر شاعري اوس کوم ځای ته رسېدلې ده؟ ما ورته وخندل ویل مې: نور نه پوهېږم خو ځکه یې چې اکبر کوم شعر ووایي نو خلک وبه ویل دا یې د پلار شعر دی خو اوس چې زه کله په خوارو خسکو کوم سنه شعر ووایم نو خلک هغه د اکبر بولي ... ولې رښتیا خبره داده چې ما لا تر اوسه چې په شپږ پنځوس کلنۍ کې پل بردم د اکبر غوندې یو شعر هم ندی ویلی شوی، پاتې لا هاغه وخت؟

زه او شاعري؟ که کوم شعر وایم هم نو ډېر وخت اخلي په ډېر کړاو یې وایم او تر اوسه چې مې څو مره اشعار ویلي دي د وطن په نوم له منظومې ډرامې نه پرته په نورو کې به ایله په خوارو د ګوتو په شمېر یو څو اشعار داسې وموم چې څه لږ و ډېر به موورباندې د شعر مینه ماته شي ... او نور ټول په نیشت لیکه وګڼئ ...

شلرویشتم

دا بېله خبره ده چې په پښتو، اوار دوکې يو څه مات ګوډ ليکونکي
ضرور يم، او د ژوند دا ډېره برخه مې د صحافت سره پېوند پاتې

www.libtool.com.cn

شوېده او پرته له نورو ځايونو نه دي د وولس کاله خونړه د -
افغانستان راډيو د هنر او ادبياتو د پښتو څانګې مدير پاتې
شوی يم او په زرګونو پاڼې مې تورې کړېدی ... خو چې کله
له عملي صحافت نه عملي سياست ته ولاړم او د افغانستان د ولسي
جرګې د ۱۳٤۸ کال په انتخاباتو کې مې د کندوز د ولايت دد شت ارچي
له ولسوالۍ نه (د نيشنل اسمبلي ممبرشپ) د ولسي جرګې وکالت
وکاته نو بيا نه ليکلوته جوړ شوم او نه لوستلوته - ډرامې او فيچرونه
ليکل خو څه کوي چې اوږ دو او لنډو افسانو هم ورسره سر
وخوړ، د تخيل نيلی په ټپه ودرېد او د قلم څوکه دومره پڅه شوه
چې هغه وينوم يې هم اخلي خوښه مې له پخوانه لا تېره او زېږه شوه
د کوترو له چم نه موکېده وکړه او د ګل و بلبل په ځای مو د سرو پڅو
په ګټک کې شپې شوې ... د خوږو، پښتو، ادبي مرکو ځای
سياسي نانددريو ونيوه او د صحافت لوړ مقام د سياست ډنډه ته
ورورسېد ....

هو! نو خبره د اکبر وه - څومره چې وخت اوښته او د اکبر
عمر پخېده همدومره د ده په اشعارو او اشارو کې پوخوالی راته ...
او د فکر غور ځنګونه يې لا څپاند کېدل ....

دا کبر شعري ژبه چې څومره پخه ده تر ديځه يا ته خوږه
او پسته هم ده ... دی چې کله د تخيل په رېښمينو تارونو ځانګي
پنځه وېشتم

نو د سرې ورباندې د حميد او حمزه د کانديتوب مينه ما ته ښي:

www.libtool.com.cn

په ويجاړ ميکده کې کنډولې ټوټې ټوټې شول
د جنون سنا پيرۍ ګورۍ د ساقي په مزار ناځي

او چې کله د اکبر د زړه ستنې د خپل رب په لور کږېږي نو د خدای مينه يې د سترګو په ګلو کنډولو کې د کوثر کټورې ښي . . .

بيا درب جنډې به يو سوتر آسمانه
قرآنونه به د خدای وطن کې کښېږدو

دی چې کله د خپل هېواد مينې ته د شعر کالبوت ورکوي نو داسې برېښي چې دده د پښکې ټوله بوده تنسته د وطن له مينې جوړه ده او د خپل ولس د ختو چيت کورونه ورته د نورو له دنګو ښکلو ماڼونه هم لوړ، او جګ ښکاري . . .

اکبر خپلې وروستنۍ شاعرۍ ته د روسي ډاکه مارانو په مقابل کې د افغانستان د خپلواکۍ د روان مقدس جهاد روح ورپوکلی دی او د شعر په ژبه يې د خپل عقيدت ګلونه د خپل شاه زلمي او قهرمان ملت په پښو کې داسې ورښندلي دي:

د خپلواک ژوندون په بيه
د سرو نو سودا وشوه
له يوې سلګۍ له ساه نه
سل وژلو له ساه وشوه

دی پرته لدې چې يوه ځانګړې سيميزه پښتو خپله کړې

شپږ ويشتم

ټوله پښتو، د ټولو پښتنو ګټه او په ټولو پښتنو کې یې لټوي...

www.1btool.com.cn

اکبر هڅه کوي چې د دې ژبې تس نس او چلنګ وڼګ شوي ملغلرې د شعر وادب په نوسو راوانوي... د نازک خیالۍ په رېښمینو تارونو یې وپېیي... دا ټولې کوکې راټولې کړي او د یوې لوی ګوکیانۍ په ارته لمن کې یې ځای کړي...

منم چې اکبر په اشعارو او اثارو کې د پښتو داسې سوچه او نږه لغات شته چې ماغوندې سړي ته به وریاندې پوهېدل لږ ګران وي... خو د لالونو په بیه د نه پوهېدلو مطلب دا هرګز نشي کېدلی چې ګوندی لالونه دې له خپله نرخه پرېوتي وي....

دالغات د پښتو ژبې د برو غوره او په زړه پورې پانګه ده... هم په دې ډول ژبې غنا مومي ... شتمنتوب پیدا کوي او راتلونکو کولونو ته پخپله ژبه کې د پوهې تر لاسه کولو د پاره لارې ګودرې هوارېږي ژبه چې څومره پراخېږي، همدومره یې د علم او هنر سره خپلوي زیاتېږي... او د تمدن چوپې بهیرنۍ یې په کور کاله پراونیږي...

د ژبې له لیاري نه ملتونه یو په بل خپل ځانونه او فکرونه ورپېژني او هم دا هغه استاذ ګرندی ده چې د مینې ډالۍ وړي راوړي او د ولسونو ترمینځ نیږدې والی ته کوښښونه وکوي....

ماغوښتل چې په اکبر د برخه ولیکم او د ده شاعرۍ منځ وپلو کړم خو دوو خبرو یې مخه ونیوله یو دا چې اکبر ځما زوی دی او که زیات څه ولیکم نو نه چې د ده له شاعرۍ او لیکوالۍ نه دا خبره زیاته ځما د پلارولي په مینه واوړي... او بله دا چې پوه او نامتو لیکوال، شاعر او محقق -

اووه ویشتم

ښاغلي حبيب الله رفيع، نامتو ليکوال، ډرامه کښونکی او شاعر ښاغلي
شېرزمان خان «طائيزی» او نامتو ليکوال او شاعر ښاغلي همېش
www.libtool.com.cn
خليل وربانـدې دومره څه ليکلی دی چې ما ته يې په سيوکې پوښتنې هم
ورپشولوته نده پرېښي له دې کبله غواړم چې د اکبر له شاعرۍ او -
ليکوالۍ نه لږ څه په ډېره تېرشم او يوازې د اکبر څا نګړی ژوند بيا ګر
وپېل کړم ...
اکبر لا په دوهم ټولګي کې وو چې په کالنۍ ازموينه کې په ټولو
برياليو وخوت او دا بريالی توب يې تر دولسم ټولګي داسې وساته چې
دوه کاله خود حبيبيه ليسې «کالج» چې په زرګونو زده کوونکو يې
زده کړې ترلاسه کوله - تر ټولو ممتاز شاګرد وو او ده پر چې به په
ازموينو کې دکليپي «کوبجی» په نوم ياديدلی.
اکبر د کانکور په لويه ازموينه کې هم خپل او چتوالی وساته او په
هغه کال چې د ننګرهار دطب پوهنځي (ميډيکل کالج) ته څو مرهلکان
جينکی بريالی شوی وو اکبر تر هغو ټولو لوړې نمبرې اخستلی وې
او بيا له هجرت نه وروسته د پېښور د خيبر ميډيکل کالج نه يې هم
په فرسټ ډويژن کې دايم.بي.بي، ايس ډګري ترلاسه کړه ....
اکبر څما کشر زوی دی - اولاد په هرځای کې ... په هرچا
ګران وي خو اکبر ما څه بل ډول ګران وو... اخو نظر حق دی او زموږ
په مينو هم لکه چې د چا د نظر غشی را برابر شول ... او خدای خبر
چې چا مير څمنو، زموږ په منځ کې توری کتوی وګرځولی ... چې په
لږ څه کې موږ زموږ د سپېڅلی مينې په کوڅه کې سره تېر و بېر شول ...
اترولښتم

خنده لري - چې د دې ټولو اړخونو ړاسپړو دل او پلټنه او د آرزو او فکر د هر اړخوړ لیدل او لوستل زه خپلو درنو او ستړکورو لوستونکو ته ورسپارم.

www.libtool.com.cn

زما په عقیده لکه څنګه چې ساه اخستل، ډوډۍ خوړل، او بړ ښنل، - بید پدل، وینښېدل او داسې نور دیوه انسان حق دی، همدارنګه آزادی او په تېره بیا د فکر آزادی د انسان یو مقدس او سپېڅلی حق دی او زما په خیال هره هغه څه چې انسان له فکري جموده وباسي او له فکري انارکۍ او تس نستیا نه یې بچ ساتي - او د قلم د آزادی الهام وربخښي - پاکه، مومنه، مقدسه او تعمیري ده.

همدارنګه زه پښتو یوه ژوندی، پیاوړی دادب په ټولو تقاضو پوره، پراخه او لرغونی ژبه ګڼم - او یو پوخ او پوره خیال هغه وخت غوره مفهوم افاده کولی شي کله چې د سوچه ژبې په ښکلو او خوږو کلماتو چولو شي - دا کلمات ثقیل او درانده نه دی او ټول په خپل خپل ځای یو خوندور سندریزه تال او غږ لري - تش دومره ده چې زموږ ځینو لیکونو ځای پې ځایه په خپله لرغونی او سوچه ژبه پښتو کې خپل کلمات له شعر او نثر نه غورځولي او د نورو ژبو د لغاتو یې پورغوښتلی چې په دې ډول پښتو ژبه اړجه ستوي او کچه کړی شوې ده.

زه دا نه وایم چې ګنې نو د بلې ژبې نه دې سړی هیڅ کلمه په خپل شعر یا نثر کې نه راوړي - د دنیا هیڅ ژبه هم په خپل ځان بسیا نه ده - بلکه دا چې دهمدې ورکړې راکړې عمل ژبه متحرکه او همدا تحرک ژبه ژوندۍ ساتي - ولې ښایي د دې ورکړې راکړې لمن دومره هم ونه غزېږي چې سړی دی حتا او - ارومرو د شوندو په ځای یې له دې چې ضرورت یې وي لبان یا د ستړکو پر ځای د - چشمانو کلمه او یا داسې نور په سلګونو، زرګونو کلمات استعمال کړی او په دې ډول دې

اووه دېرشم

www.libtool.com.cn


| عنوان | مخ |
|---|---|
| لیونیه | ۲۲ |
| دلیونو چیغه | ۲۵ |
| څه یم ؟ | ۲۶ |
| غزل | ۲۸ |
| غزل | ۲۹ |
| د مینې غرور | ۳۰ |
| غزل | ۳۱ |
| زه | ۳۲ |
| مړاحساس | ۳۳ |
| زلمی شاعرته | ۳٤ |
| غورځنګ | ۳۹ |
| د پرهار سینه | ٤۰ |
| پاکه مینه | ٤۱ |
| لیونۍ کریکه | ٤۲ |
| بدلون | ٤۳ |
| غزل | ٤۵ |
| غزل | ٤۷ |
| غزل | ٤۸ |
| خونړۍ لمبه | ٤۹ |
| زه او ته | ۵۰ |
| د مینې اوج | ۵٤ |
| غزل | ۵۵ |
| رسوا مینه | ۵٦ |
| لیونۍ تنده | ۵۷ |
| غزل | ۵۸ |
| بې لارې | ۵۹ |
| غزل | ٦۳ |
| غزل | ٦٤ |
| تلوسې | ٦۵ |
| غزل | ٦۸ |
| غزل | ٦۹ |
| بې وسې | ۷۰ |
| کاواکې | ۷۳ |
| یوه څپه | ۷٤ |
| غزل | ۷٦ |
| مړښواندې هیله | ۷۷ |
| بغاوت | ۷۹ |
| غزل | ۸۲ |
| د جونګړو ډیوه | ۸۳ |
| غزل | ۸٦ |
| غزل | ۸۷ |
| سرکشي | ۸۸ |

چې د دیدن نصیب یې نه وي

په یوه کوڅه کې سره وراندي ورو ستو شپینه

www.libtool.com.cn

خوږمونږ په مینځ کې بل څوک چېرته ځا نیږي - د پنځو تارو شلیږي خود ویني ږکونه نه شلیږي - اکبر ځما د زړه ټوټه ده - ځما او د اکبر بیلتون دې خدای نه راولي - دا زمونږ د زړونو خبره ده - د زړونو خبرې خلک کوړونو او د کوړونو خبرې چنو کوڅو ته نه وباسي، او نه یې د کوټو سرونو ته خیژوي ....

اشنا ته هیڅ ویلی نشم

د خولې خبره مې کوټې ته خیژوینه

اکبر ته په کورکهول کې مونږ ټول له مینې باچا وایو... باچایان خوږ وروړ خلک وي... په کک ورانه په کک ودان... خو زمونږ باچا داسې ندی - دی په ډېر وهم نه ورانیږي، او د ګوګل آنګې یې ډېر ویږ دی ... په زغم کولو ورته ځان ښه بریښي خوکه مینې یې یوواري تور وخوړ، نو بیا دې خدای مل شه...

د اکبر وروکوالی او ځوانی دواړه په متانت او دروندوالی کې زیات تو پیر نلري په وړوکوالی هم ورته خدای ښه خوی ورکړی وو... او چې څومره غټیده په سې، همدومره خوږیده او درندیده پسې ....

د خدای مینه د اکبر د زړه لویه او بې کچه پنګه ده او له خدای نه ویره یې د ژوند د لیار وړوسیا نه لیت ....

اکبر چې په ځوانۍ کې خپله لمن څومره سپیڅلې او راټوله -

نه ویشتم

ساتلی ده... دومره راټوله لمسن د ما غوندې خلکو په پیری کې هم نه په نصیب کېږي.

www.libtool.com.cn

اکبر لا ماشوم وو چې زه ځوان وم... ځوانی د هرچا لېونۍ وي. خو ځما ځوانۍ بېخي ګټې ویشتلی ... او باور مو وشه، چې اوس په دې شپږ پنځوس کلنۍ کې هم له ښځې غږکې نه غونګ وباسم او هغه د ارواښاد ګل پاچا الفت خبره:

سنګلی چې ویښم ګېډۍ مې نیسي
مینه په ما باندې پېریان راولي

زه چې خومره په خپلو ګړمو داده «معتوف» او خپل رب ته کوز ګوری یم، هم دومره د ځوان اکبر له پلوه د خپل خدای په وړاندې مې ستوګې او چتې دي....

اکبر په پښتو پښتونولۍ کې لمانه هم څوګامه وړاندې دی او چې خبره دین له راشي نو راشه که یې ګوري. زه چې پخپله په کومه ورځ پنځه واړه لمونځونه په جمع وکړم، نو په هغه ورځ آته واړه جنتونه خپل ګڼم او بل چا ته پکې د پښې اېښو دلو ځای هم نه ورکوم، خو اکبر له ماشومتوب نه د لمونځونو او روژو ونږ ښت پابند څه چې کله ناکله پکې له موبتی نه پورته لوهم کوي او نفلونه یې په فرضو وراوړي...

اکبر پخپل رب، زه مونږ ستاسو د ټولو په رب د دې ټول کاینات په رب کلک ایمان لري.. . او د اسلام د ښوند په فلسفه تردېره پورې پوهه او ولاړ بریښي... او هم دا لاره د خدای تر درشلې

دیرشم

نبغه بولي ... دانسان سره مینه کول اکبر خپل ځان باندي دخپل
خدای لویه پیرزوګڼي ... او د خدای مخلوق ته په د ښو و درند وسترګو
www.libtool.com.cn
کتلو ورته ځان د پر درونـد بریښي ... دی آزادی د بشر فطري
حق ګڼي او د بل زورول ورته لویه ګرمتیا او ګناه ښکاري ... اکبر فطرتاً
دیوه فلسفي ذهانت خاوند دی چې په خبرو، اشعارو او لیکلو کې یې
د فلسفي ښه د پره زغرده، او ثروندخه بریښي ... پښتو یې مورنۍ
ژبه ده په فارسي - اردو او انګریزي ژبو کې یې په لیکلو مت ښه پر
دی او د یوې موضوع په څېړلو او رسولو کې خاص انداز او سبک
لري ....

ډاکټر اکبر له شنده شهرت نه ډه کوي او د ژوند په هر
اړخ کې رښتیا او واقعیتونه د ژوند اصلي ښسټ ګڼي ... دده په
دی لوړو کړوړو علمي وده، فطري پوهه، او اوچت کردار کې
ځماغوندي دیوه بې لیاری پلار، چې د پوهې له مخې یې له اتم ټولګي نه
وړاندې نورتګی هم نه وي لوستلی څومره ونډه او برخه کېدلی شي؟
پرته لدې چې سرې په اکبر باندې یوازې او یوازې دا د لوی
خدای پیرزوو ګڼي او په زغرده وواېي چې:

این سعادت به زور بازو نیست
تا نه بخشد، خدای بخشنده

داکبر په هکله چې ما داپورته څه لیکلي دی پدې کې یوې
خبرې هم یوازې ځما د پلار ولی له تشې میني نه سرنندی وهلی
ځما نور اولادونه هم شته او هر یو یې خپل خپل ځای

یو دپرشم

د انجنیرۍ او ډاکترۍ غوندې اوچت او عالي تحصیلات لري
www.libtool.com.cn
خو په دوی پښتو لوکې یو هم نه شاعر دی او نه ادیب او لیکوال

فاتح الملک ننګ یوسفزی
جمال روډ ـ شاهین ټاون ـ پېښور
۹/۹/۱۹۸۸

www.libtool.com.cn

# د لوی او ستر خدای (ج) په نوم

زه په دې کښالو او تحقیقي بحث کې ځان غوزول نه غواړم چې د ادب په مسئلو سره سرخوږي وکړو. دا کار د محققینو او نقادانو دی او هغه د چا خبره چې نقاد خو په شعر کې هغه څه راوباسي چې د شاعر هډو په خیال کې گرځېدلی هم نه وي. داچې یو شعر هرڅوک په خپل نظر او د خپلې رایې او منطق سره سم تفسیر کړي ځما په خیال دا د شعر د مرکزي خیال د پراخوالي دلیل او گلکه ده. لکه څنگه چې زمونږ چاپېریال او خوا او شا مونږ له د برخه راکوي او زمونږ او زمونږ د تحلیل له کړوړو نیولې، زمونږ تر پیژندگلوي او شخصیته پورې په هرڅه کې د چاپېریال د عامل یا فکټر برخه ده همدارنگه هر انسان د خپل استعداد، توان او سهیک سره سم د خپل چاپېریال یو انځور جوړ کړي. دا انځور هغه له همدې چاپېریاله اخستی وي او بیا یې بېرته همدې چاپېریال ته ورستون کړي دا عمل دانسان او چاپېریال ترمنځ د پېژندنې راپېژندنې او یا د یوه پړله پسې تعارف، ژوندی او پیاوړي (خوځ)، او جریان دی او له همدې خوځه انساني مدنیت د تاریخ په اوږدو کې وده کړې، او دا وړوکی یې موره ماشوم د طبیعي دری دېرشم

حوادثو د میرني مور په غېږ کې لوی شوی، ستړ شوی او د ده هستي د خپل وجود او شته توب د ثبوت په اوږده اوکنده کېږه لارکې کامونه اخستي او په وړاندې تللې لکه څنګه چې ساینس د فطرت د پېژندلو، سپړلو او د فطرت په دود او قانون د پوهېدلو نوم دی، همدارنګه ادب هم د الفاظو او ټکو د یو ځای پیېلو، کوشېرولو او ترلو هغه هڅه ده چې غواړي د فطرت ځېره په خپل ښېستیني او واقعي شکل کې سمه ټیک او بربنډه وسپړي او ترسیم یې کړي.

www.libtool.com.cn

ادب هغه انګې ده چې د چاپېریال، سندرو، زمزمو، ږېرګو، فریادونو، کړیکو او چیغو ته ورغبرګېږي. که زمونږ په چاپېریال کې سندرې او زمزمې ده بیږي وي - دا انګې به سندرې او زمزمې غبرګوي - او که زمونږ د ټولنې او چاپېریال دهرې ذرې په شونډو کړیکې خېم وی او د هرتوکی وجود یې له درده جوړ او هرغړی یې زخم، ټپ او ژوبل وي. او هره شیبه یې د زېږېرګی په غېږ کې تیره شوې نو ادب انګې به کړیکه، درد، د زخمونو سوی او د زېږېرګو تریخ والی راغبرګ کړي - او دا هر څه او ټول شیان بې مقصده نه دی - دا ورکړې راکړې یو طبیعي عمل دی او هلته چې ژوندی ددې عمل په مرسته د ژوند درد له درمل، د زېږېرګو تریخوالی له د آرام او سکون خواږه، د لوږې له زوره دورغلو ګېډو کولمولو ټوک مړې، د بند له زوره د خپه احساس تن ته د آزادۍ او خپلواکۍ غوړېدنه بخښي - او د میني د پرېښتو په لاسو د کرکې او نفرت په پرهرونو د پېرزو پهې بړدي - هم هلته ده چې ژوند په وړاندې خوځي - او انسان په هغه لور او په هغو لارو په وړاندې درومي - کوم لوری او کومې لارې چې د ده د پیدا کولو او تخلیق د پاره د ټاکلو هدفونو په درشل دربېږي، څومره بختور دی هغه اولسونه چې د هغوی د ذهنیتونو، دودونو او عقیدتونو قالبونه او لوښي د همدې طبیعي عمل د زغملو له زوره مات نه شي.

څلوردېرشم

| عنوان | مخ |
|---|---|
| تالنده سکون | ۸۹ |
| کیله | ۹۱ |
| بې احساس | ۹۳ |
| غزل | ۹۵ |
| غزل | ۹۶ |
| غزل | ۹۷ |
| غزل | ۹۸ |
| غزل | ۹۹ |
| لنډېزې | ۱۰۰ |
| غزل | ۱۰۲ |
| غزل | ۱۰۳ |
| د سهار ګرد | ۱۰۴ |
| زه سوزم | ۱۰۵ |
| تاته | ۱۰۸ |
| غزل | ۱۱۱ |
| ژوند | ۱۱۲ |
| غزل | ۱۱۶ |
| اراده | ۱۱۷ |
| سپین غر | ۱۱۸ |
| غزل | ۱۲۰ |
| په کلونو کې سا نه راځي | ۱۲۱ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| د شهید په پرهرونو | ۱۲۳ |
| کرېکه | ۱۲۴ |
| لنډېزې | ۱۲۶ |
| پرواز | ۱۲۷ |
| وطن | ۱۲۸ |
| دا لارې مشکلې شوې | ۱۳۰ |
| د لېونو او بنګو بهیر | ۱۳۱ |
| غزل | ۱۳۲ |
| غزل | ۱۳۳ |
| شهید ته | ۱۳۴ |
| پرېشانی | ۱۳۵ |
| سر ولاړ | ۱۳۶ |
| غزل | ۱۳۸ |
| افغان شهید ته | ۱۳۹ |
| غزل | ۱۴۳ |
| سرې جنډې مو ورله... | ۱۴۴ |
| داختر د اګل زمونږ د قربانیو | ۱۴۷ |
| همدا تاسو آزادی یئ... | ۱۴۹ |
| په وړاندې | ۱۵۲ |
| پیرشانی | ۱۵۴ |
| د کابل توره جمعه | ۱۵۶ |


www.libtool.com.cn